چنانچه پیامبر ﷺ مصداق این کلمات را مشخص ساخته فرمودند که منظور از: (مغضوب علیهم) یهود، ومنظور از (ضالین) نصاری، ومراد از کوثر در آیهء (إنا أعطیناک الکوثر) حوض کوثر، ومصداق (الصلاه الوسطی) نماز دیگر، ومنظور از قوم در آیهء سورهء مایده: (فسوف یأتی الله بقوم یحبهم ویحبونه) مردم یمن و(الخمر) شامل هر مادهء نشه آور است.[20]

## تحدید یکی از معانی کلمات مشترکه:

گاهی ورود برخی کلمات مشترکه در قرآن سبب اشکال وابهام وغلط فهمی مخاطب بوده که تفسیر نبوی باعث ازالهء این نوع اشکال وغلط فهمی ها میباشد بگونهء مثال: " عن عبد الله رضي الله عنه قال: لما نزلت ﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يَلۡبِسُوٓاْ إِيمَٰنَهُم بِظُلۡمٍ﴾[21] قال أصحاب رسول الله ﷺ أینا لم یظلم ؟ فأنزل الله ﴿إِنَّ ٱلشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيمٞ﴾[22]".[23]

" عبد الله بن مسعود رضي الله عنه می گوید: هنگامی که آیة: ﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يَلۡبِسُوٓاْ إِيمَٰنَهُم بِظُلۡمٍ﴾ یعنی کسانی که ایمان آوردند وایمان شان را با ستم، آلوده نکردند، نازل شد، یاران رسول الله ﷺ (پریشان شده،) گفتند: چه کسی از ما ظلم نکرده است؟ آنگاه خداوند این آیه: ﴿إِنَّ ٱلشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيمٞ﴾ را نازل فرمود. یعني(همانا شرك، ظلم بزرگی است).

یاران پیامبر فکر کردند که منظور از کلمة ظلم در این آیه، هرگونه ستم وگناهی است که دچار آن می‌شوند هرچند که گناهان صغیره هم باشد. پیامبر ﷺ با استشهاد به آیهء سورهء لقمان واضح ساخت که منظور از (ظلم) در اینجا شرک است.

---

**(20)** مسند احمد ج4ص 378، صحیح مسلم ج1 ص 300، 436،ج3ص 1587، مستدرك حاكم ج2 ص 342.
**(21)** سوره انعام: 82
**(22)** سوره لقمان: 13
**(23)** صحيح البخاري ج1ص21، صحيح مسلم ج1ص114.

عن عائشة رضي الله عنها قالت: إن رسول الله ﷺ قال:" ليس أحد يحاسب يوم القيامة إلا هلك. فَقُلْتُ: أَوَلَيْسَ يَقُولُ اللهُ تَعَالَى: ﴿فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ۝٨﴾(24)؟ قَالَتْ: فَقَالَ: " إِنَّمَا ذَلِكِ الْعَرْضُ وَلَكِنْ مَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ يَهْلِكْ ".(25) " عايشه رضي الله عنها روايت ميكند كه نبی اكرم ﷺ فرمود: "هر كس كه محاسبه شود، گرفتار عذاب ميگردد".

عايشه ميگويد: گفتم: مگر خداوند نه گفته است: بزودی محاسبه آسانی خواهد شد؟ آنحضرت ﷺ فرمود: "اين عَرضة اعمال است ولی اگر حساب دقيق به عمل آيد، هلاك ميگردد". واژهء (ظلم) در آيهء سورهء انعام وواژهء (حساب) در آيهء انشقاق باعث نگرانی وابهام نزد صحابه بود كه با تفسير پيامبر ﷺ اين اشكال حل گرديد.

## 3- تقييد مطلق:

مطلق لفظی را گفته ميشود كه بدون تشخيص به يک صفت معين افراد ومصداقهای كلمه را دربر ميگيرد(26) بطور مثال: لفظ "السارق" در آيهء زير بطور مطلق وارد شده كه شامل هر نوع دزدی می‌باشد - چه كم وزياد -: ﴿وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ فَٱقۡطَعُوٓاْ أَيۡدِيَهُمَا﴾(27) "دست مرد وزن دزد را قطع كنيد". پيامبر ﷺ در حديث های قولی خود" السارق" را مقيد كرده به كسی كه يک چهارم دينار يا بيشتر از آن را می‌دزدد وكسی كه كمتر از يک چهارم دينار را بدزدد، دستش قطع نمی‌شود: "تقطع اليد فی ربع دينار فصاعدا".(28) "دست دزد در برابر دزدی يک چهارم دينار وبيشتر از آن قطع می‌شود".

همچنان كلمه: "اليد" تمام اجزای دست را دربر دارد كه سنّت های عملی پيامبر ﷺ آنرا مقيد به بند دست نموده است.

---

**(24)** سوره انشقاق : 8
**(25)** صحيح البخاري ج5 ص 2394
**(26)** الوجيز ص 206
**(27)** سوره مايده: 36
**(28)** صحيح البخاري ج6 ص 2492، صحيح مسلم ج2 ص 1321

قرآن کریم بخاطر اصلاح زنان نافرمان هدایت داده است تا شوهران از ایشان در خوابگاه دوری نمایند ودر صورت عدم تأثیر آنها را بزنند: ﴿وَٱلَّٰتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَٱهۡجُرُوهُنَّ فِي ٱلۡمَضَاجِعِ وَٱضۡرِبُوهُنَّۖ فَإِنۡ أَطَعۡنَكُمۡ فَلَا تَبۡغُواْ عَلَيۡهِنَّ سَبِيلًاۗ﴾(29) "وزنانی را که از نافرمانی آنان بیم دارید [نخست] پندشان دهید و[بعد] در خوابگاه‌ها از ایشان دوری کنید و[اگر تاثیر نکرد] آنان را بزنید پس اگر شما را اطاعت کردند [دیگر] بر آنها هیچ راهی [برای سرزنش] مجویید".

ترک کردن خوابگاه وزدن زنان نافرمان در قرآن بصورت مطلق آمده که ترک کردن خوابگاه را در سطح اتاق خواب وبیرون آنرا دربر میگیرد، همانگونه که زدن شامل هر نوع لت وکوب میباشد.

در اینجا نقش سنت نمایان میگردد پیامبر ﷺ ترک خوابگاه را مقید به سطح اتاق خواب وزدن را مقید به ضرب خفیف وتأدیبی نمود: " فَاضْرِبُوهُنَّ ضَرْباً غَيرَ مُبَرِّحٍ..."(30) " به صورت نه چندان شدید آنان را بزنید ".

" وَلاَ تَضْرِبِ الْوَجْهَ وَلاَ تُقَبِّحْ وَلاَ تَهْجُرْ إِلاَّ فِى الْبَيْتِ ".(31) " به چهرهء زن مزن، چهرهء آنرا بد مگردان وتنها در سطح اتاق از خوابگاه زنان دوری نما".

## 4 - تخصیص عام:

تخصیص عام عبارت از اینست که: واژهء عام را بر برخی از افراد آن منحصر ساخته شود.(32) از مثال های تخصیص عام توسط حدیث:

**الف - از آیهء:** ﴿وَأَحَلَّ ٱللَّهُ ٱلۡبَيۡعَ ...﴾(33) اباحت داد وستد بصورت عموم دانسته میشود، ولی احادیث متعددی که در مورد بیوع فاسده وارد شده این عموم را به موارد غیرفاسده مخصوص میگرداند. (البیع از قبیل عموم است)

---

**(29)** سوره نساء:34
**(30)** صحیح مسلم ج2 ص 886
**(31)** سنن ابو داود ج2 ص210باسند صحیح.
**(32)** الوجیز فی أصول الفقه 199
**(33)** سوره بقره: 287

**ب -** قرآن کریم به تعقیب محرمات از زنان در آیه های: 22 و 23 سورهء نساء میفرماید: ﴿ وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ ذَٰلِكُمْ أَن تَبْتَغُوا۟ بِأَمْوَٰلِكُم مُّحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَٰفِحِينَ ﴾[(34)] " وغیر از این [زنان نامبرده] برای شما حلال است که [زنان دیگر را] به وسیلهء اموال خود طلب کنید در صورتی که پاکدامن باشید وزناکار نباشید". ظاهرا این آیه اباحت نکاح با تمام زنان(غیرزنان نامبرده)را افاده میکند، ولی این عموم به اتفاق اهل سنت به حدیث های زیر تخصیص یافته است:

عن أبی هریرة قال: قال رسول الله ﷺ:"لا یجمع بین المرأة وعمتها ولا بین المرأة وخالتها".[(35)] "جمع نمودن (در نکاح) بین زن وعمه‌اش، زن وخاله‌اش، جایز نیست".

عن عائشة قالت: قال لی رسول الله ﷺ :" یحرم من الرضاعة ما یحرم من الولادة".[(36)] " شیرخوارگی حرام می‌کند آنچه را که نسب حرام می‌کند".

**ج - استثناء:** ﴿ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ ٱلْمَيْتَةُ وَٱلدَّمُ ﴾[(37)] "بر شما گوشت مردار وخون، حرام شده است".

ازآیهء فوق حرمت هر نوع مردار وخون دانسته میشود، ولی از این حکم موارد زیر به دلیل حدیث ابن عمر مستثنا گردیده است:

عن عبد الله ابن عمر أن رسول الله ﷺ قال:" أحلت لکم میتتان ودمان: فأما المیتتان فالحوت والجراد. وأما الدمان فالکبد والطحال".[(38)] "دونوع مردار ودونوع خون برای ما حلال شده‌اند: دومردار عبارتند از مردار ماهی وملخ ودوخون عبارتند از: کبد وطحال".

در اینجا می‌بینیم که براساس سنّت پیامبر ﷺ بعضی از موارد، از آیهء بالا استثنا شده‌است که اگر سنّت نمی بود، ما دچار گمراهی واشتباه در این آیه می‌شدیم.

---

**(34)** سوره نساء:24
**(35)** صحیح البخاري ج5 ص 1965، صحیح مسلم ج 2ص 1028
**(36)** صحیح مسلم ج2 ص 1068
**(37)** سورة مائده:3
**(38)** سنن ابن ماجه ج 2 ص 1102، مسند احمد ج 2 ص 97 با سند صحیح (صحیح ابن ماجه ج 2 ص210

## 5 - نسخ برخی احکام قرآن:

یکی از شیوه های تفسیر قرآن به سنت اینستکه: حدیث نبوی حکم آیه را منسوخ ویامنسوخ بودن آن را مشخص می سازد.

در مورد نسخ آیه به احادیث اختلافی در میان علما ودانشمندان اسلامی وجود دارد که امام شافعی قایل به نسخ آیه به سنت بدون تأییدی از آیهء دیگر نیست[39]، ولی جمهور علما سنت را ناسخ آیه میدانند بخصوص نسخ آیه به حدیث متواتر ومشهور.

از مثال های آن آیهء: ﴿ كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِن تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ ﴿١٨٠﴾ ﴾[40]

"بر شما مقرر شده است که چون یکی از شما را مرگ فرا رسد اگر مالی بر جای گذارد برای پدر ومادر وخویشاوندان [خود] به طور پسندیده وصیت کند [این کار] حقی است بر پرهیزگاران".

حکم وصیت در حق پدر ومادر وخویشاندان که از این آیه دانسته میشود به اساس حدیث زیر از انس ابن مالک، ابوامامه وعمروبن خارجه اشعری منسوخ گردیده است[41] :"إن الله قد أعطى كل ذي حق حقه. ألا لا وصية لوارث".[42]

## 6 - اهمیت سنت در تشریع احکام جدید:

سنّت پیامبر ﷺ در زمینهء تشریع (قانون گذاری) وهدایت، دومین مرجع اسلام است، حدیث نبوی همانگونه که کیفیت، کمیت وجزئیات احکام و... را توضیح میدهد، همچنان در تشریع احکام جدید نیز نقش دارد واین تشریع در حقیقت تشریع الهی است به دلایل ذیل:

(39) الناسخ والمنسوخ از ابو جعفر نحاس ج1 ص417.
(40) سوره بقره: 180
(41) تفسیر ابن کثیر ج1 ص 263
(42) مصنف ابن ابی شیبه ج7ص 281، سنن ابن ماجه ج2 ص 906، معجم الکبیر ج8 ص8 و 414 از انس بن مالک، ابو امامه وعمرو بن خارجه اشعری.

﴿مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدۡ أَطَاعَ ٱللَّهَ﴾[43] "هر کس از پیامبر فرمان ببرد در حقیقت‌خدا را فرمان برده". وآیهء: ﴿وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ ۝٣ إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٞ يُوحَىٰ ۝٤﴾[44] " پیغمبر از سر هوس سخن نمی‌گوید، این سخن بجز وحیی که وحی می‌شود نیست ". وآیهء: ﴿وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمۡ عَنۡهُ فَٱنتَهُواْ﴾[45] "وآنچه را فرستاده [او] به شما داد آن را بگیرید واز آنچه شما را باز داشت بازایستید". به مناسبت این موضوع روایت عبد الله بن مسعود قابل ذکر است:

"عن عبدالله قال: لعن الله الواشمات والمستوشمات والنامصات والمتنمصات والمتفلجات للحسن المغيرات خلق الله. قال: فبلغ ذلك امرأة من بنى أسد يقال لها أم يعقوب وكانت تقرأ القرآن فأتته فقالت: ما حديث بلغنى عنك أنك لعنت الواشمات والمستوشمات والمتنمصات والمتفلجات للحسن المغيرات خلق الله؟ فقال عبدالله: وما لى لا ألعن من لعن رسول الله ﷺ ؟ وهو فى كتاب الله. فقالت المرأة: لقد قرأت ما بين لوحى المصحف فما وجدته. فقال: لئن كنت قرأتيه لقد وجدتيه. قال الله عز وجل: ﴿وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمۡ عَنۡهُ فَٱنتَهُواْ﴾.[46]

" از ابن مسعود - رضی الله عنه - روایت است که گفت: خدا لعنت کند زنان سوزن زننده را، زنانی را که میخواهند سوزن زده شوند وزنانی را که از دیگری می خواهند ابرویشان را اصلاح کند وزنانی که میان دندانهایشان را گشاد نموده خلقت خدا را تغییر می دهند. زنی در این مورد بر وی اعتراض نمود. اوگفت: چرا کسی را که رسول الله ﷺ لعنت کرده لعنت نکنم؟ در حالیکه آن در کتاب الله است! الله تعالی می فرماید: هر آنچه پیامبر برای شما بدهد، آن را بگیرید وآنچه شما را از آن نهی کند از آن باز ایستید ودر گذرید".

چون تحلیل وتحریم پیامبر ﷺ توسط وحی وبه دستور الله بوده؛ لذا حکم تحلیل وتحریم الهی را دارد: "عن المقدام بن معد يكرب قال : قال رسول الله ﷺ :" ألا هل عسى رجل يبلغه الحديث عنى وهومتكئ على أريكته فيقول:

(43) سوره نساء:80
(44) سوره نجم: 3-4
(45) سوره حشر: 9
(46) صحیح مسلم 3ج ص 1678

بيننا وبينكم كتاب الله فما وجدنا فيه حلالاً استحللناه وما وجدنا فيه حراماً حرمناه وإن ماحرم رسولُ الله ﷺ كما حرم الله".(47)

"شايد دستوری از دستورات، من ـ آنچه بدان امر كرده ويا از آن نهی كرده‌ام ـ به شخصيكه بر جايش تكيه داد برايش بيايد وبگويد: در ميان ما وشما قرآن است، حلال آنرا حلال پنداشته وحرام آنرا حرام می پنداريم. بی ترديد آنچه را كه پيامبر ﷺ حرام كرده مانند محرمات الهی است".

## نصوص سنت در زمينهء تشريع احكام بر سه دسته تقسيم ميگردد:

**1** ـ سنتی كه مؤيد احكام قرآن است واز لحاظ اجمال وتفصيل، با كتاب الله موافق ميباشد. مانند احاديثی كه صرفاً وجوب نماز، زكات وروزه را می رسانند وهيچ اشاره ای به شرايط واركان آنها ندارد، چنين احاديثی كاملاً با كتاب الله موافق است. مانند حديث:"بنی الإسلام علی خمس شهادة أن لا إله إلا الله وأن محمداً رسول الله وإقام الصلوة وإيتاء الزكاة وصوم رمضان وحج البيت من استطاع إليه سبيلاً".(48)

" اسلام بر پنج چيز استوار شده است: اقرار به شهادتين، اقامه نماز، ادای زكات، روزه رمضان وحج خانه خدا برای كسی كه بتواند واستطاعت داشته باشد". اين حديث با آيات ذيل كاملاً مطابق است:

﴿وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ﴾(49) "ونماز را برپای بداريد وزكات بدهيد". ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ﴾(50) " ای مؤمنان! روزه بر شما فرض شده همچنانكه بر گذشتگان شما فرض شد". ﴿وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلۡبَيۡتِ مَنِ ٱسۡتَطَاعَ إِلَيۡهِ سَبِيلٗاۚ﴾(51) " حج خانه خدا، واجب الهی است برای كسانی كه توانايی رفتن به آنجا را دارند".

---

**(47)** سنن ترمذي ج 5 ص 38 با سند صحيح.
**(48)** صحيح البخاری ج1 ص1، صحيح مسلم ج 1ص34.
**(49)** سوره بقره: 83
**(50)** سوره بقره: 183
**(51)** آل عمران، 97.

**2 - نوع دوم،** احادیثی است که بیانگر احکام قرآن از لحاظ تقیید مطلق، تفصیل مجمل وتخصیص عام و... می باشد مانند احادیثی که احکام نماز، روزه، زکات، حج وبیوع، معاملات و... را بیان می کند که در قرآن به صورت مجمل امده است. اغلب روایات واحادیث از این نوع است.

**3 - قسم سوم** احادیثی که بیانگر حکمی می باشد که در قرآن نه تصریح شده ونه منتفی شده است. مانند احادیث دال بر حرمت جمع بین زن وعمه یا خاله اش واحکام شفعه، رجم زانی متأهل، تبعید زناکار مجرد، مسأله ارث جده و...[52]

از مثال های تشریع جدید: حرمت گوشت حیوان درنده‌ای که دارای دندانهای تیز (شکاری)، وهر نوع پرنده‌ای که دارای چنگال، خر اهلی و... است که در آیهء زیر وامثال آن (مانند آیه های: 173 سورهء بقره، آیهء سوم سورهء مایده وآیهء 115 سورهء نحل) هیچ نوع اشاره ای به آن نشده است: ﴿قُل لَّآ أَجِدُ فِي مَآ أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٖ يَطۡعَمُهُۥٓ إِلَّآ أَن يَكُونَ مَيۡتَةً أَوۡ دَمٗا مَّسۡفُوحًا أَوۡ لَحۡمَ خِنزِيرٖ فَإِنَّهُۥ رِجۡسٌ أَوۡ فِسۡقًا أُهِلَّ لِغَيۡرِ ٱللَّهِ بِهِۦۚ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا عَادٖ فَإِنَّ رَبَّكَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١٤٥﴾[53] "بگودر آنچه به من وحی شده است بر خورنده‌ای که آن را می‌خورد هیچ حرامی نمی‌یابم مگر آنکه مردار یا خون ریخته یا گوشت‌خوك باشد که اینها همه پلیدند یا [قربانیی که] از روی نافرمانی [به هنگام ذبح] نام غیر خدا بر آن برده شده باشد پس کسی که بدون سرکشی وزیاده‌خواهی [به خوردن آنها] ناچار گردد قطعا پروردگار توآمرزنده مهربان است".

حدیث های متعددی در مورد حرمت چیزهای مختلفی وجود دارد که در این آیه ذکر نشده است؛ اگر حدیث پیامبر ﷺ نمیبود، این چیز های حرام را حلال می پنداشتیم: عن ابن عباس قال: نهی رسول الله ﷺ عن کل ذی ناب من السباع وعن کل ذی مخلب من الطیر".[54] " پیامبر ﷺ خوردن هر نوع حیوان درنده‌ای که دارای دندانهای تیز شکاری وهر نوع پرنده‌ای که دارای چنگالها وناخنهای خم شده وتیز شکاری باشد، منع کرده است".

---

**(52)** امام شافعی، الرسالة 91

**(53)** سوره انعام:145

**(54)** صحیح مسلم ج3 ص 1534

عن ابن عمر: " أن رسول الله ﷺ نهى يوم خيبر عن لحوم الحمر الأهلية ".[55]
" روز جنگ خیبر پیامبر ﷺ از خوردن گوشت خر اهلی منع کرد".

همچنان آیهء زیر بیانگر اباحت زینت ها است بدون کدام استثنا وبدون اینکه به فرقی بین مرد وزن اشاره داشته باشد: ﴿قُلۡ مَنۡ حَرَّمَ زِينَةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِيٓ أَخۡرَجَ لِعِبَادِهِۦ وَٱلطَّيِّبَٰتِ مِنَ ٱلرِّزۡقِۚ﴾[56] "بگوچه کسی حرام کرده این زیت وروزی پاک را که خداوند در زمین برای بندگانش قرار داده است".

اگر این آیه بدون در نظر داشت حدیث نبوی تفسیر گردد، باید طلا وابریشم برای مردان نیز مباح باشد؛ چون نوعی از زینت است. اما حدیث واضح میسازد که این دونوع زینت مخصوص زنان بوده وبرای مردان حرام است: عن علی رضی الله عنه قال: رأَيْتُ رَسُولَ اللَّه ﷺ أَخَذَ حَرِيرا، فَجَعلَهُ فی يَمينه، وَذَهَباً فَجَعَلَهُ فی شِمالِه، ثُمَّ قَالَ: "إنَّ هذَيْنِ حرَامٌ عَلَى ذُكُورِ أُمَّتی".[57] "از علی رضی الله عنه روایت شده که گفت: رسول الله ﷺ را در حالی دیدم که ابریشمی را گرفته وبه طرف راستش نهاده وطلائی را گرفته ودر طرف چپش نهاده وسپس فرمود: این دوبر مردان امتم حرام است".

این همه مثالها بیانگر نقش سنت در تفسیر قرآن واهمیت آن در تشریع اسلامی است. افزون بر گذشته نمونه های زیاد دیگری نیز وجود دارد واین حقیقت را روشن میسازد که: بدون سنّت نمی توانیم معنای دقیق ودرست آیات قرآن را بفهمیم.

## نتیجه:

## بعد از این بررسی در یک جمع بندی کلی می توان گفت:

**1** - آیهء: ﴿وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلذِّكۡرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيۡهِمۡ وَلَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ﴾[58] پیامبر ﷺ را مفسر وبیانگر قرآن معرفی نموده است که پیامبر ﷺ علاوه بر رساندن کتاب

---

**(55)** صحیح البخاری ج4 ص 1544، صحیح مسلم ج2ص 1037
**(56)** سوره اعراف: 32
**(57)** سنن ابوداود ج 4ص89، سنن ترمذی ج 4ص217 با سند صحیح.
**(58)** سوره نحل:44

خدا به مردم، وظیفه دیگري نیز داشت که عبارت است از: توضیح وشرح قرآن، تفصیل احکام مجمل وبیان قواعد عام آن؛ بنابراین مسلمانان علاوه برشناخت کتاب الله لزوماً به بیان پیامبر ﷺ نیز نیازدارند.

**2** - تفسیر پیامبر ﷺ شامل همه بخشهای قرآن از قبیل: تفصیل مجمل، تقیید مطلق، توضیح مبهم، تخصیص عام و... میباشد. بطور مثال نمی توانیم کیفیت، عدد رکعات، شرایط، ارکان، آداب وسایر احکام واوقات نماز را درک نماییم. اگر این امور در حدیثها مشخص نمیگردید، امت اسلامی از انجام این عبادت بزرگ به صورت مطلوب عاجز میماند. وهمچنان نمیتوان بدون در نظر داشت احادیث، فریضهء حج، زکات وسایر عبادت ها را - طوریکه خداوند از بندگانش خواسته است- انجام داد.

**3** - در مواردی از قرآن ابهام واشکالی در فهم کلمه، جمله وگاهی مصداق بعضی آیات وجود دارد که نمیتوان مصداق این کلمات وجملات را با رجوع به فرهنگ ها ولغت نامه ها مشخص ساخت، جز از زبان کسیکه قرآن به اونازل شده ومسؤولیت تبلیغ وتبین آن برعهدهء اوسپرده شده است.

**4** - گاهی ورود برخی کلمات مشترکه در قرآن سبب اشکال وابهام وغلط فهمی مخاطب بوده که تفسیر نبوی باعث ازالهء این نوع اشکال وغلط فهمی ها میباشد.

**5** - یکی از شیوه های تفسیر قرآن به سنت اینستکه: حدیث نبوی حکم آیه را منسوخ ویا منسوخ بودن آن را مشخص می سازد.

**6** - سنّت پیامبر ﷺ در زمینهء تشریع (قانون گذاری) وهدایت، دومین مرجع اسلام است، حدیث نبوی همانگونه که کیفیت، کمیت وجزئیات احکام را توضیح میدهد، همچنان در تشریع احکام جدید نیز نقش دارد؛ واز اینکه تحلیل وتحریم پیامبر ﷺ توسط وحی وبه دستور الله بوده؛ لذا حکم تحلیل وتحریم الهی را دارد.

## منابع:

1 - قرآن کريم.
2 - البانی: محمد ناصرالدين، صحيح ابن ماجه، المکتب الاسلامی – بيروت، چاپ سوم، 1408هـ.
3 - بخاري: محمد بن اسماعيل، الجامع الصحيح، دار ابن كثير- بيروت، 1407هـ.
4 - ترمذی: محمد بن عيسى، أبوعيسى، السنن، دار احياء التراث العربي - بيروت.
5 - ابن حنبل: ابو عبد الله، احمد، المسند، مؤسسه قرطبه - القاهره.
6 - زُحَيْلِی: وَهْبَه، الوجيز فی أصول الفقه، دار الفكر- دمشق، 1995م.
7 - سجستانی: ابو داود سليمان بن اشعث، السنن، دار الكتاب العربي - بيروت.
8 - شافعی: محمد بن ادريس، الرسالة، مکتبه الحلبي - مصر.
9 - ابن أبي شيبة: أبو بكر، عبد الله بن محمد، المصنف، مكتبة الرشد - الرياض، 1409هـ.
10 - طبرانی: سليمان بن أحمد بن أيوب، أبو القاسم، المعجم الكبير، مكتبة العلوم والحكم - الموصل، 1983م.
11 - ابن كثير: أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي الدمشقي، تفسير القرآن العظيم، دار الفكر- بيروت، 1994م.
12 - ابن ماجه: ابو عبد الله محمد بن يزيد القزوينی، السنن، تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقی، دار إحياء الكتب العلميه - القاهره.
13 - نسائي: أحمد بن شعيب أبو عبد الرحمن، المجتبى من السنن، مكتب المطبوعات الإسلاميه – حلب، 1406هـ
14 - نحاس، أبو جعفر أحمد بن محمد بن إسماعيل، الناسخ والمنسوخ في كتاب الله، مؤسسة الرسالة، بيروت، 1991م.
15 - نيشاپوری: أبو عبد الله، الحاكم، المستدرک علی الصحيحين، حلب - مكتب المطبوعات الإسلامية.
16 - نيشاپوری: مسلم بن حجاج القشيری، الصحيح، دار احياء التراث العربي - بيروت.

* * *

# د غربي تمدن نړيوال لرليد، تاريخي شاليد، او اغيزې
# (لومړۍ برخه)

**پوهنوال دکتور مصباح الله عبد الباقي**

د سلام د لوړو زده کړو د مؤسسې د شرعياتو او قانون د پوهنځي استاذ
او د سلام څېړنيزې مجلې د تحرير مدير

کابل - افغانستان

**مقدمه :**

الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين و على آله و أصحابه و من دعا بدعوته الى يوم الدين، وبعد.

په دې کې شک نشته چې هر تمدن په حقيقت کې په يوې عقيدې باندې ولاړ وي، د تمدن هر اړخ، که هغه سياسي وي که اقتصادي، عسکري وي او که اجتماعي، د همدې عقيدې او نړۍ او کائناتو په باب د خپل لرليد څخه سرچينه نيسي، دا يو داسې حقيقت دی چې هيڅ څوک هم ورڅخه انکار نشي کولی.

له بل پلوه دا هم يو حقيقت دی چې د تاريخ په دې پړاو کې اسلامي امت د قوت په هغه مرحله کې نه دی چې د نړۍ قيادت وکړي، بلکې په ډېرو ميدانونو او په ډېرو هيوادونو کې خو د وروسته پاته والي په داسې مراحلو کې قرار لري چې تصور يې هم انسان له شرم سره مخامخ کوي، نو دا يوه طبعي مسأله ده چې هر درد لرونکی انسان بايد په دې باب فکر وکړي چې څنګه مسلمان ملتونه او هيوادونه د وروسته پاتې والي له دې بد حالت څخه را وباسي، اسلامي امت د وروسته پاتې والي او تخلف له کندې څخه را بيرون شي ترڅو د بشريت په قيادت کې، او د بدبختيو څخه په ژغورلو کې خپله ونډه ولري.

ددې ترڅنګ دا هم حقيقت دی چې (د ارزښتونو د لوی بحران سره سره) غربي نړۍ او غربي تمدن په اقتصادي لحاظ يوه غښتلې ټولنه د ټکنالوجۍ په

لحاظ پرمخ تللی ټولنه، او د اداري نظام په لحاظ یوه مستقره ټولنه رامنځ ته کړې ده، په ظاهري او مادي لحاظ چې د غرب اوسیدونکی څه غواړي هغه ورته مهیا دي.

د همدې ظاهري مقایسې په نتیجه کې یو شمیر خلک او په ځانګړې توګه ځوانان په دې ابتلاء او ازمیښت کې پریوتې دې چې کله د اسلام روغو بنسټونو ته ګوري او بیا د مسلمانانو وروسته پاتې والي ته ګوري او په عین وخت کې په مادي لحاظ د غرب پرمختګ ته ګوري نو صحیح لاره یې له نظر څخه غائبیږي، او داسې تصور کوي چې د کامیابۍ او پرمختګ لاره هماغه ده چې غرب پرې تللی دی، دوي تصور لري چې که عالم اسلام د وروسته پاتې والي څخه بیرون راوتل وغواړي نو باید د غرب منهج او تګلاره خپله کړي، په هغه لار ولاړ شي چې غرب پرې تللی دی او دی مرحلی ته رسیدلی دی، او په خپلو ټولنو کې هغه ارزښتونه خپل کړي چې په غرب کې حاکم دي، او دا له دې سره سره چې دوی د کلک ایمان دعوی هم لري، او تصور یې دا دی چې دا دواړه (دغربي تګلارې خپلول، او متدین پاتې کیدل) سره کوم تناقض او تضاد نه لري، مګر دا ټول خلک چې د غربی تمدن څخه متأثر او اغیزمن دي، او غواړي مسایلو ته د هغوی په څیر کتنه وکړي، او په عین حال کې د ایمان دعوه هم لري، په حقیقت کې په داسې شدید تناقض کې ژوند کوي چې د سلیم عقل دخښتن لپاره هیڅ کله د منلو وړ نه دی، او دا ځکه چې غربي تصور په حقیقت کې په الحاد باندې مبني دی، او دی د ایمان دعوا لري، او ایمان او الحاد نه جمع کیدونکی شیان دی، او شاید همدا یوه عقلي قضیه (چې متناقض شیان سره نه جمع کیږی) داسی یوه قضیه وي چې د ټولو عقلاو پرې اتفاق دی، مګر داسې خلک ددې قاعدې هم مخالفت کوي.

نو په همدې دلیل دلته یو مفصل بحث ته اړتیا لیدل کیږي چې پکی دا وڅیړل شي چې اوسنی غربی تمدن چی په کومو بنسټونو ولاړ دی او هغه مادي پرمختګونه چې نن ورځ ورته انسان د غربي نړۍ په قیادت کی رسیدلی دی هغه یې څنګه ترلاسه کړي دي؟ څرنګه چې دا ټول پرمختګونه د علم (ساینس) کارنامه ده، نو باید دا ولیدل شي چې نوی ساینس په څه بنسټ بناء دی؟ او دا له کوم دین سره په ټکر کې واقع ؤ؟ او په ټکر کې د واقع کیدلو اصلي لامل او

سبب يې څه ؤ؟ تر څو دا معلومه شي چې آيا د ساينس د خپلولو او په مادي لحاظ د پرمختګ لپاره د اسلام پرېښودل همداسې اړين دي لکه څنګه چې غربې تمدن خپل دين پرېښود او د غيبياتو څخه يې انکار وکړ؟ او بيا وروسته ددې ليدل پکار دي چې هغه بنسټيزې عقيدې او هغه لرليد څه دی چې په هغې د غرب د نوي تمدن ټول عمارت ولاړ دی، او دا لرليد په څه ډول د اسلام سره په تناقض کې واقع دی؟.

**همدې سوالونو ته د ځواب د لټولو په موخه په دې لنډ بحث کې ددې کوښښ شوی دی چې لاندې ټکي پکې په لنډ ډول توضيح کړی شي:**

**لومړی:** هغه دين چې حضرت عيسی عليه السلام د الله تعالی له لوري د بشريت د هدايت لپاره راوړی ؤ، هغه په هماغه پيل کې له تحريف سره مخامخ شو، او ډير لاملونه داسې برابر شول چې هغه دين تحريف شي او په خپله اصلي بڼه پاتې نه شي، بلکه هلته يو بل دين د پولس په لاس رامنځته شو چې د حضرت عيسی عليه السلام د راوړي دين ځای يې ونيوه، دی دين ته موږ د کليسايي دين نوم ورکولی شو (په دې معنی چې د حضرت عيسی عليه السلام د راوړي دين او د کليسايي دين ترمنځ بشپړ تناقض او توپير وجود درلود).

**دويم:** همدا تحريف شوی نصرانيت په اروپا کې داسې خپور شو چې تقريبا ټوله اروپا يې تر خپلې اغيزې لاندې راوستله.

**دريم:** دا نصرانيت چې په اروپا کې خپور شوی ؤ، څرنګه چې انساني افکار د هغې بنسټيزه برخه ګرځيدلي ؤ، او ورسره پکښې د کليسا د مشرانو لپاره د طغيان او سرکشۍ ټول اسباب برابر ؤ، نو د منځنيو پيړيو په پای کې ډير داسې اسباب او لاملونه برابر شول چې د اروپا خلک په عامه توګه او مثقف قشر په ځانګړی توګه د دې کليسايي دين په مقابل کې ودريږي، او د هغی پر ضد دريځ غوره کړي، په عامه توګه د کليسا او کليسايي دين سره د مخالفت دريځ، او د هغی پر ضد پاڅون په حقيقت کې د کليسايي دين د بشري طبيعت، د کليسا د ظلمونو او استبدادونو په مقابل کې د يو رد عمل حيثيت درلود، دا په حقيقت کی د کوم الهي دين پر ضد د انسانانو په مخالفت او مخالف دريځ، او پاڅون دلالت نه کوي.

**څلورم:** کلیسا په ډیر شدت سره هغه خوځښتونه ځپل چې په علمي لحاظ د ټولنی د پرمختګ لپاره راپورته شوي ؤ، او دا ځکه چی دا د کلیسا د تحریف شوي دین سره په ټکر کې واقع شول، او علمي بحثونه یې داسې نتائجو ته ورسیدل چې د کلیسا د عقائدو خلاف ؤ، د کلیسا له پلوه دې علمي استبداد لا پسې د علمي نړۍ او کلیسایي دین ترمنځ واټن پراخه کړ.

**پنځم:** ددې پرځای چې د هغه وخت پوهه او مثقف خلک دې نتیجې ته رسیدلي وي چې دا اختلاف د علم او د کلیسا د تحریف شوي دین ترمنځ دی، له بده مرغه دې نتیجی ته ورسیدل چې دا اختلاف د مطلق دین او علم (ساینس) ترمنځ دی، له دې امله دا مثقف قشر د مطلق دین په مخالفت کې ولوید، او د الحاد لپاره لاره هواره شوه، او په دی توګ ددی مثقف قشر تر اغیزی لاندی د اروپا عام وګړي او د غرب ټوله تمدني پروسه هم ورو ورو د الحاد په لمن کې پریوته.

**شپږم:** دا الحادي نظریات لومړی په انفرادي ډول د بیلا بیلو فلسفیانو په نظریاتو کې راڅرګند شول، چې وروسته یې بیا د طبیعي یا ربوبي دین (Deism) په شکل کې د الحاد په لومړي پړاو منتج شو، او دې ته مو لومړی پړاو ځکه ووایه چې په دی کې د الله تعالی له وجود پرته د نور هر ډول ما وراء طبیعي وجود نفي شوې، د پرښتو، معجزاتو، پیغمبرانو، د الله له لوری رالیږل شوي دین انکار ددی دین بنسټیز اصول تشکیلوي، همدا راز د الله تعالی د معرفت قضیه هم عقل او طبیعي دلایلو ته سپارل شوی وه.

**اووم:** له دې وروسته بیا دا تمدن په بشپړ الحاد کې پریوت، چې هغې ته کله شمولي سکولریزم، ویل کیږي، او کله ورته د یوې او بلې فلسفی نوم ورکول کیږي، مګر بنسټیز عقائد او افکار یې مشترک دي او هغه بشپړ الحاد او د غیبیاتو څخه انکار او یا هم هغه په داسی توګه تجاهل کول چی په انساني ژوند هیڅ ډول اغیزه ونه لري.

**اتم:** د الحاد هغه وروستنی شکل څه دی چې اوسنی غربي تمدن پرې ولاړ دی؟ دا په پای کې ذکر شوی دی، چونکه دا کائنات د درې موجوداتو څخه جوړ دی:

لومړی: ددې کائناتو خالق. دویم: په دې نړۍ کې هغه متمیز مخلوق چې الله تعالی د نورو مخلوقاتو څخه پرته هغه ته د عقل نعمت ورکړی دی (یعنې انسان). او دریم: ټول مادي شیان او طبیعت.

ددې درې واړو عناصرو په باب د غربي تمدن د بنسټیزو جهتونو افکار وړاندې شوي دي چې هغه په بنسټیزه توګه الحادي افکار دي، همدا د غربي تمدن لرلید دی. د دې الحادي افکارو ترڅنګ د غربی تمدن څه ایجابي تصورات او معتقدات هم ذکر شوي دي، مګر اصل هدف هغه الحادي تصورات ذکر کول ؤ چې د هغې پر بنسټ دا تمدن ولاړ دی، تر څو د اسلامي تمدن سره یې توپیر په ګوته شي.

**نهم:** ددې معنی دا نه ده چې د غرب د تمدن سره زموږ تعامل باید د مکملې مقاطعې تعامل وي، دا کار نه معقول او نه هم ممکن دی، په تمدنونو کې علمي پرمختګونه د بشریت لاس ته راوړنې دي، دا د کوم تمدن پورې ځانګړې اړه نه لري، په شرق کی تمدن را وټوکیده، یوناني تمدن د هغی پر بنسټ پرمختګونه درلودل، د هغو پر بنسټ اسلامي تمدن نور پرمختګونه وکړل، او د اسلامي امت د پرمختګونو پر بنسټ غرب د خپل تمدن او پرمختګ ماڼۍ تعمیر کړه، اوس که اسلامي امت له دوي څخه ټکنالوجی اخلي نو دا د بشریت د تجاربو څخه استفاده ده، او اسلامي امت باید په دې کې د هیڅ تردد څخه کار وانه خلي، او هر ډول ممکنه استفاده ترې وکړي، خو دا باید په پام کې ونیسي چې ټکنالوجی منتقله کړي، نه د غربي تمدن اخلاقی او عقیدوي انتاجات، او د ټکنالوجی په انتقال کې غرب باید داسې قیود وضع نه کړي چې دا کار مشکل وګرځوي، لکه څرنګه چې اسلامي امت غرب ته د ټکنالوجۍ په انتقال کې د بخل څخه کار وانه اخیست.

ددې ترڅنګ بل شی چې هغه د غربي تمدن تر شا پروت لرلید او د غربي تمدن هغه روح چې هغه د الحاد او د دین دښمنۍ څخه عبارت دی، هغه انتقالول او پر هغې باندې د خپل پرمختګ تعمیر درول د اسلام د اصولو سره په بشپړ تعارض او تناقض کې واقع کار دی، ددې د انتقال څخه مسلمان باید ځان وساتي، او دا هغه وخت نقل کیږي چې د تصفیې او فلتر څخه پرته فکري،

اجتماعي، سیاسي او اقتصادي نظامونه کاپي کړای شي، او په عالم اسلام کې د هغو د تطبیق کولو هڅې صورت ونیسي، د مالک بن نبي په اصطلاح : (هغه افکار چې د تصفیې او فلتر څخه پرته د غرب څخه اخیستل شوی وي) هغه وژونکي افکار دي، او هغه افکار چې په وراثي توګه موږ ته راپاتې دي او د پرمختګ په مخکې خنډ واقع کیږي هغه مړه افکار دي، مالک بن نبي وایي چې د مړو افکارو تصفیه او دوژونکو افکارو فلتر کول د ترقی او پرمختګ لومړی شرط دی.

دا هم باید له یاده ونه باسو چې تمدنونه د خلکو د انتاجاتو په کاپي کولو نه دریږي، بلکه د تمدنونو د رامنځ ته کولو او جوړولو لاره دا ده چې د نورو څخه مهارتونه، ټیکنالوجي، علم او معرفت زده کړای شي، او بیا د هغې په وسیله د خپلو عقایدو په رڼا کی په تدرج سره د خپل تمدن عمارت لوړ کړی شي.

په دې بحث کې ددې هڅه شوې چې د غربي تمدن فکري بنسټ چې الحاد دی، واضح کړای شي، ددې د نقد هڅه نه ده شوې، د څېړونکي په اند د غربي تمدن سره د بابصیرته تعامل لپاره دا کفایت کوي چې مسلمان په دې پوهه شي چې د غربي تمدن دا فکري بنسټ (الحاد) د هغه له عقیدی سره په تناقض کې واقع دی.

څرنګه چې دا بحث د غربي فکر د بنسټونو د واضح کولو او څرګندولو لپاره لیکل شوی دی، له دې امله په دی رابطه پر هغو مصادرو او مراجعو اعتماد شوی دی چې د غربي تمدن د نمایندګانو له لوری لیکل شوي دي، او له هغوی څخه اقتباسات شوی دي، ترڅو داسې څه هغوی ته منسوب نشي چې د هغوی نظر او رای نه وي.

په دې لیکنه کې ددې هڅه شوې چې موضوع په ژوره توګه وڅیړل شي، او په انصاف ورسره چلند وشي، بیا هم انسان تر خپله وسه (وسع) پړ دی، نو که په دې لیکنه کې غلطي وي د هغې په ګوته کول به د لیکونکی سره مرسته او احسان وي، الله تعالی دې مونږ ته د حق پیژندلو او په حق د عمل کولو توفیق را نصیب کړي.

## لومړی: اروپا او د کلیسا تحریف شوی دین

د غربي تمدن د الحادي لر لید لپاره څنګه زمینه برابره شوه؟ ددې لپاره به یو ډېر ځغلنده نظر په اروپا کې د مسیحیت په تاریخ او بیا د منځنیو پیړیو په اروپا باندې اچول پکار وي، اوس دا سوال چې دې الحادي تمدن ته څرنګه په اروپا کې د وجود او خپریدو زمینه برابره شوه؟ ددې لپاره لومړی په دې پوهیدل پکار دي چې دا تمدن په لومړي سر کې د هغه مسیحیت رد فعل ؤ چې په اروپا او غرب کې یې په خلکو حکومت کاوه، ددې لپاره چې په دې پوه شو چې هغه عمل څه ؤ چې د هغی په مقابل کې داسې غبرګون منځ ته راغی؟ نو لومړی باید هغه مسیحیت یا په بل عبارت هغه کلیسایي دین و پیژنو چې هلته یې حکومت کاوه، بیا هغه حالت باندی یو ځغلنده نظر واچوو چې په منځنیو پیړیو کې د کلیسایی دین تر حاکمیت لاندی په اروپا او غرب کې حاکم ؤ او وروسته دا وګورو چې څرنګه نوي غربي تمدن د منځنیو پیړیو د نصرانیت او مدرسي حکمت او فلسفی ځای ونیوه، او په څه توګه د یو تحریف شوي دین د تشدد او استبداد په نتیجه کې د اروپا او غرب ټوله تمدني پروسه او ټول وګړي د الحاد په لمن کې پریوتل؟.

## د حضرت عیسی علیه السلام بعثت او اصلي دین

کله چې حضرت عیسی علیه السلام دنیا ته راغي او د پیغمبر په حیث مبعوث شو، نو د فلسطین منطقه هغه وخت د رومانیانو لخوا اداره کیدله، نو کله چې حضرت عیسی علیه السلام خپل دعوت پیل کړ، په پیل کې خو یې د یهودي شریعت سره سم د خلکو د اصلاح کوښښ کاوه، مګر وروسته یې چې کله د الله تعالی په حکم په یهودي شریعت کې بیلا بیل اصلاحات پیل کړل نو یهودانو (چې د روماني قانون سره سم یې خپلې داخلي چارې پخپله اداره کولې) د رومیانو څخه غوښتنه وکړه چې دا شخص چې د پیغمبرۍ دعوه لري خلک ګمراه کوي، باید ددې مخنیوی صورت ونیسي، ولې رومیانو د هغه قانون سره سم (چې یهود به خپلې دیني قضایا پخپله حل کوي او رومیان به پکښې هیڅ ډول لاس وهنه نه کوي) په پیل کې د یهودانو په شکایت هیڅ ډول اهتمام ونه کړ، چونکه پخپله حضرت عیسی علیه السلام او د هغه موحد او خدای پرسته پیروان د الله جل جلاله څخه پرته له بل چا څخه نه ویریدل، نو د یهودانو سره سره یې خپل

دعوت ته ادامه ورکړه، او د رومیانو د مستضعفو ټولنو سره یې اړیکي ټینګې کړې چې په نتیجه کې یې د رومیانو د ظلم پر ضد پاڅونونه پیل شول[1]، ددې پاڅونونو په نتیجه کې یهودان له یوې خوا له دی څخه ویریدل چې هغه نیمه آزادي (د رومیانو په امپراطورئ کې داخلي دیني آزادي) چې د رومیانو په امپراطورئ کې هغوی ته تر لاسه وه، له لاسه ور نکړی، او له بلې خوا دحضرت عیسی علیه السلام لخوا په یهودی شریعت کې د تعدیلاتو، بدلونونو او اصلاحاتو سره په بشپړه توګه مخالف ؤ، او د حضرت عیسی علیه السلام لخوا د هیکل د له منځه وړلو قضیې[2] هم د هغوی حساسیت راپارولی وه، همدا راز یهودان له دې څخه ویریدل چې د حضرت عیسی علیه السلام تحرکات او دعوت رومیان داسې تلقي نه کړی چې دا د یهودانو لخوا د آزادئ خوځښت دی چې په نتیجه کې به یې یهودان هغه ټولې آزادئ له لاسه ورکړې چې هغه وخت ورته حاصل وې، او د رومیانو د غضب او انتقام سره به مخامخ شي، ددې ټولو اسبابو له امله یهودي دیني شخصیتونه او حاخامات راټول شول تر څو د حضرت عیسی علیه السلام په رابطه تصمیم ونیسي، په اجتماع کې لوی حاخام وویل: (بهتره دا ده چې د ټول ملت د هلاکت پرځای یوازې یو انسان (حضرت عیسی علیه السلام) له منځه ولاړ شي)[3] عیسی علیه السلام ته چې کوم اتهام متوجه کړای شو هغه دا ؤ چې هغه د هیکل د تخریب او له منځه وړلو اراده درلوده، حضرت عیسی علیه السلام له خپلو حواریونو سره یوځای په یو کور کې پټ ؤ، چې په دې وخت کې د هغی یو ملګری چې (یهوذا الاسخریوطی) نومیده منحرف شوی ؤ، همدې د هیکل محافظینو ته د حضرت عیسی علیه السلام په باب معلومات ورکړل، چې د هغه په نتیجه کې الله تعالی د یهوذا الاسخریوطی شکل د حضرت عیسی علیه السلام په څیر وګرځاوه، همدا وه چې دا دحضرت عیسی علیه سره د مشابهت له امله د حضرت عیسی په شُبه کې ونیول شو، او همدا اعدام کړای شو، او حضرت عیسی علیه السلام ـ د قرآن کریم د تصریح

(1) تفصیل لپاره وګوری قصة الحضارة ج ۱۱ ص ۲۳۰ ـ ۲۳۱، تالیف: ویل دیورانت، ترجمه: محمد بدران، طبع دار الجیل، بیروت، وتونس.

(2) د حضرت عیسی علیه السلام د محاکمی په وخت کی په دی هم متهم شوی وه چی هغی د یهودانو د معبد هیکل سلیمانی د ورانولو هڅه کوله او د هغی د ورانولو تهدید یی کړی وه. قصة الحضارة ج ۱۱ ص ۲۳۶.

(3) قصة الحضارة ج ۱۱ ص ۲۳۵.

سره سم ـ آسمان ته پورته کړای شو، څرنګه چې د حضرت عیسی علیه السلام اصلي موحد اتباع د یهودانو او یونانیانو لخوا د شدید تعقیب لاندې ؤ، او په ازادۍ سره یې نه تبلیغ کولی شو، او نه د انجیل کومه برخه یی د ځان سره درلودلی شوه، نو په شفوي توګه یې د حضرت عیسی علیه السلام تعلیمات خلکو ته رسول، بناء دا تعلیمات د وخت په تیریدو سره په خپل اصلي شکل کې پاتې نه شول[4]، او تحریف پکښې رابښکاره شو، ددې تحریف ډیر اسباب ؤ، چې تر ټولو مهم یې دا لاندې اسباب بللی شو:

## د تحریف لومړی لامل: د پخوانیو ادیانو او فلسفو تاثیر

هغه افکار، وثني ادیان، او فلسفي نظریات چې په هغه وخت کې په یونان، روم، اسکندریه او فارس کې رائج ؤ په ډیره مؤثره توګه په مسیحیت کې د تحریف لامل وګرځیدل[5]، او دا په دې شکل چې د حضرت علیسی علیه السلام د موحدو اتباعو د ظلم او تشدد په نتیجه کی د صحنی څخه د غائبیدولو نه وروسته چې کومو خلکو د نصرانیت تبلیغ په غاړه واخیست هغوی ددې افکارو، ادیانو او فلسفو څخه په ډیره ژوره توګه اغیزمن ؤ، چونکه د حضرت عیسی علیه السلام موحد او حقیقي اتباع تر درې پیړیو پورې د تعذیب او تعقیب لاندې ؤ، او د حقیقي دین د رسولو فرصت یې و نه مونده، نو بناء د مسیحیت په نوم دې تحریف شوي دین ته د خپریدلو په بشپړه توګه زمینه برابره شوه، د بیلګې په توګه یو د هغو کسانو څخه چې د رسولانو په نوم شهرت لري او مسیحیت ته یی په نوې بڼه ورکولو کې خورا زیات لاس درلود او د پخوانیو افکارو او ادیانو او فلسفو څخه متاثر ؤ، پولس یا (شاوول) ؤ، چې د میلاد په لسم کال په طرسوس کې پیدا شوی ؤ، د یهودانو د (فریسیانو) د طائفې سره یې اړیکې درلودې، او پلار یې د روم تابعیت هم درلود، په پیل کې پولس ډیر سر سخته یهودي ؤ، او د مسیحانو په تعذیبولو او ځپلو کې یې خورا زیاته ونډه درلوده، لیکن بې له کومو مقدماتو یو ناڅاپه د یهودیت څخه نصرانیت ته ور واوښت ـ سره له دې چې تر اخره پورې

(4) د دی تعذیبونو د تفصیل لپاره وګوری : محاضرات فی النصرانیة ص ۳۶ و ما بعدها، طبع الرئاسة العامة لادارات البحوث العلمیة، والافتاء، والدعوة والارشاد، الریاض ـ المملکة العربیة السعودیة، الطبعة الرابعة، کال ۱۴۰۴هـ.
(5) د دی تفصیل لپاره وګوری: محاضرات فی النصرانیة ص ۴۱ او له دی وروسته.

يې فريسى يهودي ډلې ته په انتساب فخر كاوه ـ پولس هغه شخص دى چې اوسني نصراني عقايد تقريبا ټول هغه جوړ كړي دي، او دا زمينه ځكه پولس ته برابره شوه چې د عيسى عليه السلام حقيقي او موحد اتباع د تعقيب او ځپلو له امله په دې نه توانيدل چې په ليكلې بڼه د حضرت عيسى عليه السلام تعليمات خلكو ته وړاندې كړي، له دې امله به يې يوازې په شفوي توګه د تعليماتو په وړاندې كولو اكتفاء كوله، او پولس (شاول) به د بيلا بيلو رسائلو له لارې خپل تعليمات خلكو ته په ليكلى بڼه رسول، چې ورو ورو هغه شفوي تعليمات په ډيره محدوده ساحه كې پاتې شول، او په عامه توګه هغه افكارو رواج وموند چې د پولس په رسائلو كې مطرح شوي ؤ، په دې توګه د پولس افكار د نوي مسيحيت لپاره مصدر وګرځيدل، او لكه چې ټول مؤرخين په دې تصريح كوي او تقريبا اتفاق پرى لري چې پولس په حقيقت كې د يونانيانو د وثنى افكارو، اسكندري او هيليني[6] ديني تصوراتو نه متاثر ؤ، چې د يهودى او هيليني ديني تصوراتو او د يونانيانو د ما وراء الطبيعي افكارو څخه يې نوي افكار جوړ كړل[7] او دا ځكه چې پولس پخپله رومي تابعيت درلود او پر رومي عقايدو لوى شوى ؤ[8].

د بيلګې په توګه د مسيحيانو دا عقيده پولس ايجاد كړې چې حضرت عيسى عليه السلام په خپلې قربانى د بشريت د هغه ګناهونو فديه تقديم كړې چې هر انسان يې په وراثت سره د ادم عليه السلام د خطاء (په جنت كى د ونى څخه د ميوى د خوړلو) په نتيجه كې په غاړه لري، دا عقيده په حقيقت كې د يونانيانو مشهوره عقيده وه چې هغوى د خپلو خدايانو ـ اوزريس، انيس، ديونيشس ـ په باب درلوده چې دغه خدايان ددې لپاره مړه شوى دى چې په خپل مرګ د انسانانو د ګناهونو فديه وړاندې كړي، همدى عقيده كى د پولس لخوا ددى خدايانو ځاى حضرت عيسى عليه السلام ته وركړ شو.

همدا راز هغه القاب چې د پولس لخوا حضرت عيسى عليه السلام ته استعمال شول لكه (سوتر) ـ چې د ژغورونكي (المخلّص) معنى لري ـ او

---

(6) هلينى فلسفه هغه ورسته پاتى فلسفى ته ويل كيږى چى د ارسطو د وفات نه وروسته يى په يونان كى رواج وموندە.
(7) قصة الحضارة ج ١١ ص ٢٦٩
(8) قصة الحضارة ج ١١ ص ٢٤٩

(الیوثریوس) (Eleutherios) - چې معنی یې نجات ورکونکی (المنجی) دی - دا ټول القاب د یونانیانو له خوا همدې خدایانو ته استعمالیدل، اوس د مسیحیانو په منځ کی حضرت عیسی علیه السلام یوازې د همدی (المخلص) په لقب پیژندل کیږي.

همدا راز د (کریوس) (Kyrios) - لقب او عقیده چې معنی یې خدای (الرب) ده - د پولس لخوا په مسیحیت کی ایجاد او د لومړي ځل لپاره د حضرت عیسی علیه السلام لپاره استعمال شوه، دا لفظ هم په یوناني دیني ادبیاتو کې د (دیونیشس) - چې ځان یي فداء او قرباني کړې ؤ - لپاره استعمالیده[9].

بلکې غربي محققین په دې اعتراف کوي چې اوسنی مسیحیت د حضرت عیسی علیه السلام سره هیڅ تړاو نه لري، بلکې دا د پولس ایجاد کړی دین دی چې د بیلا بیلو مصادرو څخه یې اختراع کړی دی.په دې باب یو برتانوي محقق (ویلز) وایي: په هغه وخت کې یو بل لوی معلم را ښکاره شو، چې په دې عصر کې اکثره د اعتماد وړ علماء یې د مسیحیت[10] حقیقي بنسټ ایښودونکی ګڼي، او هغه شاول الطرسوسی یا پولس ؤ ... باوري خبره دا ده چې هغه په اصل کې یهودي ؤ - سره له دې چې یو شمیر یهودي لیکونکي له دې نه انکار کوي - لیکن په دې کې خو هیڅ شک نشته چې هغه له یهودي استاذانو څخه علم ترلاسه کړی ؤ، ولې له دې سره سره هغه د اسکندري هیلیني[11] دیني علومو متبحر عالم هم ؤ، او د یوناني فلسفې په ځانګړی توګه د اسکندریې د فلسفي مدرسې د تعبیراتو او د رواقي[12] فلسفې د اسالیبو څخه متاثر ؤ، پولس د حضرت عیسی علیه السلام له تعلیماتو څخه تر خبریدو ډیر وړاندې د یوې دیني نظریې څښتن او یو معلم ؤ چې خلکو ته به یې ښوونې کولې (یعنې پخپله یې مستقل دین درلود او د حضرت عیسی علیه السلام پیرو نه ؤ) راجح خبره دا ده چې هغه د مثرائی[13]

---

(9) ددی او نور تفصیل لپاره وګوري: قصة الحضارة ج ۱۱ ص ۲۶۴

(10) د هغه دین چی اوس د مسیحیت په نوم په اروپا کی معروف دی، حقیقی مسیحیت چی حضرت عیسی علیه السلام د الله له لوری راوړی وه هغه تری مراد نه دی.

(11) دا د روماني تاریخ یوی فتری ته اشاره کوي چی د ارسطو د مرګ څخه وروسته پیل شوه چی په ټاکلی توګه د ۳۲۳ ق.م څخه پیل کیږی او د ۱۴۶ ق.م پوری دوام کوي.

(12) دا یوه فلسفی مدرسه ده چی فیلسوف رینان تاسیس کړی وه او بنسټ یی په دنیاوی لذتونو کی په زهد او حسی لذتونو او تکلیفونو څخه په بی پروایی ایښودل شوی وه.

(13) مثرا په پخوانی فارسی دین کی د نور او رڼا خدای ته ویل کیده، مثرائی یعنی پخوانی فارسی دین.

دین څخه متاثر وه، ځکه هغه مثرائی تعبیراتو ته ډیر ورته تعبیرات استعمالوی، څوک چې د پولس رسائل د اناجیلو سره یوځای مطالعه کړی هغه ته په څرگنده توگه دا ثابتیږی چې د هغی ذهن د داسی افکارو څخه ډک وه چې د حضرت عیسی علیه السلام څخه د نقل شوو تعلیماتو او اقوالو کې هیڅ بارز حیثیت نه لری او د حضرت عیسی علیه السلام د اقوالو او تعلمیاتو سره اړخ نه لگوی، د بیلگی په توگه هغه فکر چې د هغی سره سم یو شخص د (حضرت ادم علیه السلام څخه په وراثت باندی ټولو انسانانو ته د منتقل شوی) گناه د کفاری لپاره قربانیږی، د حضرت عیسی علیه السلام راوړی دین په حقیقت کې د یو نوی انسانی روح پیداینبت وه، او د پولس تعلیمات د قدیمی او پخوانیو ادیانو یوه ملغوبه وه، د کاهن او مذبح دین، او د خدایانو د خوشحالی لپاره د وینو تویولو دین وه!(14).

د پولس (شاول) په باب وویل دیورانت دا خبره په نور صراحت سره کوي هغه وايي چې پولس یو داسی دین ایجاد کړ چې د هغه لپاره د حضرت عیسی په اقوالو کې هیڅ دلیل نه لیدل کیږي، او هغه دین چې شاول ایجاد کړ شاید د هغې اصلي سبب هغه پښیمانی وه چې هغه ورسره مخامخ شو (یعنې د مسیحیانو د تعذیب په اړه پښیماني) او یا هغه تصور او تخیل د دې دین مصدر ؤ چې دده په اند عیسی علیه السلام د کوم انجام سره مخامخ شو، او په کومه توگه تعذیب او ووژلی(15) شو، د هغی ظلم پر ضد او د حضرت عیسی علیه السلام مظلومیت احساس پولس دی ته اماده کړ چې د حضرت عیسی علیه السلام په باب داسی تصورات قائم کړي او هغی ته خدایي صفات ثابت کړي.

همدا خبره ویل دیورانت د یوحنا په باره کې هم کوي، هغه وايي: کوم کار چې پولس پیل کړی ؤ هغه یوحنا پرمخ یوړ، حضرت عیسی علیه السلام چې د خپل ځان په باره کې څه ویلي ؤ هغه دا ؤ: چې هغه (مسیح منتظر) دی چې د

(14) دی لپاره وگوره: "معالم تاریخ الإنسانیة " ترجمة عبد العزیز توفیق جاوید ، طبع لجنة التألیف والترجمة والنشر بالقاهرة ، ج 3 . ص 705.

(15) طبعا دا د نصاراو رای ده چې حضرت عیسی علیه السلام ووژلی شو او دری ورځی په خپل قبر کی وه او وروسته بیا اسمانونو ته پورته کړی شو، مگر قران کریم دا تصریح کوي چې حضرت عیسی علیه السلام نه وژل شوی او نه په دار کړی شوی دی.

بنی اسرائیلو د اصلاح لپاره رالیږل شوی دی، مګر پولس[16] او یوحنا او نورو هغه کسانو چې د یوناني او قدیمو فارسي او هیلیني ادیانو څخه متأثر ؤ، او وثنیت (پت پرستۍ) یې په فکرونو کې اغښتل شوی وه، هغوي یو داسی نوی مسیحیت را ایجاد کړ چې اجزاء یې د بیلا بیلو پخوانیو فلسفي افکارو او بت پرستو ادیانو څخه اخیستل شوي ؤ، په اخر کې وایي: خلاصه خبره دا ده چې مسیحیت[17] هغه وروستنی لوی شی دی چې د پخوانۍ بت پرستې دنیا له بطن څخه راپیدا شوی دی[18]، یعنې د پخوانۍ پت پرستې دنیا د افکارو او ادیانو څخه بیلا بیل افکار او معتقدات د پولس، یوحنا او داسې نورو په ذریعه راجمع کړای شول او دا مسیحیت ترې ترتیب شو، په دې معنی چې دا تحریف شوی مسیحیت ؤ او هغه مسیحیت نه ؤ چې حضرت عیسی علیه السلام د یو سماوي دین په حیث د الله تعالی له لوري د بشریت (بلکې په ځانګړی توګه د بني اسرائیلو) د هدایت لپاره راوړی ؤ.

دا لومړی لامل ؤ چې د هغه له امله د حضرت عیسی علیه السلام اصلي دین د تحریف سره مخامخ شو، ډیر خلک خو دا تصور لري چې د پولس نصراني کیدل په حقیقت کې د یهودانو له خوا یوه دسیسه وه چې د حضرت عیسی علیه السلام هغه دین چې هغوي د تعذیبونو او زوررونو له لارې و نه توانیدل چې له منځه یې یوسي ویې غوښتل چې د داخل څخه یې تحریف کړي او په دې توګه یې له منځه یوسي، چې تر ډیره حده پورې په دې وتوانیدل، دا محققین د پولس دا کوښښ له هغو کوښښونو سره مقایسه کوي چې د عبد الله بن سبأ یهودي لخوا د اسلام د معنوي تحریف لپاره په لومړۍ هجري پیړۍ کې سرته رسیدلی.

(16) په دی باب د معاصری نړي د مقارنة الادیان یو مشهور عالم هیم ماکبی کتاب (بولس و تحریف المسیحیة) ترجمة سمیرة عزمی الزین، من منشورات المعهد الدولی للدراسات الانسانیة، د لوستلو وړ دی، هغی په ډیر تفصیل سره او د مکملو شواهدو سره دا ثابته کړی چی دا اوسنی مسیحیت هغه مسیحیت نه دی چی حضرت عیسی علیه السلام راوړی وه، بلکه دا د بولس ایجاد کړی مسیحیت دی چی د بیلا بیلو وثنیاتو او منحرفو افکارو څخه یی راټول کړی دی.

(17) هغه مسیحیت چی په اروپا کی رائج وه، ددی څخه مراد هغه اصلی مسیحیت نه دی چی حضرت عیسی علیه السلام د الله تعالی له لوری راوړی وه.

(18) قصة الحضارة ج ۱۱ ص ۲۷۶.

پولس (شاول) ددې ادعاء وکړه چې هغه د هغه اویا کسانو له جملې څخه دی چې د حضرت عیسی علیه السلام د اوچتیدو څخه وروسته ورته وحي راځي، او په مسیحیت کې د شاملیدو او په مسیحیت د ایمان راوړلو لپاره یې هم داسې یوه لاره اختیار کړه چې د هغه د مکر، چالاکۍ او فریب له امله مسیحیانو هغه د (معلم اول) په حیث ومانه، یواځې دا نه بلکې د انجیل ډیر لیکونکی لکه، مرقس او لوقا یې شاګردي اختیار کړه، دې کار پولس ته ددې امکان ورپه برخه کړ چې د نصرانیت په اصولو او فروعو -ټولو کې- داسې تحریف او تبدیلۍ وکړي چې هغه ته له خپل اصلي بنې څخه په بشپړه توګه مغایر شکل ورکړي.

## د پولس دین د حضرت عیسی علیه السلام د راوړي دین ځای ونیوه

د دې نوي مسیحیت ـ چې د پولس او نورو څه رسولانو (هغه اویا کسانو چې ددې ادعاء به یې کوله چې دوی د الهام او وحي له لارې تعلیمات له حضرت عیسی څخه نیغ په نیغه اخلي، او د هغه د پخوانیو تعلیماتو پابند نه دي) په لاس رامنځ ته شو ـ نه وړاندې یو ډول فراغ موجود ؤ، ځکه چې هلته په ټولنه باندې یا خو رواقي او ابیقوري[19] فلسفي نظریاتو حکومت کولو او یا هم هغه تحریف شوی یهودیت چې پر یو ځانګړي ملیت او قومیت پورې تړلی دین ؤ، په ټولنه حاکم ؤ، او یا هغه بت پرستي چې د رومانیانو د امپراطورۍ رسمي دین ؤ حاکمیت درلود، دې ټولو ادیانو او افکارو د هغه وخت د ټولنې روحي اړتیاوې نه شوای پوره کولی، له دی امله هغه مسیحیت ـ چې د بیلا بیلو افکارو او معتقداتو څخه په استفادې سره د پولس او نورو رسولانو په لاس رامنځ ته شوی ؤ او څه نا څه د حضرت عیسی علیه السلام اصلي تعلیمات هم پکښې ؤ- ددې فراغ په نتیجه کې د هغه لپاره د خپریدو زمینه برابره شوه، او د اسیا، افریقا او اروپا بیلا بیلو ساحو ته خپور شو، په همدې وخت کې بیلا بیلې کلیساګانې رامنځ ته شوې، او مقدس کتاب لاتینی ژبو ته ترجمه شو، دا پیشرفت له دې مخکې رامنځته شو چې په دریم میلادی قرن کې روم په رسمي توګه مسیحیت ومني او امپراطور یې مسیحیت قبول کړي، په دې باب ویل دیورانت داسې وایي: وروسته له دې چې دا نوی دین (د پولس مسیحیت) تشکیل شو او

(19) ابیقور ته منسوبه فلسفه چی پخپله دی د ۳۴۱ ق.م څخه تر ۲۷۰ ق.م. پورې ژوند کړی.

منځ ته راغی، په داسې توګه چې د انسانانو اړتیاوې یی (د هغه وخت د بت پرستی، یهودیت، او فلسفی نظریات په پرتله په بهتره او غوره توګه) پوره کولی، نو د خلکو ترمنځ یې په خپریدلو پیل وکړ، او دهغه توان په نتیجه کې چې دی دین د خپریدلو لپاره درلوده، نو هر چا به چې دا دین قبول کړ ځان به یې د دی دین یو متحمس دعوتګر ګرځاوه چې جوش او خروش به یې د انقلابیانو څخه کم نه ؤ[20].

د مسیحیت د انتشار او خپریدو په باب همدا مؤرخ وایي:په عامه توګه دا ویلی شو چې ۳۰۰ میلادی کال د راتلو څخه دمخه د شرق ځلورمه برخه او د غرب شلمه برخه اوسیدونکي مسیحیان شوي ؤ، په دې پاپ ترتلیان (چې شا او خوا ۲۰۰ میلادی کال کې وفات شوی) وایی: خلک په صراحت سره وایي چې (رومانی) دولت له موږ څخه ډک دی، او دا ځکه چې ټول خلک د عمرونو، حالاتو، او مرتبو د اختلاف سره سره موږ ته رامات دي، او زموږ تر بیرغ لاندې راغونډیږي، موږ ډیر اوسني خلک یو (یعنی ددی دین عمر ډیر کم دی) مګر له دې سره سره په موږ ټوله دنیا ډکه ده[21].

د مسیحیت د انتشار ترڅنګ د پولسی مسیحیت د مصادرو د تنوع په نتیجه کی د مسیحیت په داخل کې ډیر متنوع افکار او عقاید رامنځ ته شول، څه خلکو دا عقیده درلوده چې حضرت عیسی علیه السلام د الله رسول دی، او له دې څخه پرته بل څه نه دی، یو شمیر خلک په دې نظر ؤ چې هغه د الله (تعالی عن قولهم) ځوی دی، او قدیم دی، یوې فرقی دا نظر درلود چې هغه سره له دې چې د الله ځوی دی، خو هغه مخلوق هم دی، دا ډول ډیرې فرقې موجودې وي، د فرقو د کثرت په باب ویل دیورانت د هغه وخت د یو مسیحی چې سلس نومیده کیسه کوي، چې هغه ویل: مسیحیان په ډیرو فرقوا وویشل شو، تر دې چې د هغوی څخه د هر فرد قصد دا دی چې د ځان لپاره یو ډله جوړه کړي[22]، او هرې فرقې دا نظر درلود چې همدا د حضرت عیسی علیه السلام د راوړي دین صحیح نمایندګي کوي.

---

**(20)** قصة الحضارة ج ۱۱ ص ۲۸۸- ۲۸۹.
**(21)** قصة الحضارة ج ۱۱ ص ۲۸۹.
**(22)** قصة الحضارة ج ۱۱ ص ۳۱۴.

## د تحریف دویم لامل: په مسیحیت کې د رومانیانو شمولیت

د حضرت عیسی علیه السلام اتباع د هغه د دعوت د څرګندیدو او بیا اسمان ته تر اوچتیدو وروسته د سختو تعذیبونو لاندې ؤ، لومړی د (نیرون) په وخت کې چې د ۵۴ م څخه یې تر ۶۸ پورې حکومت کړی[23]، بیا د امپراطور (تراجان) په وخت کې چې د ۹۸م څخه یې تر ۱۱۸م پورې حکومت کړی، دهغه په وخت کې د مسیحیت اتهام به چې په چا ولګیده د هغه سزا اعدام وه، همدا راز د امپراطور (دیکیوس) چې د ۲۴۹م څخه یې د ۲۵۱م پورې حکومت کړی، او بیا د امپراطور (دقلدیانوس) په حکومت کې چې د ۲۸۴م تر ۳۰۵م پورې یې حکومت کړی، د سختو تعذیبونو سره مخامخ ؤ، دې امپراطور د مسیحیانو د کلیساګانو د ورانولو او د هغوی د کتابونو د سوزولو عام حکم صادر کړی ؤ، نو ترکومه چې ددې روماني امپراطورانو په وخت کې مسیحیان د تعذیب لاندې ؤ او په مشکل کې ؤ تر هغه وخت پورې ددوی اختلافات او فرقې چې موجودې وې او ترمنځ یې ډېر اختلافات هم موجود ؤ خو دا اختلافات نه را ښکاره کیدل، ځکه چې هیچا د خپلو افکارو د اظهار توان نه درلود، نو دهمدې لپاره هر څه پټ ؤ او نه را برسیره کیدل، په دې افکارو کې په طبیعي توګه هغه افکار هم ؤ چې د بت پرستو دینونو د تاثیر او اغیزی له امله مسیحیت قبول کړي ؤ، ځکه ډیر داسې خلک چې بت پرستانه نظریات یې درلودل د خپلو پخوانیو عقایدو سره په مسیحیت کې شامل شوي ؤ، په دوی کې په ډیر لوی شمیر کې د پولس (شاول) د تحریف شوي مسیحیت منونکی هم ؤ، ددې ترڅنګ څه هغه خلک هم موجود ؤ چې د اصلی مسیحیت تر اغیزې لاندې یې حضرت عیسی علیه السلام یوازې پیغمبر باله، ددې بیلا بیلو افکارو ترمنځ شدید اختلافات موجود ؤ، د بیلګې په توګه د اسکندریې د کلیسا سره په مخالفت کې د مسیحیت یو عالم چې اریوس نومیده په دې عقیده ؤ چې حضرت عیسی علیه السلام خدای نه دی، کله چې د روم امپراطور قسطنطین د څه سیاسی ملحوظاتو له امله په ظاهری توګه مسیحیت قبول کړ[24] نو دلته دا اختلافات را څرګند

(23) د حضرت عیسی علیه السلام اتباع یی په دی متهم کړل چی دوی د روما ښار سوځولی دی.
(24) چی د مسیحیت د اظهار په نتیجه کی یی غوښتل چی مسیحیان چی شمیر تر هغه وخته پوری ډیر زیات شوی وه له یوی خوا د ځان سره و دروی، او له بلی خوا چی کله یی دا ولیدل = =

شول، ځکه نوره د مسيحيانو د زورولو او تعذيبولو زمانه تيره شوی وه، ددې اختلافاتو د له منځه وړلو لپاره قسطنطين په کال ۳۲۵ م کې د مسيحی ديني مشرانو يوه اجتماع راوغوښتله چې د (مجمع نيقيه) په نوم ياديږي، او هلته په بنسټيزه توګه د حضرت عيسی عليه السلام د الوهيت قضيه بحث شوه، چې د مجمع اکثر غړي د اريوس نظر او رايه تايدوله، مګر چونکه پخپله قسطنطين بت پرستي ته ميلان درلود نو هغه پخپله د خپل اثر او رسوخ په نتيجه کې د هغه چا رای ته رسمی بڼه ورکړه چې د حضرت عيسی عليه السلام د الوهيت قائل ؤ، په دې توګه هغه بت پرستي چې په مسيحت کې ننوتی وه هغه رسمي بڼه غوره کړه، او د توحيد اواز خفه کړی شو، د دې نظريې او د حضرت عيسی د ابن الله د نظريې سره د مخالفت لرونکو دکتابونو د سوزولو حکم ورکړای شو، څوک چې د توحيد قائل ؤ هغوی ملعون وګرځولی شول او د کليسا څخه يې د شړلو حکم صادر شو[25]، په دې توګه ويلی شو چې رومانيان په مسيحيت کې داخل نه شول بلکې د مسيحيت او روماني بت پرستۍ د اشتراک او يو بل سره د يوځای کيدو په نتيجه کی يو نوی دين ايجاد شو، او دا د رومانيانو او يونانيانو ترمنځ او په عامه توګه په غرب کې خپريدونکی دين وګرځيده[26]، له همدې امله لوی مؤرخين دا په پوره اطمينان سره وايي چې دا مسيحيت په بشپړه توګه د قسطنطين د تاثير لاندې ؤ، ولز وايی: (هغه څرګند حقيقت چې هيڅ غموض پکښی نشته دا دی چې په هغه وخت کې د مسيحيت تاريخ د حضرت عيسی د روح څخه چې څومره نمايندګي کوي په هماغه اندازه د لوی قسطنطين د روح څخه هم نمايندګي کوي، دا که زيات نه وي نو کم خو نه دی)[27] او دا خو څرګنده خبره ده چې د قسطنطين کبير د روح څخه د يوناني پت پرستۍ روح

---

= = چی مسيحيان د خپلو مذهبی مشرانو څومره تقديس او احترام کوي غوښتل يی چی دا احترام دی ته ترلاسه شی له دی امله يی په ظاهری توګه مسيحيت قبول کړ مګر په حقيقت کی پری هغه پخوانی پت پرستانه نظريات غالب وو چی د يونانيانو دين وه. قصة الحضارة ج ۱۱ ص ۳۸۷.

(25) ددی تفصيل لپاره وګوری محاضرات فی النصرانية د شيخ محمد ابو زهرة ص ۱۱۲ او له دی وروسته صفحات.

(26) همدی دين ته کاتوليکی دين وويل شو (چی لفظی معنی يی عام دين دی) يعنی د امپراطوری رسمی او عام دين ايجاد شو.

(27) معالم تاريخ الانسانية مخکينی کتاب ج ۳ ص ۳۸.

مراد دی، او په غرب کې خپریدونکی نصرانیت د پت پرستۍ د همدې روح څخه اغیزمن ؤ، چې دا په حقیقت کې د مسیحیت د تحریف دویم لوی لامل ؤ.

## همدا مسیحیت په اروپا کې خپور شو

تر پنځم قرن پورې همدا رسمي مسیحیت (کاتولیکی مذهب چې د نصرانیت او پت پرستۍ څخه مرکب وه او تر ډیره ځایه د انساني افکارو په بنسټ ولاړ وه) د نړۍ اکثره سیمو ته خپور شو چې په کې د اروپا، افریقا او اسیا زیاتې برخې شاملې وی[28]، د مسیحیت د انتشار سره جوخت د کلیسا د واکمنانو په سرونو کی د سیاسي حاکمیت د لاس ته راوړلو تصور هم را پیدا شو، د بیلګې په توګه اغسطین د (۳۵۴- ۴۳۰ کلونو ترمنځ یی ژوند کړی) په خپل لیکلي کتاب (د خدای مملکت) کې د کلیسا د سیاسي افکارو د تطور او خپریدو انځور وړاندي کوي، هغه په خپل یاد شوي کتاب کې لوستونکي ته دا تصور ورکوي چې دا ټوله نړۍ د الله مملکت (د کلیسا امپراطوري) ګرځیدلی شي[29]، له دې څخه څو لسیزې وروسته دا تصورات یوه ځانګړې سیاسي نظریه وګرځیده، څه وخت وروسته چې بیلا بیل قومونه په مسیحیت کې داخلیدل نو پاپ ددې ادعاء کوله چې هغه د ټولې مسیحي نړۍ په بادشاهانو تسلط لري، ورو ورو دا تصور مستحکم شو او د یو څو پیړیو په دننه دننه کې پاپ په نظري او عملي لحاظ د مسیحی نړۍ مرکزي شخصیت وګرځید، هغه هم دیني رهبر ؤ، هم قاضی او هم مقدس پادشاه او د پادشاهانو څارونکی ؤ، او په دې توګه کاتولیکی مذهب په غربي نړۍ تسلط قائم کړ.

## د کلیسا د ټولواکۍ مرحله پیل شوه

کله چې کلیسا د اروپا سیاسي، اجتماعي، دیني ټولواکي ترلاسه کړه، او نور ټول ځواکونه ضعیف شول نو ددې په نتیجه کې د کلیسا د زور ځواکۍ او استبداد مرحله پیل شوه، او دا له دې امله چې د مسیحیت مشرانو له یو اړخ نه ځان ته د الله تعالی د نمایندګانو حیثیت ورکړ، له بلې خوا په سیاسي لحاظ هم داسې کوم

(28) معالم تاریخ الانسانیة ج ۳ ص ۳۹.
(29) معالم تاریخ الانسانیة ج ۳ ص ۴۱.

ځواک نه ؤ چې د کلیسا او د مسیحیت د مذهبي مشرانو واک محدود کړي، ددې ترڅنګ داسې څه عوامل او لاملونه هم ؤ چې کلیسا یې د خلکو په اذهانو کې منفوره کړه، نو لکه څنګه چې په اروپا کې د همدې تحریف شوي مسیحیت او کلیسایي دین څخه پرته بل څه د دین په نوم نه پیژندل کیده، له دې امله هغه ټول نفرت چې د دي تحریف شوي مسیحیت او کلیسا سره ایجاد شوی ؤ، هغه د مطلق دین سره په نفرت باندې بدل شو، او په دې توګه د الحاد لپاره لاره هواره شوه، د اوسنیو اروپایانو غلطي داوه او تر اوسه پورې همدا ده چې پرته له دې چې څیړنه وکړي چې هغه قابل نفرت عوامل او اسباب چې په کلیسایی کاتولیکي دین کی موجود ؤ او د کلیسا پر ضد د نفرت لامل وګرځیدل ایا په ټولو ادیانو کې مشترک دي؟ او که یوازې په هم دې تحریف شوي کلیسایي دین کې منحصر دي؟ ددی تحقیق او څیړنی پرته یی ټول ادیان یو څیر وانګیرل، او د ټولو ادیانو د مطلق ردولو دریځ یې غوره کړ، په داسې حال کې چې دا ممکنه وه چې د صحیح او درستې څیړنی په نتیجه کې د حق دین منلو ته رسیدلی وای، او په دی پوه شوی وای چی دا لاملونه او اسباب په ټولو ادیانو کی مشترک نه دي، بلکه صحیح او واقعي الهي ادیان له دی څخه پاک دي، که دا کار شوی وی نو بشریت ته به د توحید په بنسټ ولاړ یو پرمخ تللی تمدن په لاس ورغلی وی، مګر دلته هم د کلیسا هغه متعصبانه تعامل چې د اسلام پر ضد یې اختیار کړی ؤ، داسې رول ولوباوه چې اروپایان یې د اسلام او حق له منلو څخه محروم کړل، او هغه په دې توګه چې کله اروپایان د کلیسا څخه د تنفر په حالت کې ؤ او ددې امکانات پیدا شوي ؤ چې اسلام مطالعه کړي او دلچسپی په کښې واخلي، په دې وخت کې کلیسا د اسلام په باب داسې زهرجن تبلیغات پیل کړل چې په نتیجه کې یې اسلام د مسیحیت یوه منحرفه فرقه، او یو خونخوار دین معرفي کړ، ددې ترڅنګ یې خپل ټول توان په دې مصرف کړ چې اروپایان په هیڅ ډول د عالم اسلام سره تماس ونه شي نیولی تر څو د کلیسا د مشرانو په قبضه کې پاتې شي، په دې توګه ددوی دا کړه وړه صحیح دین ته په لار نه موندلو او په عین وخت کی د کلیسا څخه تنفر په الحاد منتج شول، او د مطلق دین پر ضد یې بیرغ پورته کړ. دلته په لنډه توګه اوس هغه لاملونه په ګوته کوو چې اروپا کې یې د کلیسا پر ضد د خلکو نفرت راوپاروه، او ددی نفرت په نتیجه کی د اروپا وګړي د الحاد په لور سوق شول.

## د کلیسایی نظام څخه د خلکو د نفرت اسباب او لاملونه

ډیر داسې عوامل، اسباب او لاملونه پخپله کلیسا برابر کړل چې د هغو د رد عمل په نتیجه کې د اروپا خلک د کلیسا او کلیسایی نظام پر ضد قیام ته وهڅیږي، او نه یوازې دا چې د کلیسا د ټولواکۍ څخه ځانونه وژغوري، بلکې د مطلق دین انکار او الحاد ته اماده شي، دا لاملونه او عوامل په ډیرو لنډو ټکو کی په لاندې ډول شمیرلی شو:

## لومړی: دیني استبداد

د کلیسا څخه د نفرت تر ټولو لوی لامل دیني استبداد وه، په حقیقت کې د کلیسا لخوا دیني استبداد هغه وخت پیل شو، چې پاپ او د مسیحیت دیني مشرانو ځان ته هغه ټول صلاحیتونه ورکړل چې هغه د الله حق ؤ، ددې تر څنګ په خلکو د غیر معقولو عقایدو فرض کول (تپل) لکه تثلیث، العشاء الربانی[30]، د وراثی غلطۍ او ګناه قضیه[31]، د حضرت عیسی په دار باندی د رازړولو او د خلکو د ګناهونو د فدیی (الصلب والفداء) عقیده او داسی نور او دا خو واضح خبره ده چې په عقلي لحاظ دا باطل او لایعني شیان دي، مګر کلیسا د خپل استبداد په نتیجه کې په دې باب د اروپا وګړي او عام خلک د تفکیر څخه هم منع کړل.

د کلیسا مشرانو ځانونه د تحلیل او تحریم مصدر وګرځاوه، دا کار به کله د کلیسا د مشر پاپ او یا هم د مسحیانو د دینی مجامعو له لارې سرته رسیده،

---

(30) د عشاء ربانی څخه مراد هغه عقیده ده چی مسیحیان یی لری او هغه دا چی په کومه شپه حضرت عیسی علیه السلام نیول کیده هغوی د خپلو ملګرو سره یوځای د شپی ډوډی وخوړه او شراب یی وڅښل، اوس چی څوک د هغی په یاد کی شراب وڅښی هغه د حضرت عیسی وینه بلل کیږی او کومه فتیره ډوډی چی وخوری هغه د حضرت عیسی جسم او جسد بلل کیږی او کله چی د حضرت عیسی علیه السلام جسم او د هغی وینه د چا د بدن جزء وګرځی نو بیا هغه د جهنم اور نه سوځوی، همدا د عشاء ربانی تصور دی.

(31) د موروثی خطاء مفهوم دا دی چی مسیحیان عقیده لری چی هر انسان چی پیدا کیږی هغه په وراثت سره د هغه ګناه یوه برخه په غاړه لری چی حضرت ادم علیه السلام یی په جنت کی د میوی د خوړلو په شکل کی ارتکاب کړی وه، او حضرت عیسی علیه السلام د همدی خطاګانو او ګناهونو د فدیی او بدلی د ورکولو لپاره ځان قربان کړ او په صلیب راوځړیده، دا وروستی عقیده د صلب او فداء په نوم یادیږی.

د بیلګې په توګه په لاندې چارو کې یې د دین حکم په بشپړه توګه بدل او تحریف کړ، ختان (د ماشومان سنتول) په مسیحیت کې واجب ؤ، دوی حرام وګرځاوه، مرداره (المیتة) خوړل حرام ؤ، دوی یې خوړل مباح وګرځاوه، خنزیر مردار او خوړل یې حرام ؤ، دوی حلال وګرځاوه، تماثیل او بتان جوړول شرک او بت پرستي بلل کیده، او حضرت عیسی علیه السلام یې پرضد مبارزه کوله، مګر دوی هغه د تقوی او د حضرت عیسی او د هغه د مور د یاد وسیله وګرځوله، د پاپانو او دیني مشرانو لپاره نکاح او واده جایز وه، دوی حرام وګرځاوه، د مسیحیت د منونکو مال اخیستل حرام ؤ، مګر وروسته د کلیسا ټیکس فرض وګرځیده، او نور ډیر داسې قضایا چې د دوی دیني مجامعو پکې حلال حرام او حرام حلال وګرځول.

بل مظهر یې د رجل دین تصور وه، کلیسا ټول دیني مصادر احتکار کړي ؤ، هر څه د کلیسا په حلقه او لاس کې ؤ، هیچا ته د هغو د لوستلو اجازه نه وه، او د الله سره د ارتباط یوازنۍ وسیله همدا کلیسا وه، هر هغه څه به حق ؤ چې کلیسا به حق وګڼل، او هر هغه څه به باطل ؤ چې کلیسا به ورته باطل وویل، ځکه کلیسا ځان د خطا او غلطۍ څخه معصوم باله، د کلیسا مشران د الله تعالی نمایندګان ؤ، د هغوي خبره د الله تعالی خبره ګڼل کیده، د مقدس کتاب هر تفسیر به چې دوي وکړ هغه به هماغسې مقدس وه لکه پخپله مقدس کتاب، خلکو به د رجال دین (دالله د نمایندګانو) په وړاندې د خپلو ګناهونو اعتراف کاوه او بیا به ددې اعتراف په نتیجه کې هغوي ته د کلیسا د مشرانو او رجال دین لخوا معافی نامې ورکول کیدی (چې هغې ته د مغفرت چیکونه یا صکوک الغفران ویل کیدل)، د دوی د وساطت څخه پرته چا د الله تعالی څخه د خپلو ګناهونو مغفرت هم نشو غوښتلی.

یو بل مظهر ددې استبداد هغه حقوق ځان ته ثابتول ؤ چې د الله جل جلاله څخه پرته د بل چا لپاره ممکن نه دي، لکه د حق الغفران، حق الحرمان (دا د کلیسا په لاس کې داسې لویه او خطرناکه وسله وه چې د هر مخالف د ویرولو لپاره یې کفایت کاوه، له دې وسلې څخه د ډیرو خلکو پرضد کار واخیستل شو لکه اریوس، لوثر، او ډیر بادشاهان) یعني هر چا به چې د قسیس پر وړاندی د ګناه اعتراف وکړ هغه ته به قسیس ګناه معاف کوله او هغه ته به یې د مغفرت

چیک[32] ورکاوه، او که چا به د کلیسا او یا د کلیسایی مشرانو مخالفت وکړ هغه به د خپلو ټولو حقوقو څخه محرومیده.

یو بل خدايي حق چې کلیسا دځان لپاره اختیار کړی ؤ او د دیني استبداد یو مظهر ؤ، هغه (حق التحلة) وه، ددې حق معنی دا وه چې کلیسا ته په ځانګړې توګه دا حق حاصل وه چې کله به د کلیسا مصلحت ددې غوښتنه کوله چې د مسیحیت په تعلیماتو باندې عمل ونه کړي نو په دې تعلیماتو ورته عمل کول اړین او ضروري نه ؤ، په دې توګه ټول دین د هغوی د صوابدیدي اختیار لاندی وه که خوښه به یې شوه عمل به یې پرې کاوه که خوښه به یې شوه په دی دلیل به یې پرې عمل پرېښوده چې دا د کلیسا د مصلحت غوښتنه ده او دوي ته حق التحلة تر لاسه دی، ددی حق التحله هیڅ حدود متعین نه ؤ.

یو بل مظهر ددې استبداد دا ؤ چې د مقدس کتاب نصوص د کلیسا ملکیت ؤ، هیڅا اجازه نه درلوده چې دې نصوصو ته لاس رسي ولري، او له بلې خوا ددې نصوصو د تفسیر حق هم یوازې د کلیسا د مشرانو او د کلیسا د مجامعو سره ؤ هیڅا ددې اجازه نه درلوده چې د مقدسو نصوصو تفسیر وکړي، او کوم تفاسیر به چې د کلیسا لخوا صادر شول هغه به هم همداسې مقدس ګڼل کیدل لکه پخپله چې د مقدس کتاب نصوص ګڼل کیدل، په دې توګه ډیر داسی انساني تصورات او افکار د دین بنسټیزې برخې وګرځیدلې چې د دین سره یې هیڅ اړیکې نه درلودې، ډیر ځله به دا افکار او تصورات د داسې څه په باره کې ؤ چې د تجربي علومو سره به یې اړه درلوده، نو کله چې تجریبي علومو پرمختګ وکړ نو دا بشري تصورات او افکار چې د زماني په تیریدو سره د دین برخه ګرځیدلي ؤ ددې تجریبي علومو د نتایجو سره په ټکر او تضاد کې واقع شول، په دې توګه د علم او دین ترمنځ د تناقض قضیه هم رامنځ ته شوه.

یو بل مظهر ددې استبداد دا ؤ چې هر هغه چا به چې د رسمي کلیسا سره مخالفت وکړ، او یا داسی څه شواهد کلیسا ته په لاس ورغلل چی دا انسان د

(32) په ځانګړی توګه به صکوک الغفران د مغفرت چیکونه به هغه چا ته ورکول کیدل چی په صلیبی جنګونو کی به کومو ځوانانو ګډون کاوه، هغه به چی هر څومره بد کرداره وه د قسیسانو لخوا به ورته د مغفرت چیک ورکړ شو او ټول ګناهونه به یی معاف کړی شول.

کلیسا یو لړ عقاید نه مني، د هغه د عقایدو تفتیش به کیده او د زور او ظلم له لارې د اخیستل شوو اعترافاتو په نتیجه کې به محاکمه کیده، او داسې سزاګانې به ورکول کیدلې چې تصور یې هم د انسان غوښې زیږوي، او دا ددې لپاره چې د نورو لپاره عبرت وګرځي او بل څوک د کلیسا د مخالفت تصور هم ونه کړای شي، او په دې توګه د کلیسا تسلط او استبداد ته ادامه ورکړل شي(33).

همدا راز په دې باب د تفتیش د محاکمو قضیه ددې استبداد یو لوی مظهر دی، دا محاکم چې اصلي موخه یې د اندلس د هغو مسلمانانو تعذیبول ؤ چې مسیحیت به یې نه مانه. مګر وروسته بیا دا دکلیسا د ټولو معارضینو پر ضد استخدام شوه، او هر هغه څوک به یې په داسې وحشي توګه تعذیبول چې د کلیسا د تعلیماتو سره به یې مخالفت کاوه، او یا به یې د هغې په غیر معقولو خبرو اعتراض درلود، چې د نورو لپاره یې د عبرت نښې وګرځوي.

د همدې کلیسایي ارهاب او استبداد په نتیجه کې کلیسا هر ډول آواز خاموش کړ، او هر چا به چې د کلیسا د محاکمو نوم واوریده له ویرې څخه به لړزیده، له همدې امله هیچا په ځان کې ددې توان نه درلود چې دا اظهار وکړي چې هغه په مسیحیت ایمان نه لري او یا هم د هغې کومه عقیده نه مني، او یا یې د عقل سره په ټکر کې ګڼي، تر دې چې لوی فلسفیان او علماء چې د کلیسا پرضد د انقلاب او د نوی نړۍ جوړونکي شمیرل کیږي، لکه: نیوتن، فرانسس بیکون، دیکارت، او کانت او داسې نورو هم ددې جرأت نه شو کولی چې ووایي چې دوی مسیحیان نه دي، او یا دکلیسا پر هغو عقایدو چې په بشپړه توګه د عقل سره په تعارض کې واقع دي ایمان نه لري او یا هغه نقد کړي، د همدې استبدادي حالت یادونه برنتن په دې الفاظو کې کوي: د غربي ټولنې ډیرو خلکو دا توان نه درلود چې په صراحت سره او د یو جماعت او ټولګي په شکل کې د الحاد، لا ادري مذهب، او الله سره د اتصال په مذهب او مسیحیت د عقیدې څخه پرته په کومه بله عقیده ایمان ولري، مګر په دې وروستیو څو پیړیو کې دا ممکنه شوه، د زرو کلونو په دوران کې چې منځنۍ پیړۍ تشکیلوي هغه کسان ډیر نادر او کم ؤ چې په

(33) ددې لپاره وګورئ: الالحاد و أسبابه (الصفحة السوداء للكنيسة)، ص:81 و ما بعدها، أ.د زينب عبد العزيز، دار الكتاب العربي، دمشق، والقاهرة، لومړی طبع ۲۰۰۴م، او معالم تاريخ الانسانية ج۳ ص ۱۷۹ وبعدها. محاضرات فى النصرانية ص ۱۵۳.

ښکاره به یې د خپل کفر اظهار کولی شو، نو کله چې ټول خلک مسیحیان ؤ نو مسیحیت د هر چا لپاره هر څه ؤ، نو بناء فرانسیس، ارازمس، لویولا، میکاولي، پاسکال، وزلي، ناپلیون، ګلادستون، او جان روکفلر ټول مسیحیان ؤ[34].

او دا ځکه چې د کلیسا د استبداد په نتیجه کې بل کوم فکر او دین اصلا وجود نه درلود، چې څوک یې قبول کړي، نو بناء دا ټول خلک سره له دی چې لوی مفکرین او شخصیتونه ؤ د مسیحیت په منلو مجبور ؤ. دې دیني استبداد خلک د کلیسا څخه داسې متنفر او زړه توري کړل چې کله یې فرصت پیدا کړ، نه یوازې دا چې د کلیسا دین یې مسترد کړ بلکې مطلق دین یې د همدې ډول استبداد مظهر وباله او مسترد یی کړ او د الحاد په لمن کی پریوتل.

## دویم: سیاسي استبداد

له بل پلوه کلیسا په اروپا کې د داسې سیاسي استبداد فضاء جوړه کړه چې یوازې کلیسا پکې ازادي درلوده نور ټول خلک د کلیسا د رحم او کرم لاندې ؤ، پاپ به ځان د ټولو سلطاتو مصدر ګاڼه، او تصور یې دا ؤ چې بادشاهان باید له دوي څخه خپل شرعیت ترلاسه کړي، دا د پاپ (نقولا الأول) د هغه بیان څخه چې هغی په دې باب صادر کړی ؤ ښه په څرګنده توګه ثابتیږي، هغه وایي: د الله ځوی (حضرت عیسی علیه السلام) کلیسا منځ ته راوړه، کله یې چې پطرس پیغمبر د هغې لومړی رئیس وټاکه، او دروم مذهبي مشرانو ته په پرله پسې توګه د پطرس همدا ځواک منتقل شو، ... نو له دې امله پاپ د زمکې پر مخ د الله نماینده دی، نو باید چې په ټولو مسیحیانو باندې ـ هغه که حاکمان دي او که ولس دی ـ هغه ته تر ټولو لوړ ځواک او مشري حاصله وي[35].

ددې سیاسي استبداد لامل هم همدا بې ځایه او له حقیقت څخه لیری کلیسایي تحریف شوي عقائد ؤ، د همدې عقیدی پر بنسټ کلیسا ځان ته دا حق ورکاوه چې څوک وغواړي هغه ته حکومت وسپاري او څوک چې وغواړي هغه د حکومت له چوکی څخه محروم کړي، طبیعي خبره وه چې د صلاح او فساد معیار هغه نه

(34) افکار و رجال ص ۲۰۷.
(35) قصة الحضارة ج 14 ص 355.

ؤ چې باید وای، بلکې د صلاح او فساد معیار د کلیسایي مشرانو خوښې او ناخوښې او د کلیسا د ګټو ساتل ؤ، هغه چا به چې د کلیسا مشرانو ته په ظلم او زور اخیستل شوې پیسې ورکولې او خلک به یې د ظلم او بربریت ښکار ؤ، هغوی به همیشه د کلیسا د تأیید څخه برخمن ؤ، او کومو حاکمانو به چې له دې څخه سرغړونه کوله هغه به د کلیسا او دکلیسا د مشرانو د قهر مستحق ګرځیدل.

په دې باب د کلیسا مشهور پاپ جریجوري السابع[36] وایي: کلیسا د یو الهي نظام په صفت ددې حق لري چې د نړیوالي سلطې او ځواک خاونده وي، او د پاپ دا حق هم دی او فرض یې هم دي ـ ځکه چې هغه پر زمکه د الله تعالی نماینده دی ـ چې غیر صالح او بد پادشاهان له حکومت څخه معزول کړي، او یا دا چې د حکومت لپاره څه خلک نا اهله وګڼي او یا د حالاتو د غوښتنو سره سم د چا عدم اهلیت او یا په حکومت باندې ګمارل تأیید او یا یې رد کړي[37].

طبعا دا دینی تسلط خلک هغه وخت مني چې ددې سلطی لرونکي خلک د خپلو تعلیماتو نمونه وي، او هغوي پخپله پرې عمل وکړي، مګر د کلیسا د مشرانو په باب دا قضیه بالکل چپه وه، ځکه د کلیسا مشران پخپله فاسد، ماده پرسته، په اخلاقي فساد کې اخته خلک ؤ، د هغوي د فساد کومې قصې به چې د هغه مغلق نظام څخه بیرون راوتلی هغو به عام خلک حیرانول، له دې امله دوی خپل اخلاقي لوړوالی او برتري له لاسه ورکړې وه، له همدې امله د کلیسا د مشرانو لخوا به د حکامو او بادشاهانو په ټاکلو کې دا ډول لاس وهنه د هغه وخت د سیاسی مشرانو لپاره د منلو وړ نه وه او په پرله پسې توګه ددې خلکو د مخالفت سره مخامخ کیدله، نو ځکه د انګلستان بادشاه اول اډوارډ، او د فرانسې بادشاه فلیپ الحمیل ددې جرأت وکړ چې ووایي: دا ضروري نه ده چې بادشاه دې د پاپ د لاس لاندې وي چې په آخرت کې جنت تر لاسه کړي، نو دې دواړو بادشاهانو ددې اراده وکړه چې په خپل مملکت کې سرداران او مشران واوسیږي، او دا چې د هغوي ملت په ټوله معنی باندی دوي تأییدوي نو د پاپ تایید ته اړتیا نه لري[38].

---

(36) دی په صلیبي جنګونو کی ډیره لویه ونډه درلوده.
(37) قصة الحضارة ج ۱۴ ص ۳۹۷.
(38) تاریخ أوروبا في العصور الوسطی، فشر, ج1 ص 260.

دداسې جرأت په نتیجه کې به د کلیسا او حکومتونو ترمنځ شخړې راپیدا کیدلې، او کله به چې د بادشاهانو او کلیسا ترمنځ مشکل پیدا شو نو همیشه به برې د کلیسا په برخه ؤ او دا ځکه چې هغې په ټوله اروپا دینې او روحي اغیزه درلوده او ښه تنظیم یې لاره، له دې امله هرهغه څه به چې کلیسا غوښتل دوی به سرته رسول، په دې توګه د کلیسا مالي غوښتنې ورځ په ورځ زیاتیدلې او دا ټول به د عامو خلکو او ملتونو په سر پریوتل، هغوی په دې توګه په ملتونو باندې د ظلم لپاره زمینه برابروله، او هر حکومت او پادشاه به چې د مالي ټیکسونو په ذریعه کلیسا خوشحال ساتله هغوی به بیا په خپل رعیت باندې د ظلم کولو لپاره ازاد ؤ، او هر ډول ظلم به یې چې په غریبو خلکو کاوه، د کلیسا د تایید له امله به محفوظ ؤ، په دې توګه کلیسا د خپل ځان پر ضد د قیام لپاره زمینه برابروله.

## د کلیسا د مشرانو د قول او فعل تضاد

په داسې وخت کې چې د کلیسا مشرانو به د خلکو څخه ددې غوښتنه کوله چې ټول خلک باید ځانونه په ټوله معنی دوي ته وسپاري او ددوي هر ډول قیادت او مشري ومنې مګر پخپله هر ډول فساد کې اخته او ککړ ؤ، دوی به خلکو ته د رهبانیت درس ورکاوه او پخپله به یې ددې ادعاء کوله مګر دوي او د دوی د دیني مشرانو قاطع اکثریت تر غوږونو په اخلاقي فساد کې ککړ ؤ، دوي به د دنیوي جاه او جلال نفی کوله او د فقر دعوه بې درلوده، مګر په عملي لحاظ به دوی د هر چا په پرتله زیات د دنیا او جاه او جلال غوښتونکی ؤ، په دې باب یو غربی مورخ کرسون وایی: د مسیحیت اخلاقي فضائل لکه فقر، تواضع، قناعت، روژه، تقوی او په خلکو شفقت او رحمت کول دا د عامو مسیحیانو، وړو دینی شخصیتونو، او یوازې په خطبو او موعظو کی د تذکیر لپاره ؤ، پاتې شول د کلیسا مشران او لوی دینی شخصیتونه نو د هغوي لپاره څه نور شیان ؤ: بې اندازه مال او دولت، د ښځو سره په ناز او اداء خبرې، د مشرانو په مجالسو کې شهرت، ځانګړې سپرلۍ، خدمتګاران، بې اندازه لوی لوی ګټې، د پیسو پیدا کولو موارد او لوړ لوړ منصبونه[39].

(39) المشكلة الأخلاقية والفلاسفة ص ١٦٧، تاليف: كرسون، ترجمة: عبد الحليم حمود، القاهرة.

دلته که یوازې د کلیسا او د کلیسا د مشرانو د مالي حالت په باب څه معروضات وړاندی کړو نو معلومه به شي چې دوي څومره په خپلو دعوو کې رېښتیني ؤ، دوي چې د رهبانیت او ترک دنیا کومه دعوه کوله او خلک به یې ورته رابلل په هغی کې دوی څومره رېښتیني ؤ، کلیسا په هغه وخت په اروپا کې دومره جائدادونه او مالي موارد درلودل چې تقریبا د اروپا ټول مالي موارد د همدوي په لاس کې ؤ، هیڅ امپراطور، هیڅ کوم بادشاه او هیڅ کوم بل جهت د دوي سره په مالي لحاظ مقابله نه شوه کولی، د دوي مالي موارد او مالي حالت په لاندی ډول ؤ:

**لومړی لوی لوی جاګیرونه:** کلیسا په اروپا کې لوی لوی جاګیرونه درلودل، په اروپا کې د کلیسا د زمکی په لحاظ تر هر چا زیات سرمایه داره وه، بی شمیره غلامان یې درلودل، ټولی ټولی سیمی او د هغی سیمی په مځکو کې کارکونکی او دهقانان ټول د کلیسا ملکیت ؤ، وویل دیورانت په دی باب پوره تفصیلات راټول کړي دي، هغه وایی: د (فلدا) کلیسا د اطرافي منطقو د وړو قصرونو څخه د پنځلس زره قصرونو ملکیت درلود، د (سانت ګول) کلیسا په زمکه کې (۲۰۰۰۰) شل زره تنه غلامان په خپل ملکیت کې درلودل، همدا راز په تور کې کلیسا په مځکو د کارکونکو غلامانو څخه د شل زره تنو مالکه وه، دوی یوازې د مځکو او غلامانو مالکان نه ؤ بلکې هغه ټول خدمات به یې بادشاهانو ته وړاندی کول چې نورو خانانو او فیوډالانو به وړاندی کول[40].

**دوهم اوقاف او عشرونه:** د خپلو جاګیرونو او نوابیو تر څنګ کلیسا په اروپا کې ډیری لوی وقفي زمکی هم درلودی، په دی باب فشر د هغه وخت د مسیحي مصلحینو له قوله لیکی چې کلیسا د انګلستان یوه په دری برخي زمکه په خپل ملکیت کې لري، او د نورو مځکو څخه ډیر لوی لوی ټکسونه اخلي، (ویکلف) چې یو مسیحي مصلح وه هغی ددې وقفي ملکیتونو د لغو کولو غوښتنه کوله، او ویل به یی: (دوي (د کلیسا مشران) د پادشاهانو پیروان دي د الله تعالی پیروان نه دي)[41].

---

**(40)** د تفصیل لپاره وګوری: قصة الحضارة ج ۱۴ ص ۴۲۵.
**(41)** دی لپاره وګوره: تاریخ اوروبا، د فشر لیکنه، ج ۲ ص ۳۶۲- ۳۶۴.

ددی ترڅنګ به کلیسا د مځکو د مالکانو څخه عشرونه هم اخیستل، په دی باب ویلز وایی:کلیسا به ټکسونه راټولول، د خپلو لویو لویو ملکیتونو او ټکسونو د بی اندازی دخل او درآمد تر څنګ په خپل رعیت د عشر ټکس هم ټاکلی وه، او دا به یې صدقی په شکل نه اخیسته بلکې دا یې خپل حق ګاڼه او د حق په حیث به یې غوښته[42].

**دریم صدقات او خیراتونه:** د کلیسا او کلیسایي مشرانو د درآمد یو بل لوی مصدر صدقات او خیراتونه هم ؤ، څه خلکو به کلیسا ته د ځان د نږدی کولو، تملق، د کلیسا د قهر او غضب څخه د ځان ژغورلو په موخه او یا په ښه نیت ډیر صدقات او خیراتونه کلیسا ته وړاندی کول، دا هم دومره زیات اموال جوړیدل چې تصور یې هم نشي کیدلی[43]. دا د کلیسا او د کلیسا د مشرانو حالت وه، د خلکو څخه به یې د رهبانیت او متواضع ژوند غوښتنه کوله او پخپله یې په داسی حالت کې ژوند کاوه، طبیعی خبره وه چې په داسی حالاتو کې خلک پرځای ددې چې د کلیسا د پیروۍ او طاعت جذبه په کې پیدا شي د کلیسا پر ضد د راولاړیدو جذبه یې پکی را ټوکوله.

## دریم: فکري او علمي استبداد

د کلیسا پر ضد د پاځون دریم لامل د کلیسا له پلوه هغه شدید فکري او علمي استبداد وه چې اروپايي ټولنه او په ځانګړې توګه علمي حلقې یې د شدیدی صدمی سره مخامخ کړې، دا استبداد د کلیسا ددې ټولواکۍ طبیعي نتیجه وه، او دا په دی توګه چې کلیسا حق په بشپړه توګه د کلیسا په تعلیماتو کې منحصرګاڼه، دا یوازې د دینی معارفو په باب د دوي نظر نه و بلکې د دقیقو تجربی علومو په باب هم د کلیسا مشرانو خپل افکار او اراء معیار ګڼل، او د هر علمي کشف او اختراع د صحت او درستوالي لپاره دا شرط ګڼل کیده چې هغه باید د کلیسا د تحریف شوي کتاب د تعلیماتو سره برابر وي، او هر څه به چې د کلیسا د تعلیماتو سره برابر نه ؤ هغه به که هر څومره په علمي معیارونو برابر ؤ هغه

**(42)** معالم تاریخ الانسانیة ج ۳ ص ۸۹۵ هـ ج. ویلز، ترجمة: عبد العزیز توفیق جاوید، القاهرة ۱۹۶۷م.
**(43)** د تفصیل لپاره وګوری: معالم تاریخ الانسانیة دریم جلد.

به نه د منلو وړ ؤ او نه به چا د هغی د اعلان جرأت کولی شو، او که چا به د هغی د اعلان جرأت وکړ هغه به په ارتداد (هرطقه) متهم کیده اوځپل کیده به، ددې استبداد بنسټیز لامل دا وه چې کلیسا خو له یوی خوا خپل مقدس کتابونه تحریف کړي ؤ، له بل پلوه یې هغه ټول علوم چې تر هغه وخت پوری بشریت ورته رسیدلی وه هغه د مقدس کتاب په شروحو کې داخل کړي ؤ[44]، او دا شروح یې هم د مقدس کتاب په څیر مقدسی ګڼلی، په دی توګه د هغه وخت په مسیحیت کې د هر څه لپاره تفصیلي معلومات موجود ؤ، او دا معلومات تر هغه وخته پوری شاید د انساني علم په معیار ترټولو لوړ معارف ؤ مګر چونکه د انسان علم د پرمختګ په حالت کې دی، نو دا معلومات د انسانی علم اخیري پړاو نه وه، مګر چونکه دا د دیني تعلیماتو برخه ګرځیدلي ؤ نو دا د نورو الهي تعلیماتو په څیر نهائي ګڼل کیدل، له دی امله یې هیچا ته د مخالفت اجازه نه ورکول کیدله، چې دا پخپله د شدید فکري او علمي استبداد لامل وګرځیده، یعنی دا په حقیقت کې د هغه دیني استبداد یوه طبیعی نتیجه وه چې د منځنیو پیړیو په اروپا کې حاکم وه، دی استبداد لاندی مظاهر درلودل:

**لومړی:** کلیسا د علم او معرفت یوازینۍ مصدر وه، چې څه به یې غوښتل هماغه به یې خلکو ته وړاندی کول، او څه به یې چې نه غوښتل هغه به په خلکو حرام ګرځول، چا ددې جرأت نه شو کولی چې هغه حاصل کړي، او د هغی علم تر لاسه کړي.

**دویم:** د کلیسا علمي استبداد دی مرحلی ته ورسیده چې مطلق طلب علم یې جرم او کفر باله، په دی باب یوه المانئ لیکواله لیکي: د نصراني دین دینی مشران په هغه وخت کې په دی نظر ؤ چې د انجیل د نازل کیدو نه وروسته د علم او معرفت طلب کفر او الحاد دی، لکه مخکی چې ترتولیان او اغسطین دا ګمان درلود، او په حب استطلاع او مرضي پلټنی باندی یې لعنت ویلو، او دا یې د وسوسی او ګمراهی یو خطرناک شکل باله چې دا مرضی پلټن کونکی د تعذیب او امنیتي پلټنی مستحق ګرځوي[45].

(44) دا کار یې ددی لپاره کړی وه چې ددی په ذریعه د خپلو مقدسو کتابونو حقانیت ثابت کړي.
(45) الله لیس کذلك، زیغرید هونکه ص 55.

**دریم:** هغه تفصیلي نظریات چې نصرانیت د فلسفی او د هغه وخت تجریبي علومو څخه ترلاسه کړي ؤ کلیسا را خپل کړل، له دی امله به هر هغه فکر چې د کلیسا ددې تفصیلي اراو سره چې په حقیقت کې بشری افکار ؤ او د وحي سره یې هیڅ تړاو نه درلود، دینی او مقدس نظریات وبلل شول، او کلیسایي حقایق د هری علمی نظریی لپاره معیار وبلل شول، هر څه به چې ددې کلیسایي نظریاتو مخالف ؤ هغه به په ډیر شدت سره ځپل کیدل، او د کلیسا د خپل روحانی تسلط له امله تر ډیره وخته په دی وتوانیده چې د هر ډول علمی پرمختګ مخنیوی وکړی، او هر ډول علمی نظریات خنثی کړی، او په دی توګه یو ډول شدید فکري استبداد رامنځ ته کړي، د علمي پرمختګ مخه ونیوله شوه او د کلیسا همدی حرکت ته د اصولیت[46] (Fundamentalism) حرکت وویل شو

د دی استبدادی فضاء د حاکمیت ترڅنګ کلیسا همیشه ددې کوښښ کاوه چې د اروپا اوسیدونکی د عالم اسلام سره د ارتباط او اړیکو څخه لیری وساتی، او هر چا به چې عربی علوم ترلاسه کول او یا به یې هغه په ښه نوم یادول هغه به زندیق او مرتد بلل کیده او کلیسا به ورسره دښمنی کوله، بلکې کلیسا د هر هغه څه سره دښمنی درلوده چې مسلمانانو ته به منسوب وه، یو کلیسایي مشر (بترارک) په دی اړه خپل یو دوست ته داسی وایی: له تا څخه مو توقع او امید دا دی چې د هغه څه په باره کې چې په ځانګړی توګه ما پوری اړه لری په خپلو عربو اعتماد ونه کړی، او په دی باب عرب داسی وانګیره چې اصلا پیدا شوی نه دی، ځکه زه دوی ډیر بد ګنم او کرکه می تری کیږی، زه خبر یم چې د روم سیمی لوی لوی علماء، بلیغ او فصیح شخصیتونه، فلسفیان او شاعران زیږولی دی، په همدی سیمه کې طب زیږیدلی دی، او پاتی شول عرب طبیبان نو باید زه یې وپیژنم چې دوی دی څوک؟ زه خو د هغوی شاعران پیژنم، له دوی څخه زیات مخنث، سست، بیکاره او زیات چټیات ویونکی خلک راته بل څوک نه دی معلوم! ... زه دا تصور هم نشم کولی چې د عربانو څخه دی کوم داسی څه

---

**(46)** یو شمیر بی علمه خلک ځان ته اصولیین وایی، او دا یی د سترګو څخه غائب دي چی د غربي لیکوالانو په اصطلاح کی د علمي پرمختګ د مخنیوي څخه پرته بله هیڅ معنی نه لري، یو شمیر نور مغرض او جاهل لیکوالان په همدی معنی اسلام ته د اصولیت نسبت کوي چی د په حقیقت کی یو داسی بهتان دی چی اسلام تری په بشپړه توګه بري دی.

صادر شی چې هغه ګټور وی، نو ای علماو تاسی په کوم حق ددوی هغه تعریفونه کوي چې دوی یې په هیڅ لحاظ مستحق نه دی، بیا په اخر کې وایی: څوک چې زما په موجودیت کې د عربو توصیف کوي هغه لکه ما چې په چاړه (خنجر) وهی، او یا می په زړه زړه کې په چاقو سوغوی[47].

ددی شدید حساسیت او کرکی ترڅنګ کلیسا د هغه افکارو چې د عالم اسلام څخه د اندلس له لاری اروپا ته ننوتل د دوي په اند په علمي لحاظ د هغی د مقابلی لپاره دوی توماس الاکوینی او د هغی په څیر نور خلک ګومارلی ؤ چې هغه افکار په فلسفی طریقی سره رد کړی، او د هغی مخی ته بند واچوي.

دا هغه فضاء وه چې د اروپا خلکو په کی په منځنیو پیړیو کی ژوند کاوه، یو ډیر شدید استبداد حاکم وه چې د ژوند ټول اړخونه یی نیولي ؤ، همدی استبداد په حقیقت کی د یو لړ نورو لاملونو ترڅنګ په اروپا کی د کلیسا او کلیسایي نظام پر ضد د پاڅون اسباب برابر کړل.

## د کلیسا د استبداد پر ضد د پاڅون مباشر لاملونه

د کلیسا او کلیسایي مشرانو[48] دی هر اړخیز استبداد فضاء دی ته برابره کړه چې خلک د کلیسا پر ضد قیام وکړي او ددې د تسلط څخه ځان وژغوری، په دی وخت کې څه نور داسی لاملونه هم موجود شول چې د خلکو دی احساساتو ته جهت ورکړی او داسی یو موج تری جوړ کړی چې د کلیسا د استبداد څخه د ځان ژغورنی په خوځښت بدل شی، دا عوامل او لاملونه په لاندی ډول ؤ:

(47) ارنست رینان، ابن رشد والرشدیة ص ۳۳۸- ۳۳۹، ترجمة عادل زعیتر، دار احیاء الکتب العربیة ـ عیسی البابی الحلبی وشرکاؤه القاهرة ۱۹۵۷م.

(48) چې دا د حقیقی مسیحیت سره پرته له نوم څخه نور هیڅ تړاو نه لری، له دی امله په اروپا کی پاڅون د دین پر ضد نه وه بلکه د هغه انسانی افکارو پر ضد وه چې هغه د زمانی په تیریدو سره د دین برخه ګرځیدلی وه، او خلک ورته په تقدس قائل وو، سره له دی چې دی افکارو د انسانی افکارو په حیث هیڅ عصمت نه درلود بلکه غلطي یی د تجربی په رڼا کی بالکل څرګنده وه.

## لومړی: اروپا ته د اسلامی ثقافت ننوتل:

د اندلس له لاری د مسلمانانو پوهانو کتابونه په اروپا کې خپاره شول، او ددې ثقافت تاثیر دومره زیات وه چې کلیسایي مشرانو تری ډیر سر ټکاوه، او په حقیقت کې یې دا د کلیسا د تسلط لپاره انتهایی لوی تهدید باله، د قرطبی مسیحی مشر (القارو) وایی: زما د دین ډیر پلویان د عربو قصی لولي، د مسلمانو علماو او فلسفیانو لیکنی په خپل منځ کې سره تدریس کوي، ددې لپاره نه چې هغه رد کړي بلکې ددې لپاره چې عربي ژبه یاده کړي او ښه استفاده تری وکړی شي.

مګر نن هغه غیر متخصص نصرانیان چېرته دی چې د انجیل هغه تفاسیر ولولي چې په لاتیني ژبه لیکل شوي دی؟ بلکې هغه خلک چېرته دی چې دا ځلور ګونی اناجیل، د انبیاو (په نوم رسائل) او د رسولانو رسائل ولولي؟ ای افسوس! نن چې کوم نصراني ځوانان د خپلو استعدادونو له امله د نورو څخه وړاندی دی هغوی د عربي ژبی او عربي ادب څخه پرته په بل څه نه پوهیږي، دوي د عربی مراجعو او کتابونو په لوستلو کې د تعمق څخه کار اخلي ددې په لوستلو او څیړلو کې خپل اخیری توان مصروفوي، د کتابونو په لاس ته راوړلو او خاصو لویو کتابخانو د جوړولو لپاره بی دریغه پیسی مصرفوي، او په هر ځای کې په څرګنده توګه اعلان کوي چې عربی ادب د تعظیم او احترام وړ ادب دی! او که څوک ددې کوښښ وکړی چې د نصاراو په کتابونو د استدلال په ذریعه هغوي ته قناعت ورکړي په ډیره سپکه لهجه ځواب ورکوي او ورته وایی: دا کتابونه د اهتمام وړ نه دي.

ای افسوس! چې نصاراو خپله مورنۍ ژبه هم هیره کړه، نن په زرو کې یو تن هم داسی نشته چې په صحیح لاتینی ژبه یوه وړه رساله ولیکي، او ددې برعکس د هغه کسانو شمیر نشته چې د عربي ژپی په لیکلو او لوستلو ښه پوهیږي، بلکې داسی خلک خو هم شته چې په عربي ژبه شعر وایی، او تر دی حده یې عربی یاده کړی چې په دی کې پخپله د عربانو څخه هم وړاندی دي[49].

(49) الله لیس کذلك، زیغرید هونکه، ص 42.

ددی عبارت څخه دا په څرګنده توګه معلومیږی چې د عربی ثقافت تاثیر په هغه وخت کې په ځوانانو څومره وه، له یو پلوه د کلیسا له لوری په هر ډول علمی کار بندیز لګیدلی وه او له بله پلوه عربي ثقافت هر هغه څه خلکو ته وړاندی کول چې هغوي ورته اړتیا درلوده، بناء خلک عربي ثقافت ته رامات شول، او په دی توګه دی ثقافت خپل تاثیر په اروپایی نړی باندی پریښوده.

## دویم: صلیبی جنګونه

په داسی حال کې چې په یوولسمه پیړی کې د کلیسا مشرانو ټوله اروپا د مسلمانانو پر ضد په داسی توګه راوپاروله چې هر مسیحي وګړې یې د مسلمانانو د وینو تږی کړ، په ځانګړی توګه د کلیسا مشر اوربان دوم چې غوښتل یې د پخواني کلیسایي مشر پاپ جریجوری السابع هغه نیمګړی هدف تکمیل کړی چې مسیحیان به یې په دی راپارول چې د حضرت مسیح علیه السلام قبر[50]!! د کفارو (مسلمانانو) په لاس کې دی او هغه د ورانیدو د خطر سره مخامخ دی، هغی به په دی ټکو د مسیحی وګړو احساسات د مسلمانانو پر ضد راپارول ویل به یی: (علیکم أن تطهروا الأرض المقدسة التی یعیش فیها إخوانکم المسیحیون من أولئك الرعاع) تاسی باندی فرض دی چې هغه پاکه زمکه چې هلته ستاسی مسیحي ورونه اوسیږی ددې پستو (سپکو) خلکو (مسلمانانو) څخه پاکه کړی، همدا راز به یي ویل: موږ ته به څومره لویه رسوایی وي، او موږ ته به څومره لوی عار او شرم وي که چېری دا کفار (هدف یې مسلمانان دي) چې د حقارت نه پرته د بل شی لیاقت نه لري، هغه قوم چې د انسانی کرامت نه یې ځان لوڅ کړی دی، هغه ډله چې ځان څخه یې د شیطان بندګان جوړکړي دي، که چېری دی کفارو ته د الله تعالی په برګزیده ملت (نصاراو) باندی غلبه تر لاسه شي[51].

په ۲۷ نومبر کال ۱۰۹۵م کې د کلیسا همدی مشر (اوربان دوم) د فرانسی په کلیر مونت کې د لومړي صلیبی جنګ اعلان وکړ، د همدی جنګ په نتیجه

(50) سره له دی چې حضرت عیسی علیه السلام د هغوی په عقیده هم د دری ورځو نه وروسته اسمان ته ختلی دی!!.
(51) الله لیس کذلك، زیغرید هونکه، ص 23.

کې صليبيانو بيت المقدس ونيوه او د اروپايي مورخينو د وينا سره سم يې په هغه مقدس ښار کې هغه څه وکړل چې قلم يې د ليکلو څخه عاجز دی[52] د همدی صليبي جنګ په نتيجه کې په بيت المقدس کې مسيحی حکومت قائم شو، او د همدی څخه د صليبي جنګونو لړۍ پيل شوه، دوهم صليبي جنګ په کال ۱۱۴۴م کې وشو او حمله ناکامه شوه، بيا په کال ۱۱۸۷م کې سلطان صلاح الدين ايوبی بيرته بيت المقدس د صليبيانو څخه ازاد کړ، له دی وروسته هم صليبيانو متعددی حملې وکړی چې په بشپړه توګه د شکست سره مخ شوی، دی ناکاميو دوه پايلی درلودی:

**لومړی:** دا چې خلک د کليسا په دين بی باوره شول، او دی نتيجی ته ورسيدل چې که د کليسا دين حق وی نو په دی توګه به د شکست سره نه وی مخامخ شوی.

**دوهمه:** دا چې ددې جنګونو په نتيجه کې چې د مسلمانانو او اروپايي مسيحيانو ترمنځ کوم تعامل رامنځته شو د هغی په نتيجه کې اروپايي مسيحيانو ته د مسلمانانو او اسلام له نږدی څخه د مطالعی زمينه برابره شوه، ډير خلک د مسلمانانو او په ځانګړی توګه د صلاح الدين ايوبي په څير د صالحو انسانو د لوړو اخلاقو شاهد ؤ، ددی لوړو اخلاقو څخه ډير خلک متأثر او اغيزمن شول، چې دی کار په اروپا کې د مسيحيت او کليسا پر ضد د پاڅون زمينه لا برابره کړه، په دی باب زيجريد هونکيه وايي: په پايی کې صليبيانو په بشپړه توګه شکست وخوړ، او لويديځ د ډيری لوی صدمی سره مخامخ شو، او يو شمير خلکو دا ډول سؤالونه مطرح کول پيل کړل: ايا دا د الله فيصله او تقدير نه دی چې په مسيحيانو يې عذاب نازل کړ؟ ايا الله تعالی د محمد پيروانو ته په مسيحيت باندی برلاسی او غلبه ورنه کړه؟ دا څه باندی چې دوی (مسيحيان) اخته شول ايا هغه شرم او سپکاوی نه دی چې پاپ به تری تر هر څه زيات ويريده؟ ايا د الله له لوری د غضب او انتقام په توګه الله تعالی محمد ته په مسيح باندی غلبه او برلاسی ورنکړ؟ ايا دا ددې دليل نه دی چې کومو خلکو ته به چې پاپ (د مسيحيانو مذهبی مشر) حقيران او د شيطان بندګان، کافران او فاجران ويل هم

---

(52) الله ليس کذلک، ص ۲۱ ـ ۲۲.

هغوی په حق دی؟ ریکولدوس خو له دی هم مخکی ځی او دا سؤال مطرح کوي: ایا د محمد برکتونو او هدایت بی له شکه د مسیح لاری ته شکست ورنه کړ؟ او انقلابی شاعر اوستورک خو په خپل شعر کې لړ نور هم وړاندی ځی او وایی: ایا ددې وخت نه دی رارسیدلی چې موږ په محمد ایمان راوړو؟[53].

دا عبارت په څرگنده توگه دا وایي چې په صلیبی جنگونو کی د شکست په نتیجه په اروپا کې یو خوځښت پیل شو، هلته خلک د اسلام مطالعی ته راغب شول او دی ته تیار شول چې اسلام مطالعه کړي، او دا وګوري چې هغه کوم دین دی چې مسیحیانو ته یې داسی پرله پسی شکستونه ورکړل؟ او دا د کلیسا لپاره یوه صدمه وه، ځکه د اسلام د مطالعی په نتیجه کې د اسلام او د کلیسا دواړو حقیقت خلکو ته څرگندیده.

## دریم: رشدی فلسفه

هغه بل لامل چې اروپا کې د کلیسا پر ضد د پاڅون لامل وگرځیده هغه اروپا ته د ابن رشد د فلسفی ننوتل ؤ، په لومړی پیل کې کله چې په اروپا کی د ابن رشد افکار خپریدل پیل شول،کلیسایي مشرانو ابن رشد د کفر او الحاد نماینده او د هغی افکار یې کفر، الحاد او زندقیت وبلل، تر څو په دی توگه وتوانیږی چې ددې افکارو مخی ته بند واچوی، او له خپریدو څخه یی مانع شی، په حقیقت کې خو نه ابن رشد لادینه او علمانی وه، بلکې پخپله د مسیحیانو په څیر د ارسطو پیرو او تمجید کونکی وه، مگر توماس الاکوینی او نورو مسیحی مفکرینو د هغی افکار او اراء یوازې له دی امله ردول چې هغه یې د اسلام سره تړلي گڼل، او هغه یې په کفر، الحاد او زندقیت باندی متهم کاوه، چې په دی توگه هغه د عربی فکر او ثقافت د نماینده په توگه خلکو ته معرفي او وړاندی کړی، او دا ثابته کړی چې (د کلیسا د خود ساخته دین په خلاف) د کفر، الحاد او زندقیت خوځښت او حرکت د شرق څخه را وارد شوی حرکت دی، ترڅو په دی توگه وتوانیږی چې ددې افکارو پر ضد د هغه حساسیتونو، تعصباتو او دښمنیو څخه گټه واخلی چې د عربی ثقافت او فکر په وړاندی د غرب او اروپا

(53) الله لیس کذلك، ص 24.

په مسیحی نړۍ کې له پخوا څخه موجود و، او د پیړیو پیړیو راهیسی کلیسا د هغی په خپرولو کی رول لوبولی وه.

د ابن رشد اروپایی اتباعو او په اروپا کې هغه نوی راپورته شوی عقلانی خوځښت چې د کلیسا او د هغی د هر اړخیز استبداد پر ضد یې د پاڅون اراده کړی وه، او د عربی ثقافت څخه اغیزمن وه په ډیری خوشحالی د ابن رشد هغه انځور قبول کړ چې کلیسا د خلکو په ذهنونو کې ترسیم کول غوښتل (چې هغه د کلیسا د نظام پر ضد د کفر او الحاد نماینده دی) او همدا یې د کلیسا پر ضد د وسلی په حیث استعمال کړ، ځکه ابن رشد پخپله د علم او معرفت سمبول وه او په علمي نړۍ کی یی خپل ځای درلود، د کلیسا مخالفینو د ابن رشد د همدی نیک نامی څخه استفاده وکړه او کله چی کلیسا د هغی مخالفت کاوه نو هغه خلکو ته داسی معرفي کړه چی د هر علمي خوځښت مخالفت کوي، په دی توګه د ابن رشد افکار دوه ځله د تحریف سره مخامخ شول:

لومړی د کلیسا له پلوه، چې هغه یې په کفر او الحاد متهم کړ، او دوهم ځل د هغی سره د متعاطفینو او د هغی د اتباعو له پلوه چې غوښتل یې د هغی د شهرت څخه استفاده وکړي او د هغی[54] افکار د وسلی په حیث د کلیسا پر ضد استعمال کړی، او د کلیسا د استبداد څخه پری ځان وژغوری.

په دی توګه ابن رشد او د هغی (د تحریف سره) ترجمه شوی افکار د کلیسا د مخالفت رمز او سمبول وګرځیدل، او په ډیر سرعت او تیزی سره خپاره شول، په دی توګه رشدی فکر په هغه علمي مراکزو او لویو پوهنتونونو او جامعاتو کې (چی د کلیسایی استبداد پر ضد د پاڅون مراکز بلل کیدل) د رهبری او سیادت مقام ترلاسه کړ، لکه په ایټالیا کې د (بادوفا) پوهنتون چې وروسته بیا د رشدی فکر اساسی مرکز وګرځید[55]، رشدی فکر په هغه وخت کې په اروپا کې هغه حیثیت غوره کړی وه چې نن سبا په عالم اسلام او دریمه نړۍ کې

---

**(54)** اوس هم یو شمیر غرب مشره لیکوالان ابن رشد د همدی الحادی، او د مطلق دین پر ضد د یو انقلابی فکر په حیث وړاندی کوي، چی دا په حقیقت کی د هم هغه اروپایی فکر تر تاثیر لاندی صورت نیسی او سرته رسیږی.

**(55)** تاریخ الفلسفة الحدیثة یوسف کرم ص: ۱۰.

اروپایی نوګرایی او سیکولر فکر غوره کړی دی، لکه څنګه چې هغه چا ته چې د غربی نوګرایی او سیکولر فکر سره نا اشنا وی هغه د غرب ګرایانو په نزد وروسته پاتی بلل کیږی، همدا راز په هغه وخت کې به په علمي حلقو او کړیوکې هغه څوک چې د ابن رشد د افکارو سره به اشنا نه وه متخلف او وروسته پاتی بلل کیده، دا د هغه محاوری څخه په بشپړه توګه په ډاګه کیږی چې د (بترارک) او د ابن رشد د افکارو د یو پیرو ترمنځ پیښنه شوی وه، کله چې بترارک د پولس په څه خبره استدلال وکړ نو د ابن رشد هغه پیرو په ډیری استهزاء سره ورته وویل:ته دی دا ډول معلمین خپل ځان سره وساته، پاتی شوم زه نو زما خپل معلم او راهنما دی، او زه پوهیږم چې په چا عقیده ولرم ... ته پخپله صالحه نصرانی! اوسه، پاتی شوم زه نو زه له دی خرافاتی قصو څخه په هیڅ شی هم ایمان نه لرم، ستا پولس او ستا اوګسطین او هغه ټول خلک چې ته ورته ډیر اهمیت ورکوي د خبرلوڅانو څخه پرته بل څه نه ؤ، کاشکی چې تا د ابن رشد د افکارو د مطالعی توان درلودی چې ددې بی حیثیته خلکو (د افکارو) څخه ډیرو ښو او اعلی افکارو ته رسیدلی وی[56].

په دی توګه د ابن رشد افکار په هغه بڼه چې د اروپایانو له پلوه ترجمه شوی ؤ د کلیسا د مخالفینو لپاره د راجمع کیدو بنسټ وګرځیدل، او پخپله ابن رشد ددې فکر محور وګرځیده.

د ابن رشد فلسفه خو سره له دی چې د ارسطو د فلسفی تفسیر وه، او د نوی زمانی فلسفیانو ددې فلسفی پر ضد شدید احساسات درلودل او دا ځکه چې دا فلسفه کلیسایي دین خپله کړی وه[57]، بلکې د خپلو عقایدو برخه یې ګرځولی وه، مګر چونکه په عین وخت کې ابن رشد ددې کلیسیایی یا تومایی (توماس الاکوینی) فلسفی د مخالفت رمز بلل کیده له دی امله د نوی فکر لپاره یې هم د یو رمز رول ولوباوه.

او کله چې اروپایانو د کلیسا پر ضد د پاڅون فیصله وکړه نو د ابن رشد افکار یې د تحریف سره ترجمه کړل په داسی توګه چې هغه یې د لادینیت رمز

**(56)** إرنست رينان، ابن رشد والرشدية ص 341.
**(57)** همدی ته مدرسي فلسفه ويل کيږي.

وګرځاوه، په دی توګه رشدی فلسفه او د رشدی فلسفی اروپایی اتباعو د کلیسا پر ضد د پاڅون لپاره لاره هواره کړه.

## څلورم: ظلمونه، وژنی او د تفتیش محاکم

یو د هغه لاملونو او اسبابو څخه چې په اروپا کې یې خلک د کلیسا او کلیسایی دین پر ضد راوپارول هغه ظلمونه، وژنی او د عقائدو د تفتیش او پلټنی محکمی وی چې د کلیسا له لوری سرته رسیدلی، د عقائدو د اختلاف له امله د خلکو محاکمه کول خو له پیل څخه په نصرانیت کې وجود درلود مګر تر کال ۱۲۳۱م پوری دا کار په انفرادي توګه د کلیسا دینی مشرانو کاوه، مګر کله چې دا کار په انفرادی توګه د کلیسا په دیني مشرانو ثقیل شو نو په هم دی کال پاپ ددې لپاره یوه ځانګړی مؤسسه و ټاکله چې وروسته هغه د (تفتیش د محکمی) د عقائدو د پلټنی د محکمی په نوم یاده شوه، یو څیړونکی (ریبوني) وایی: دی محکمو د یو ملیون څخه زیات هغه کسان ووژل او له منځه یې یوړل چې هغوی باندی د مسیحي عقائدو د مخالفت، د سحر او کوډو تهمت وه او یا هم هغه یهودان او مسلمانان چې مسیحیت کې خو داخل کړی شوی ؤ مګر د هغوي په ولاء او اخلاص کې شک موجود وه[58]، دا ډول محاکم د مسیحیانو ټولو فرقو درلودل، په دی کې د کاتولیکیانو او پروتستانتیانو فرق نه وه، د عقائدو د پلټنی دا محکمی به د دینی شخصیتونو له خوا تنظیمیدلی او کله به چې په چا فیصله وشوه بیا به هغه پولیسو ته سپارل کیده چې په هغی باندی حکم نافذ کړي، په ۱۲۵۱م کال کې دی محاکمو ته ددې اجازه ورکړ شوه چې د متهمانو څخه د اعتراف اخیستلو لپاره هر ډول تعذیب استعمالولی شي، ددې په نتیجه کې کلیسا فیصله وکړه چې د څوارلس کلنو هلکانو او په جنکیو کې د دولس کلني پوری په متهمینو د تعذیب استعمال قانوني دی، بیا په هسپانیا کې دا تفریق هم ختم شو، او هلکانو او نجونو دواړو لپاره د تعذیب د استعمال لپاره د لس کلنۍ عمر وټاکل شو، او که کوم ماشوم به له دی څخه وړوکی وه د هغی مشرانو ته به په محکمه کې د حاضریدو اجازه ورکول کیده، ډیر ځله په ۷ کلنی کې هم ماشومان تعذیب کړی شوي محاکمه شوی او اعدام شوي دي، د ملحدینو ماشومان به د خپلو

(58) الالحاد و أسبابه ص ۸۱، ا.د. زینب عبد العزیز.

پلرونو د تبعیت په بنسټ ملحد بلل کیدل، او که عمرونه به یې د تعذیب او محاکمی نه ؤ، نو د ګرمو اوبو په لوښو کې به واچول شول، لاسونه به یې وتړل شول، او بیا به یې د هغوي د مړوندونو رګونه پری کړل چې د وینی د ضائع کیدو په نتیجه کې له منځه ولاړ شي، د دی محاکمو له نظره دا د ژوندي سوزولو په پرتله د رحم تعامل بلل کیده.

ددی محاکمو په نتیجه کې د مسیحي عقائدو سره مخالفت کونکي، په سحر او جادو باندی متهم خلک، هغه مسلمانان او یهودان چې په نصرانیت مجبور کړی شوي ؤ مګر په اخلاص کې شک وه، همدا راز ساینس پوهان او د علمي فلسفی څیړونکی تعذیب کړی شول، دلته د یو څو مشهورو علماو او څه نورو شخصیتونو یادونه کوو چې دکلیسا لخوا د الحاد په تور باندی وژل شوي دی:

جیو فروي فالیه د فرانس یو قهرمان چې په کال ۱۵۷۴م کې د الحاد په تور اعدام کړی شو، سره له دی چې هغه په الوهیت ایمان درلود، مګر د ادیانو سره یی دښمنی لرله ځکه چې د هغی له نظره ادیان د انسان په زړه کی ویره او خوف اچوي، له دی سره یې ددې څخه انکار کاوه چې حضرت عیسی علیه السلام دی د اقتداء او اتباع وړ شخصیت وي[59].

جوردانو برونو د فلکیاتو یو مشهور عالم وه چې د کوپرنیک فلکي نظریه یې خپله کړه، او اعلان یې کړه، ددې ترڅنګ یی طبیعت د الله د تجلی یوازیني مظهر وباله، بلکې ددې قائل وه چې دا طبیعت او الله یو شی دی، د دری ګونو اقانیمو انکار یې وکړ حضرت عیسی علیه السلام یې یو دجال معرفی کړ، په کال ۱۵۴۸م کې کلیسا اعدام کړ[60].

په کال ۱۵۸۷م کې بومبو نیو راستیکو په روم کې اعدام شو، ځکه چې د هغی رای دا وه چې په مقدس کتاب کې راغلی قصی د استهزاء او استخفاف څخه پرته د بل څه مستحقی نه دی[61].

---

(59) الالحاد فی الغرب ص ۱۶ رمسیس عوض،مؤسسة الانتشار العربي، بیروت، وسینا للنشر، القاهرة، مصر، لومړی طبع ۱۹۹۷م.
(60) همدا مصدر ص ۴۷- ۴۹.
(61) همدا مصدر ۲۷.

بارثو لومیو لیګات په کال ۱۶۱۲م کې اعدام کړی شو ځکه چې هغه د حضرت عیسی علیه السلام د الوهیت انکار کاوه، او هغه یې یو انسان ګاڼه[62].

په همدی کال ۱۶۱۲ کې یو بل شخص ادورد وایټمن هم اعدام شو ځکه چې هغی د تثلیث نه انکار کاوه، او ددې انکار یې کاوه چې الله دی د دری اقانیمو څخه مرکب وي، د عشاء ربانی د قدسیت انکار یې کاوه او د اطفالو د تعمید (په مسیحیت کې د شاملو مراسم) هم مخالف وه[63].

په کال ۱۶۱۹م کې جولیو سیراز فانیني د الحاد په تور اعدام کړی شو[64].

په کال ۱۶۴۴م کې په فرانس کې فیرانت بالا فیسینو اعدام کړی شو، ځکه چې هغی په دی اعتراض درلوده چې کلیسا علم او معرفت احتکار کړي دي، او خلک جاهل ساتل غواړي، او دا یې رای وه چې جنسي بی لاریتوب یو طبیعي کار دی[65].

په کال ۱۶۵۱م کې جون اسکاتلندي له دی امله اعدام کړی شو چې هغی د تثلیث او د حضرت عیسی د الوهیت انکار کوه، او ادیانو پوری به یې استهزاء کوله[66].

په اروپا کې د مثقفو خلکو او اهل فکر شخصیتونو اعدامونه ډیر زیات ؤ دا څو مو د نمونی په توګه وړاندی کړل، لورنتي (د د تفتیش د محاکمو سکرتر) وایي چې په دوه کلونو کې د ۱۷۹۰م څخه تر ۱۷۹۲م پوری څه نا څه دیرش زره تنه ژوندی سوځول شوي دي[67]، د اروپا وګړو ددې اعدامونو څخه د ځان ژغورلو یوازې نی لاره د دین څخه ځان خلاصول بلل، او د همدی امله یی د کلیسا د استبداد پرضد پاڅون وکړ.

(62) همدا سابقه مصدر ص ۶۷.
(63) الالحاد فی الغرب ص ۶۸.
(64) همدا سابقه مصدر ۲۷.
(65) همدا مصدر ص ۲۹.
(66) همدا سابقه مصدر ص ۱۱۱.
(67) التاریخ الأسود للکنیسة، دي روزا ص ۱۲۰.

## د ذکر شوو لاملونو اغیزی

د ذکر شوو لاملونو او اسبابو په نتیجه کې د هر څه دمخه د کلیسا د فکري، علمي او معرفتي استبداد پر ضد پاڅون رامنځ ته شو، او دا ځکه چې د هغه تحریفاتو په نتیجه کې چې په نصرانیت کې په بیلا بیلو وختونو او د بیلا بیلو لاملونه له امله رامنځ ته شوي ډیر داسی څه د کلیسایي دین برخه گرځیدلي ؤ چې یوازې د انسانانو اراء او افکار ؤ، یوازې دا نه بلکې د علم په بیلا بیلو څانگو او په ځانگړی توگه د تجریبي علومو په ډیرو تفصیلي قضایاو کې د مقدس کتاب او د هغه د شارحینو تفصیلي اراء موجودی وی، چې د زمانی په تیریدو سره د دین داسی برخه گرځیدلی وی چې د هغی نه منل کلیسا ته د دین څخه د انکار سره مرادف ښکاریده، حال دا چې هغه یا خو د ارسطو، بطلیموس او نورو یوناني اوروماني فلسفیانو په نظریاتو ولاړی وی او یا هم د نورو انسانانو افکارو او اراو بناء وی چې هیڅ ډول قداست یې نه درلود، بلکې د دین او فلسفی ترمنځ د توافق د پیدا کولو په غرض د مسیحی مجامعو او د کلیسا د علمي او دیني شخصیتونو لخوا حمایه او خپلی کړی شوی وی چې په دی توگه د هغه وخت د فلسفي نظریاتو سره د مخالفت له امله په مسیحیت اعتراض ونه کړی شي، بناء ددې لاندی دوه لاملونو له امله د علم او کلیسا ترمنځ شدید اختلاف رامنځته شو:

**لومړی:** هغه انسانی افکاروته د تقدس په سترگه کتل چې د وخت په تیریدو سره د دین برخه گرځیدلي ؤ، د بیلگی په توگه د عناصر اربعه[68] تصور، او دا چې ددې کائناتو مرکز زمکه ده، همدا راز هغه طبي تصورات چې په خرافاتو ولاړ ؤ او د مرض علاج د یو لړ ځانگړو دینی مراسمو په جوړولو، او یا د حضرت مریم علیها السلام عکس او یا د صلیب نبنه د مریض سرته په ایښودلو کې لټول.

(68) پخوانی فلسفیان په دی یقین وو چی په کائناتو کی هر ډول ماده د نسبتونو په تفاوت سره له څلورو عناصرو څخه جوړه ده چی هغه عبارت دی د اوبو، اور، خاوره، او هوا څخه، او بنسټیز عناصر هم همدا څلور دي، له دی پرته نور عناصر نشته، په طبیعی توگه کله چی علماو ولیدل چی عناصر بی شمیره دی نو ددی او داسی نورو علمی قضایاو چی د دین برخه گرځیدلی وی د خلکو په اذهانو کی د دین په باب شکوک را پیدا کړل.

**دوهم:** دداسی قضایاو په باب په ټولو خلکو داسی تسلط قائمول چې هغه د کلیسا د مکلفیتونه څخه په یقینی توګه خارجی وی، د بیلګی په توګه په تجربیي علومو کې خلک دی ته اړ کول چې د خپلو تجاربو نتائج پرېږدی او د هغی پر ځای د کلیسا خبره ومني، ځکه د هغوي په نزد د صحت او خطاء معیار یوازې او یوازې کلیسا ګڼل کیده.

په دی باب شیخ ابو الحسن علی الندوی چې د بشریت په تاریخ باندی ډیر ژور نظر لري داسی وایی: په اروپا کې د دینی مشرانو د لویو غلطیو او په خپل ځان باندی د لویو جنایتونو او په هغه دین باندی ـ چې دوي یې نمایندګی کوله ـ د لویو ظلمونو څخه تر ټولو لوی جنایت او ظلم دا وه چې دوي په خپلو دینی کتابونو کې انساني معلومات، او د تاریخ او جغرافیا او طبیعی او ساینسی علومو په باب د هغه زمانی مسلمات ور داخل کړل، کیدلی شي چې دا هغه معلومات وي چې په هغه زمانه کې ورته د انسان علم رسیدلی وي، او دا د هغه زمانی داسی حقائق وي چې د هغی زمانی خلکو په کې یوه ذره هم شک نه درلود، لکن دا خو په هغه زمانه کې د انساني علم انتهاء وه، که چېرته دا په هغی زمانه کې د انساني علم اخیري نتائج هم وی نو بیا هم په کې تعارض او تغییر رامنځ ته کیدلی شي، ځکه چې انساني علم خو په تدرج سره مخ ته ځی او ترقی او پرمختګ پکی راځي، نو څوک چې په داسی څه خپل دین دروي نو دا د هغه چا په څیر دی چې یو لوی قصر د شګو په غونډی باندی تعمیرول غواړي.

کیدلی شی دوي دا کار په ښه نیت کړی وي، مګر دا د دوي لخوا په خپلو ځانونو او په خپل دین تر ټولو لوی جنایت او ظلم وه، ځکه چې دا د علم (ساینس) او دین ترمنځ د هغه نا مبارک اختلاف او جنګ لامل شو، هغه جنګ چې په اخر کې په کې هغه دین شرمناک شکست وخوړ چې هغه د انساني علم سره ګډ شوی وه چې په هغی کې حق او باطل، او خالص او ناخالص (کوټه) دواړه قسم شیانو وجود درلود. رجال دین (دینی مشران) داسی ولویدل چې بیا پکی د راپورته کیدو توان نه وه، او ددې ټولو څخه بدتره او خرابه خبره دا چې اروپا بی دینه او ملحده شوه.

رجال دین (دینی مشرانو) یوازې په هغه څه اکتفاء ونه کړه چې په خپلو کتابونو کې یې شامل کړي ؤ، بلکې هر هغه جغرافیای، تاریخي، او مادي

(ساینسي) معلومات به یې هم مقدس ګڼل چې د خلکو په منځ کې به مشهور شوی ؤ، او د تورات او انجیل څه شارحینو او مفسرینو به ذکر کړي ؤ، او هغی ته به یې دیني بڼه ورکوله، او هغه به یې د دین د تعلیماتو او هغه اصولو څخه شمیرل چې باید خلک پرې عقیده ولري او څه چې ددې مخالف وي هغه خلک پرېږدي، په دی باب یې کتابونه ولیکل، او دا جغرافیا یې (د بیلګی په توګه) چې الله تعالی پرې هیڅ کوم دلیل نه دی نازل کړی هغه یی مسیحي جغرافیا وبلله، او په بشپړه توګه یې خپله کړه او هر چا چې دا د خپل دین برخه نه ګرځوله هغه به یې کافر ګاڼه[69].

په داسی حالاتو کې چې د کلیسا ددې تعامل په نتیجه کې کلیسایي دین خپل اعتبار له لاسه ورکړ، او هغه څه چې د وحي او مقدس کتاب په نوم په ټولنه کې حاکم ؤ د لارښوونی مصدر پاتی نه شول او د اروپا خلک د داسی نوو مصادرو په لټه کې ؤ چې د مقدس کتاب پرځای تری لارښوونه ترلاسه کړی، همدا وخت وه چې د اروپا خلک د هغه علومو او معارفو په نتیجه کې چې د اسلامي نړۍ نه هلته په بیلا بیلو طریقو منتقل کیدل د عمیق خواب څخه را بیدار شول او هغه منهج او طریقه یې یاده او خپله کړه چې اسلام د هغی په اساس او بنسټ د تجریبی علومو سره تعامل کوي، او هغه دا چې هر هغه تجریبي علم چې د بشریت لپاره مفید او ګټور وی هغه درست ګڼي د تجریبي علومو په باب تفصیلي اراء هم په خلکو نه ورتپي او نه یې پری فرض کوي بلکې خلکو ته ددې فرصت ورکوي چې خپل عقول استعمال کړي او نوی او ګټور شیان استنباط کړي.

په دی وخت کې مطبعه هم ایجاد شوه چې د علم او معرفت په نشر کې یې ډیر مهم رول ولوبوه، دی ټولو پرمختګونو اروپایان دی ته وهڅول چې د کلیسا د غیر معقولو تصوراتو او په ځانګړی توګه د هغه نا سمو او نادرستو معلوماتو چې د تجریبي علومو سره اړیکی لرلی پر ضد عکس العمل څرګند کړي او د منلو څخه یې انکار وکړي، او ددې پر ځای چې کلیسا خپلو دی اشتباهاتو ته متوجه شی په خپلو نظریاتو یې ټینګار وکړ، او هغه څوک چې په علمی میدان کې به یې د تجربی علومو په بنسټ نظریات قائمول او د مسلمانانو د علومو

(69) ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمين ص ۱۵۷، طبع مكتبة الايمان، المنصورة، امام جامعة الأزهر، القاهرة.

ځخه به یې استفاده کوله تر سخت فشار لاندی ونیول، هغوی لپاره یې ځانګړی تفتیشی محاکم وټاکل، چې دی کار د علم او کلیسایي دین[70] ترمنځ کشمکش نور هم شدید کړ، د کلیسا لپاره د بده مرغه تر ټولو دمخه دا تضاد او کشمکش په طبیعی علومو کې پیل شو.

په پیل کې خو کلیسا د استبداد ځخه کار واخیست او ډیر علماء او پوهان یې وځپل او ووژل، مګر په پایی کې د کلیسا په مقابل کې د تجریبي علومو ځخه د دفاع کونکو لور درنده او غالبه شوه او کلیسا مغلوبه شوه، خو دلته یوه لویه اشتباه چې رامنځ ته شوه هغه دا وه چې د کلیسا د احمقانه تصرفاتو په مقابل کې چې کوم رد عمل را ښکاره شو هغه ددې پر ځای چې د کلیسا او د کلیسایي دین د تحریف شوو او ناسمو افکارو په مقابل کې منحصر پاتی شي، په کلی توګه یې د دین په مقابل کې حساسیت پیدا کړ، بلکې د عقل په تقدیس او د هر هغه ځه په انکار باندی منتج شو چې د مادی موجوداتو تر څنګ د ماوراء طبیعی موجوداتو اقرار کوي، یعنی وحي او هغه ځه چې عقل او تجربه یې نه ثابتوی (په دی معنی چې هغه د عقل او په ځانګړی توګه د تجریبي عقل د دائری ځخه بیرون دي، مګر هیځکله د هغی په نفي هم حکم نه کوي) هغه یې د خرافاتو او بی بنسټه قصو ځخه پرته بل ځه نه بلل، او په دی توګه اروپا په بشپړه توګه د الحاد په غیږ کې ولویده، دلته ددې امکان موجود و چې اروپا د بشپړ الحاد په طرف د تللو پرځای هغه درست دین ته رجوع کړی وای، چې هغه د وحي پر بنسټ ولاړ دی، د عقل او علم فیصلو ته اهمیت ورکوي، او دا کائنات یوازې په مادی وجود کې منحصر نه ګڼی، مګر په منځنیو پیړیو کې د ددې دین (اسلام) پر ضد د کلیسایي نظام د ناروا او نادرستو تبلیغاتو له امله دا کار تر سره نه شو، او فلسفیانو او ساینس پوهانو پر ځای ددې چې اسلام مطالعه کړي د همدی ناوړه

(70) چې په فلسفه کی د مطلق دین او علم ترمنځ د کشمکش او تضاد د عنوان لاندی راوړل کیږی، حال دا چی علم د مطلق دین سره په تضاد کی واقع نه دی بلکه د کلیسایی دین سره په تضاد کی واقع دی بلکه د هغه ځه سره په تضاد کی واقع دی چی هغه د پخوانیو انسانانو افکار دی چی د وخت په تیریدو سره د نصراني دین برخه ګرځیدلی دی، او دا ځکه چی علم پرمختګ کوي په هغه وختونو کی علم دومره پرمختګ نه وه کړی کله چې دا نظریات راپیدا شول او د دین برخه وګرځیدل، نو اوس چی کله علم پرمختګ وکړ نو هغه پخوانی نظریات د علم سره په ټکر کي واقع شول، او هغه نظریات چونکه د دین برخه ګرځیدلي وه نو خلکو داسی وانګیرله چی دین د مطلق علم او په ځانګړی توګه د تجریبي علم سره په تناقض کی واقع دی.

تبلیغاتو په نتیجه اسلام هم د کلیسا په تحریف شوي دین باندی قیاس کړ، او په ډیره نادرسته او غلطه توګه یې دا تصور وکړ چې ټول ادیان په جوهر کې یو څیز دی، له دی امله یی د ټولو ادیانو پر ضد یو ډول دریځ غوره کړ، او د الحاد په لوری یې حرکت وکړ، په اجمالی توګه همدا د اوسنی اروپا سرګذشت وه اوس لږ په تفصیل سره ګورو چې دا کار په کوم تدریج سره سرته ورسید، او څنګه اروپا په قرار قرار د الحاد لمن ته پریوته.

چونکه د کلیسا پر ضد په لومړي سر کې رشدي فلسفه (د ابن رشد لاتینی ژبې ته ترجمه شوي فلسفي افکار) د وسیلې په حیث استعمال شوه، او بیا فوري وروسته د کوپرنیک د فلکي نظریاتو ورته مرګوني ګذارونه متوجه کړل، نو په وروستیو پیړیو کې علم (ساینس) او فلسفی داوړو په ګډه د کلیسایي دین پر ضد دریځ غوره کړ، او چونکه فلسفه هم په دی وروستیو پیړیو کې په بشپړه توګه د علم (ساینس) تر تاثیر لاندی وه، بلکه ساینس د فلسفی یوه برخه بلل کیده، او ساینس ته علمي فلسفه ویل کیدله، له دی امله په عامه توګه په غرب کې مؤثرو فلسفي مدارسو او ساینس پوهانو یو ډول دریځ غوره کړ، او چونکه علم (ساینس) په مادي لحاظ ډیری زیاتی لاس ته راوړنی هم درلودی چې خلک یې د افراط تر حده مغرورکړي ؤ نو دی غرور په قرار قرار خلک د الحاد لور ته وهڅول، او تصور یې دا وکړ چې ساینس او تجربيي علومو په الله تعالی باندی د ایمان درلودلو اړتیا له منځه وړی ده، سره له دی چې درسته خبره دا وه چې دا یې ویلی وای چې تجربيي علومو د هغه خرافاتو د منلو اړتیا ختمه کړی ده چې په کلیسایي دین کې ننوتی ؤ، مګر دوی دا خبره په داسی توګه تعمیم کړه چې د الله تعالی د وجود څخه په انکار متج شوه او د مطلق غیبی وجود څخه یې انکار وکړ او په دی توګه غرب د بشپړ الحاد په لمن کې پریوت، دا څرنګه په تدریجي توګه تر سره شو، د دی سرګذشت په لاندی کرښو کې لولو:

### لومړی: د رنسانس (Renaissance) خوځښت

د کلیسا پر ضد چې لومړی کوم حرکت پیل شو هغه د رینیسانس خوځښت و چې په اټالیا کې په ۱۴ میلادي پیړۍ کې د مدیچي کورنۍ (د اټالیا د پادشاهانو یوه کورنۍ) په وخت کې پیل شو، دا حرکت په طبیعی توګه د مدرسي فلسفی (په

منځنیو پیړیو کې د مسیحیت فلسفه چې په اروپا کې یې رواج درلود) په مقابل کې پیل شو، ددوی بنسټیز هدف دا وه چې پخوانی یوناني ثقافت راژوندی کړي، دا په حقیقت کې کوم جماهیری خوځښت نه وه بلکې د یو شمیر متقفو خلکو حرکت وه، په دی خوځښت کې اصلا د انسان په اختیار باندی ډیر ترکیز کیده، ځکه چې په منځنیو پیړیو کې انسان یو فاقد اختیار موجود وه، همدا راز د انسان او د خدای ترمنځ د واسطی په نفي ډیر ترکیز صورت نیوه، همدا راز د دوی له نظره د بشریت د سعادت یوازیني لاره د پخوانیو یوناني علومو را ژوندی کول ؤ، او نظري علوم لکه ما وراء الطبیعت او داسی نور شیان یې ناروا بلل ځکه دا انسان په عملی ژوند باندی کومه اغیزه نه لري، ددې عصر د مشهورو شخصیتونو څخه میکاولی، لیوناردو دافینشی، میکلانګلو، ارازموس، رابلیه او مونتینی ؤ، دا خوځښت د اغیزی په لحاظ دومره مؤثر نه وه چې د کلیسا حاکمیت ته صدمه ورسوي خو د خپلو افکارو په لحاظ د کلیسا د مخالفت لومړی خوځښت بلل کیږی.

### دویم: د دینی اصلاح (Religious reform) خوځښت

د کلیسا پر ضد دویمه لویه معارضه د دینی اصلاح د خوځښت له لوری رامنځته شوه، دا خوځښت په لویدیځه اروپا کې په ۱۶مه پیړۍ کې د کاتولیکی کلیسا په داخل کې د یو اصلاحی خوځښت په حیث پیل شو چې وروسته یې د یو عقیدوي خوځښت بڼه غوره کړه او د پروتستانتي فرقی په نوم مشهور شو، د کلیسا پر ضد د دی ډول خوځښتونو پیل خو له ډیر پخوا راهیسی شوی د بیلګی په توګه په ۱۴ پیړۍ کې د (جون ویکلیف) خوځښت، بیا وروسته هغه خوځښت چې (جان هوس) یی مشري کوله، خو د رینیسانس د حرکت او نورو عواملو په نتیجه کې زمینه دی ته برابره شوه چې دا خوځښت په پوره قوت سره پیل شي، همدا وه چې کله مارتن لوتر په ۳۱ اکتوبر ۱۵۱۷م کې خپل ۹۵ مادیزی غوښتنی د فیتنبرګ په کلیسا راوزړولی، چې بنسټیز غوښتنی یی دا وی چې باید د مغفرت ورقی (صکوک الغفران) نوری د کلیسا د مشرانو لخوا په خلکو ونه ویشلی شي، خلک باید پخپله مقدس کتاب ولولي او د مقدس کتاب د تفسیر حق یوازې د کلیسا سره په احتکار کې نه وي، او په دی توګه یې د کلیسا بنسټیز

عقاید نقد کړل او علنی مخالفت یې ددې پیل کړ، چې بیا ددې په نتیجه کې ډیر جنګونه رامنځ ته شول، خو کلیسا ته یې یو مضبوط ګذار ورکړ، او د کلیسا د واک لپاره یې یو چلنج رامنځ ته کړ، په خلکو یی د کلیسا او کلیسایی مشرانو تسلط راکم کړ، چی په نتیجه کی اروپا هغه ازادي تر لاسه کړه چی په پای کی په الحاد منتج شوه.

### دریم: د علمي فلسفې او کلیسا ترمنځ کشمکش

بیا وروسته د کلیسا او ساینس ترمنځ هم داسې یوکشمکش را پیدا شو چې په نتیجه کې یې ددې دواړو څخه یو باید پاتی شوی وی، او بل له منځه تللی وای او یا په بشپړه توګه ضعیف شوی وی، چونکه علم چې په هغه وخت کې د طبیعی فلسفی په نوم یادیده خلکو ته یې داسی څه تقدیم او وړاندی کړل چې هغوي ورته اړتیا درلوده، د هغوي مادي مشکلات یې حل کول، او تر ټولو مهمه دا چې د عقل سره برابر ؤ نو بناء خلکو د کلیسا پر ځای علم ته ترجیح ورکړه چې په نتیجه کلیسا او کلیسایي دین دا معرکه هم بایلوده او په دی توګه یې هر څه له لاسه ورکړل، او چونکه علم د کلیسا سره په رد عمل کی واقع شو نو د عقلاني دریځ پر ځای یی داسی دریځ غوره کړ چی په رد عمل ولاړ و، د علمي او د تجربي علومو همدی دریځ اروپا د الحاد په لور سوق کړه، چې ددې تفصیل په لاندی ډول دی.

## کوپرنیکي انقلاب

کلیسا په دی عقیده درلوده چې زمکه د دی کائناتو مرکز دی، او دا ځکه چې په دی باندی دویم اقنوم (د مسیحیانو په نزد خدای د دری اقانیمو څخه مرکب دی، او همدی ته د تثلیث عقیده ویل کیږي) عیسی متجسد شوی دی، په همدی باندی د فداء او خلاص عملیی ترسر شوي دي، په همدی عشاء ربانی خوړل کیږی، او په مقدس کتاب کې راغلی دی "الأرض قائمة أبد الدهر والشمس تشرق، والشمس تغرب، وتسرع إلى موضعها حيث تشرق"[71] زمکه د همیش

(71) قصة النزاع بين الدين والفلسفة ص 203 تاليف: د. توفيق الطويل، طبع مكتبة الآداب، بالجاميز، بمصر، د طباعت د تاریخ نه بغیر.

لپاره قائمه او دائمه ده، همدا لمر دی چې راخیژی او پریوزی، او په ډیر سرعت سره هغه ځای ته ځان رسوي له چېرته نه چې راخیژی، دا عقیده کلیسا د بطلیموس د نظریې څخه اخیستې وه او بیا یې د تقدس وصف ورکړی وه تر دی چې ددې مخالفت یې د مقدس کتاب مخالفت باله، سره له دی چې ددې عقیدی د مقدس کتاب او دین سره هیڅ اړیکی نه وی[72].

د کلیسا بله عقیده دا وه چې دا زمکه کروي شکل نه لری بلکې مسطح شکل لری او د هغوي په اند دا ځکه چې دا خو ډیره د بی عقلی خبره ده چې څوک دا عقیده ولری چې څه داسی انسانان شته چې د هغوی پښنی د هغوی د سرونو دپاسه وی، همدا راز د هغوی له نظره دا هم د پوره بی عقلی خبره ده چې څوک دا عقیده ولری چې څه ونی او بوټی ښکته لور ته د نمو او غځیدو په حال کې دی[73]، او دا یې هم ویل که دا ربښتیا شی چې دا زمکه کروی شکل لری نو بیا خو دا ضروری او اړین دی چې مسیح علیه السلام د زمکی هغه بل مخ ته هم ورشی او هلته باید په دار کړی شی چې هغوی ته هم (خلاص) او نجات تر لاسه شی[74] په دی احمقانه استدلالاتو دوی د زمکی د کرویت نفی کوله.

د لومړی ځل لپاره یې چې کلیسا ولړزوله هغه په همدی باب د (نیکولس کوپرنیک) (Nicolaus Copernicus) نظریه وه چې په کال ۱۵۴۳م کې یې را ښکاره کړه او لنډیز یې دا وه چې زمکه د دی کائناتو مرکز نه دی، بلکې پخپله زمکه د لمر تر شا او خوا څرخیږی او دا چې زمکه مسطحه نه بلکې بیضوی الشکله ده، سره له دی چې د کوپرنیک څخه د مخه هم څه خلک داسی ؤ چې د کلیسا د عقیدی په خلاف یې دا رای درلوده چې د زمکی نور اړخونو هم اباد دی او زمکه مسطحه نه ده مګر کوپرنیک هغه څوک وه چې دا یې ولیکل، ددې کتاب لیکل ددې لپاره کافی وه چې هغه د د تفتیش د محاکمو لخوا په سختی سزا محکوم کړی شی مګر د هغی طالع په دی کې وی چې د کتاب د انتشار څخه

(72) الالحاد فی الغرب، ۴۵- ۴۶، رمسیس عوض، سیناء للنشر، القاهرة، الطبعة الأولى عام ۱۹۹۷م.
(73) دوی خو چونکه د کشش ثقل د قانون څخه خبر نه وو نو دا یی تصور نشو کولی چی ښکته او پورته شاته مخکی او داسی نور نسبی جهتونه دی، حقیقی جهتونه نه دی، یعنی څوک چی د زمکی په بل اړخ دی دا ضروری نه ده چی زموږ ښکته دی د هغوی لپاره هم ښکته وی.
(74) قصة النزاع بين الدين والفلسفة ص ۱۶۷.

وروسته ډېر ژر وفات شو، مګر ددې سره سره کلیسا د هغې کتاب چې (د فلکی توکو حرکت) (Revolutions of the heavenly bodies) نومیده ممنوع اعلان کړ، او ویې ویل چې دا د داسې شیطانی وسوسو څخه ډک دی چې د انجیل د روح سره په تناقض کې واقع دی[75].

کلیسا داسې فکر کاوه چې د کوپرنیک په مرګ به دا مسأله سړه شی او له منځه به ولاړه شي، مګر دا درسته نه وه، ځکه چې د هغه د وفات څخه لږ کلونه وروسته یو بل ایټالوي فلکي عالم او فیلسوف چې جوردانو برونو ( Giordano Bruno) نومیده دا بیا را پورته کړه، او کله چې کلیسا ونیوه نو پخپله خبره یې اصرار وکړ بناء د کلیسا لخوا په کال (۱۶۰۰م) کې ژوندی وسوځول شو.

لږ وخت وروسته (ګالیلو) تلسکوپ جوړ کړ او د تجربی په بنسټ یې هغه څه ثابت کړل چې کوپرنیک او نورو مخکی خلکو په نظري توګه ویل، د کلیسا لخوا ونیول شو، سره له دی چې عمر یې (۷۰) کالو ته رسیدلی وه بیا هم د کلیسا د محکمه تفتیش لخوا ونیول شو، او د یوی اوه کسیزی محکمی لخوا په زندان محکوم شو، او تر دری کالو پوری هر هفته یو وار د توبی د (مزامیرو) په لوستلو محکوم کړی شو، کله یې چې ددې احساس وکړ چې ژوند یې د جوردانو په څیر خاتمه پیدا نه کړی نو د محکمی په وړاندی یې داسی اعتذار وړاندی کړ: زه ګالیلو یم د خپل عمر اویا کلنې ته رسیدلی یم، زه بندي او ستاسی محترم په وړاندی سرټیټې ولاړ یم، مقدس کتاب می مخ ته ایښی دی په خپل لاس یې لمس کوم، زه هغه نادرست او الحادي نظر چې د زمکی د څرخیدو قایل دي ردوم او حقیر یې ګڼم او لعنت پري وایم[76].

دا دعلم او هغه څه په باب چې د تجربي په بنسټ ثابت شوي ؤ د کلیسا او کلیسایي دین د مشرانو دریځ وه، د کلیسا دی دریځ او همدا راز هغه علمي لاس ته راوړنو چې کوپرنیک، جوردانو او ګالیلو درلودي په اولسمه پیړۍ کې په

(75) کتب غیرت وجه العالم ص ۲۱۵ – ۲۳۳ د (رابرت ب ـ داونز) لیکنه او د (امین سلامة) ترجمة، طبع الهیئة المصریة العامة للکتاب، کال ۱۹۷۷م.
(76) قصه النزاع بین الدین والفلسفه ص 197- 198، وکواشف زیوف المذاهب الفکریة المعاصرة ص ۴۸ د شیخ عبد الرحمن حسن حبنکة المیدانی لیکنه.

علماو او ساینس پوهانو ډېرې ژورې اغیزې مرتب کړې، چې یو لړ یې په لاندې ډول خلاصه کولی شو:

**لومړۍ:** د حقیقت مطلقه تصور چې د کلیسا تر اغیزې لاندې اوسیدونکو اروپایانو په ذهنونو کې د پیړیو پیړیو راهیسې ترسیخ شوی وه له منځه ولاړ، په دې معنی چې ډېر داسې شیان ؤ چې هغې ته به اروپایانو د ثابتو حقایقو په سترګه کتل، او د هغوی له نظره د هغې د مناقشې امکان وجود نه درلود، د هغې په باب چا د شک اظهار هم نه شو کولی، په ځانګړې توګه هغه څه چې د کلیسا لخوا ورته د عقایدو درجه ورکړ شوې وه چې په دې کې د زمکې په باب د هغوی عقاید هم شامل ؤ د کوپرنیک او د هغې د اتباعو لخوا دا ډول حقایق بې حیثیته شول، او په دې توګه د مطلقو حقایقو تصور له منځه ولاړ، چې دې پخپله د شکاکیت لپاره لاره هواره کړه، او دا ځکه چې کله داسې شیان چې خلکو ورته د پیړیو پیړیو راهیسې د مطلق حقیقت په سترګه کتل د حقیقت څخه لیرې او باطل ثابت شول نو نور هر څه ته د شک په سترګه لیدل پیل شول.

**دوهمه اغیزه:** دا وه چې د کوپرنیک او په ځانګړې توګه د ګالیلو تجربوې لاس ته راوړنو د مثقفو خلکو په ذهنونو کې د کلیسا اعتبار هم په بشپړه توګه له منځه یوړ، او دا ځکه کله چې په علمي لحاظ او د تجربې په بنسټ د کلیسا یو لړ معتقدات غلط ثابت شول نو د مثقفو خلکو سره د کلیسا د ټولو معتقداتو او د هغه ټولو معلوماتو په باب چې مصدر یې کلیسا وه همدا تصور ایجاد شو چې دا ټول د اعتبار څخه لویدلي شیان دي، په دې توګه کلیسا بلکې مطلق دین د مثقفینو له نظره فاقد الاعتبار وګرځیده، او دې نتیجې ته ورسیدل چې د کلیسا مقدس کتابونه او نصوص د علم لپاره د اعتماد وړ مصادر نه دي.

**دریمه اغیزه:** ددې معارضې دریمه اغیزه دا وه چې ددې مثقفو خلکو په نزد حقیقت ته د رسیدلو یواځیني لار عقل او تجربه وګرځیده، له دې څخه دمخه د هر ډول معلوماتو یواځینی سرچینه کلیسا او د مقدس کتاب تحریف شوي نصوص ؤ، خو چونکه په فوري توګه دا ممکن نه وه چې د مقدس کتاب پرځای د علم او معرفت مصدر عقل او تجربه وګرځي نو یوه فتره داسې وه چې خلکو د شکاکیت په حالت کې تیره کړه، چې د پخوانیو (د مقدس کتاب څخه لاس ته

راغلی) هر ډول معلوماتو څخه اعتماد پورته شو، او نوی داسی کوم موثق معلومات نه ؤ چې اعتماد پری شوی وی.

## د علم (ساینس) او کلیسا ترمنځ کشمکش

په اولسمه پیړۍ کې د علم، تجربی او د مقدس کتاب د نصوص ترمنځ کشمکش یو بل شکل غوره کړ چې هغي ته د دین او عقل ترمنځ د کشمکش عنوان ورکړ شو، په پیل کې د کلیسا او د محاکم تفتیش له ویري چا ددي څرګندونه نشوه کولي خو په پایي کې بیا عقلاني خوځښت په بشپړ قوت سره د کلیسایي دین پر ضد ودریده، چې هغي بیا د مکمل الحاد شکل غوره کړ، په دي پیړۍ کې زیات مؤثر شخصیتونه علماء او فلسفیان موجود ؤ چې په وروستیو زمانو یې خورا زیاتی اغیزی درلودی، ددوی له جملی څخه لاندی شخصیتونه ډیر مهم دی:

### فرانسس بیکن (۱۵۶۱-۱۶۲۶)

د منهج او تګلاری له حیثیته فرانسس بیکن د نوی علم (ساینس) بنسټ اینبودنکی بللی شو، سره له دی چې نه خو په عملي لحاظ فرانسس بیکن کوم د ملاحظی وړ کامیابۍ ترلاسه کړی او نه په علمي لحاظ، مګر د هغی اهمیت په دی کې دی چې هغه د لومړیو هغو کسانو له جملی څخه وه چې د ارسطویی فلسفی (چې د کلیسا لخوا د تبنی کولو له امله هغه په منځنیو پیړیو کې مسیحی فلسفه ګرځیدلی وه) او افلاطونی فلسفی پر ضد یی بیرغ پورته کړ، بیکن د ارسطویی منطق په باب ویل: چې دا په هیڅ شکل د نوي اختراع لپاره وسیله نشی ګرځیدلی، ددې منطق دلایل خو موږ د نتیجی په منلو مجورووی مګر هیڅکله هم کوم نوی شی نشی اختراع کولی، دا تجربه د ځان پسی راکاږی لکه هغه چې یې په قید او بند کې وی! یعنی ددې پر ځای چې دا د تجربی تابع وی تجربه خپله تابع ګرځوی.

بل کوم شدید نقد یې چې ارسطویی او قدیمی یوناني فلسفی ته متوجه کړ هغه دا وه چې د معرفت په هدف کې یې بدلون راوست، په پخوانی یوناني فلسفه

کې د علم او معرفت اصل هدف د شیانو د غایت او غرض په باب سوالونه مطرح کول ؤ، بیکن دی ته ستره ضربه متوجه کړه، د هغی نظر دا وه چې د علم او معرفت هدف د شیانو د غرض او غایت بیانولو پر ځای باید په کائناتو د انسان تسلط وتاکل شي، د بیکن په عقیده د هغی د لوې اصلاحي خوځښت موخه او هدف دا وه: ( معرفة الأسباب والحركة الخفية للأشياء، وتوسيع حدود المملكة الانسانية توسيعا من شأنه أن يتيح لنا التأثير فى كل الأشياء الممكنة )[77] د اسبابو، علتونو، او د شیانو د پټو حرکتونو پیژندل او ادراک، او د انسانی تسلط دومره پراختیا چې په ټولو ممکنو شیانو باندی اغیزه ولرلی شو.

بیکن چې بل کوم تمیز درلود هغه د هغی استقرائی منهج وه، دا منهج د واقعی، حادثی، او موجود شي د حالت په ملاحظی پیل کیږي او د هغی واقع په باب د طبیعی قوانینو په استنباط بشپړ کیږی او سرته رسیږی، چې د هری پدیدې او واقعی په باب څیړونکی دری فهرسونه جوړوي، چې په یو فهرس کې هغه مثالونه راجمع کوي چې زیر بحث او زیر نظر حادثه تأیدوي، په دویم فهرس کې د هغی واقعی مخالف مثالونه راجمع کوي، او په دریم فهرس کې د زیر بحث او زیر نظر حادثی داسی مثالونه راټولوی چې په درجه کې متفاوت او مختلف وی، او ددې دری واړو فهرسونو د مقارنی په نتیجه کې د هغی پدیدی طبیعی قانون ته رسیږی[78]، سره له دی چې د فرانسس بیکن دا استقرائی منهج د شدید نقد سره هم مواجه شو مګر په هغه وخت کې یې د ارسطویی منهج پر ضد یو ګام پورته کړ، او له همدی امله فرانسس بیکن د جدید علم (ساینس) د مؤسس په حیث پیژندل کیږی.

## دیکارتی انقلاب (۱۵۹۶ - ۱۶۵۰)

په اروپا کې په شپاړسمه پیړۍ کې په فکري لحاظ یو د اضطراب کیفیت حاکم وه، شک خپلي پنجي کلکي کړي وي، د کوپرنیک او ګالیلو او نورو د علمي څیړنو په نتیجه کې کلیسایي دین، د هغوي مقدس کتاب خپل اعتبار د لاسه ورکړي وه، او د هغي په اساس بناء شوي ایمان د نړیدو په حال کې وه، همدا

(77) الموسوعة الفلسفية المختصرة ، مراجعه: د. زكى نجيب محفوظ ص ۱۴۹.
(78) الموسوعة العربية الميسرة ج ۲ ص ۸۸۷.

راز د ارسطو فلسفه چې مسيحيانو خپله کړي وه، او نوم به يي خلکو د سند په حيث منلو او د منځنيو پيړيو مدرسی فلسفه د فرانسيس بيکون (1561- 1626) د استقرايي منهج په نتيجه کې له منځه ولاړه، او تر هغه وخت پوري علمي منهج هم په بشپړه توګه مستقر شوي نه وه، او تجريبي منهج خپل افاديت هم تر هغه وخته پورې په بشپړه توګه نه وه ثابت کړی چې د يوازينی منهج په حيث راڅرګند شی، د اضطراب، شک او بي باوري په دي فضاء کې ديکارت پيدا شو او د نوي فلسفي بنسټ يي کيښوده چې د يوی لوري يي د شک د مذهب پر ضد مبارزه پيل کړه او له بل پلوه يي د کليسا د فکري استبداد څخه د نړۍ د ژغورلو دنده په غاړه واخيسته، د همدي امله ورته (د نوی فلسفی پلار او مؤسس) ويل کيږي.

هغه د منهجي شک په بنسټ د خپلي فلسفي بنياد کيښود، او د هغه عقل څخه پرته _ چې حدس (Intuition) د هر حقيقت لپاره يواځيني معيار بولي _ بل هر مصدر او مرجع يي مسترد کړ، او حقيقت ته د رسيدلو لپار يي دوه مرحلي وټاکلي:

**لومړي حدس او بداهت (Intuition):** ددي څخه د ديکارت مطلب هغه تصور دي چې په نفس سليم کې د يو فطري او طبيعي نور څخه راپيدا کيږي او انسان ته د بسيطو افکارو د فهم توان وربښي.

**دوهم استنباط (Deduction):** دي ته استدلال هم ويلي شو، او دا هغه فکري نشاط او خوځښت ته ويل کيږي چې په نتيجه کې يي د مجهول شي علم د معلوم شي څخه په لاس راځي.

ديکارت د خپلی عقلي اتجاه د تاکيد په خاطر د رياضي منهج ضوابط وضع کړل، او دا يي د هر ډول حقيقت د کشفولو يواځيني لاره وبلله، په دي منهج کې لومړني قاعده (يقين) وه، ددي قاعدي معنی دا وه چې يو باحث بايد هيڅ يو شي هم د حقيقت په حيث قبول نه کړي تر څو چې د ازاد عقلي (چې د هر ډول ميتافيزيکي قيودو څخه ازاد وي) بحث په نتيجه کې په داسي توګه ثابت نه شي چې د هيڅ ډول شک او شبهي مجال په کښي نه وي.

ددي قاعدي په نتيجه کې هغه ټول معارف او احکام چې د کليسا لخوا د مقدس کتاب او يا په کوم بل شکل کې خلکو ته رسيدلي ؤ، او يا يي په وړکتوب کې د کوم عقلي بحث څخه پرته په ذهن کې ترسيخ شوي ؤ، او يا هم هغه افکار چې عقل د هغي په باب کامل يقين ته نه وه رسيدلي داسي ټول معارف د ديکارتي منهج او تګلارې په نتيجه کې د سوال لاندي راغلل او خپل حيثيت يي د لاسه ورکړ، او مرجعيت يي بايلوده.

له بل پلوه ديکارت هم يو د مادي مذهب لرونکو فلسفيانو له جملې څخه وه او د نړۍ په باب يې ماشينی نظريه درلوده، او تصور يې دا وه چې ټول کائنات د درې موجوداتو څخه عبارت دی، لومړی: ماده، دوهم: نفس، او دريم: الله، دی د نفس او الله څخه پرته نور د هر څه په باره کې د مادي او ماشينی نظريی قائل وه.

د ديکارت دي نظرياتو کليسايي نظام ته داسي مستحکمه ضربه متوجه کړه چې په پاي کې د هغي د له منځه تللو لامل وګرځيدل، همدا کافي وه چې ديکارت د کليسا د تعذيب د پنجي لاندي راشي، مګر چونکه ديکارت له يوي خوا غوښتل چې د هغي فلسفه په اروپا کې د ارسطو د فلسفي ځاي ونيسي، او له بلي خوا يي غوښتل چې په اطمينان سره خپل علمي بحث ته ادامه ورکړي او د تفتيش د محاکمو په لاس د هغه انجام سره مخامخ نه شي چې (جوردانو بورنو) او د هغي په څير نور ډير خلک ورسره مخامخ شوي ؤ، او دا يواځي هغه وخت ممکن وه چې کليسا او د کليسا واکداران خفه نه کړي[79]، له دي امله يي هر هغه څه چې د کليسا واکداران پري خفه کيدل يا خو اصلا نه نشرول او يا به يي د خپل نوم څخه پرته نشر ته سپارل.

## کليسايي عقائد د عقل څخه لوړ دي!

د همدي ملاحظي له امله ديکارت د خپل منهج لومړي قاعده په ټولو معارفو تطبيق کړه او يواځي وحي او دين يي ددي قاعدي څخه مستثنی وګرځول، د خپل

(79) مګر ددي ټولو کوښښونو سره سره هغه د کليسا د غضب څخه بچ نه شو، په الحاد متهم کړي شو او په ژوند او مرګ د کليسا د غضب څخه بچ نه شو، دي لپاره وګورئ: قصه النزاع بين الدين والفلسفه د. توفيق الطويل ص 173 – 176

شک اجراء یي د عقیدي په مباحثو کې نه کوله، ویل یي چې عقیده د عقل د مجال څخه بیرون شي دي، او ایمان یي د ارادی[80] د افعالو له جملي څخه باله، نه د ذهن او عقل د افعالو څخه، او عقل یي په فلسفي بحث کې منحصر ګڼه، او ویل یی: ایماني او دیني مباحث د عقل په دایره کې نه راځي بلکې دا د عقل د دایري څخه پورته شیان دي، هغه زیاتوي: نو دا هیڅکله د حکمت غوښتنه نه ده چې دا عقاید موږ خپلو ضعیفو عقلي استدلالاتو ته وسپارو او د هغي تابع یي وګرځوو، او دا ځکه چې په دي باب بحث یواځي او یواځي د اسماني مدد (وحي) په ذریعي ممکن دي، چې الله تعالی یي په خپلو خاصو بندګانو نازلوي، او کله چې دا وحي راشي نو دفعتا پرته د عقلي استدلال څخه دا عقیده داسي مرحلي ته پورته کړي چې هغه معصومه وي او د غلطۍ هیڅ احتمال په کښي نه وي[81].

دیکارت په حقیقت کې د علم په باب د ازدواجیت قائل وه، او دا به یې ویل چې کیدلي شي چې یوه قضیه د علم په معیار په بشپړه توګه نادرسته او غلطه وي خو هم هغه حکم د دین له نظره درست او صحیح وي او په دي کې هیڅ ډول تناقض نشته او دا ځکه چې د دین او علم د بحث میدانونه مختلف دي، په دي باب امیل بوترو وایي: دیکارت د علم او دین ترمنځ د استقلال په اصل تاکید کوي، چې د علم میدان طبیعت دي، او موضوع یې د طبیعت د قوتونو څخه استفاده ده، او وسائل یې تجربه او ریاضي منهج دي، او دین په اخرت کې د خلکو د انجام څخه بحث کوي، او په یو څو ځانګړو او ډیرو بسیطو او ساده عقایدو ولاړ دي چې د (منځنیو پیړیو د مدرسي الهیاتو) سره هیڅ تړاو نه لري، نو د علم او دین ترمنځ هیڅ مناسبت او د تعارض مجال نشته، او د دواړو څخه یو هم د بل تر تسلط لاندې نه دي، نو که دا دواړه (علم او دین) په طبیعي او روغه توګه پرمخ ولاړ شي نو هیڅ کله به هم یو بل سره مخامخ نه شي، او هغه زمانه تیره شوه چې دین به خپل نتایج په فلسفي باندي فرض کول، او دفلسفي کار به یواځي دا وه چې د هغي داصولو لپاره دلایل ولټوي او د هغې اصول

---

(80) په دی معنی چی عقائد څه بیرونی حقیقت نه لري، بلکه دا د ارادی پوری تړلي شیان دي، یعنی دین دی ته وایی چی یو څوک مثلا په خپلی ارادی سره د حضرت عیسی علیه السلام مرجعیت قبول کړي، ددی معنی دا نه ده چی هغه په حقیقت کی مرجع دی یا نه دی، او په داسی افعالو د صحیح او غلط حکم هم نه کیږي.

(81) د دیکارت د دي نظریاتو لپاره وګوري: قصه النزاع بین الدین والفلسفه ص 165 – 171.

شرح کړي، لکه په منځنيو پيړيو کې به چې کيدل، نو علم او دين په ذاتي توګه يو د بل څخه مستقل شيان دي[82].

يو شمير څيړونکي وايي چې د ديکارت دا نظر هم په حقيقت کې د کليسايي عقايدو په باب ددې څرګندونه وه چې دا ټول عقايد د عقل سره مخالف دي، مګر څرنګه چې د کليسا د عقائدو په باب د مطلق ايمان څخه د مطلق عقلانيت او د هغي پر بنسټ بيا د مطلق الحاد په لور د انتقال لپاره د يوې انتقالي زمانې يافترې اړتيا وه نو د علم او دين (وحي) د ازدواجيت[83] په باب د ديکارت او د هغه په څير د نورو فلسفيانو دا راى په حقيقت کې همدا انتقالي زمانه ده.

### (ب. پایل (B – Payle) ۱۷۰۶م)

يو له هغو فلسفيانو څخه چې د کليسا له ويرې څخه يې خپل اصلي افکار نه شو برملا کولی، خو د تهکم[84] ترپردې لاندې او په استهزائي اسلوب کې يې د کليسا پر دين په ډيره ژوره توګه نقد کړی، هغه (ب ـ پایل) دی، دا فيلسوف هم په فرانسه کې زيږيدلی دی، او بيا د کليسا لخوا هالينډ ته تبعيد کړ شوی دی، تر ټولو دمخه يې د انجيل ددې آيت چې (أجبروهم على اعتناق دينكم...) او په همدې باب د کليسا د يو پخواني ستر مشر أوګسطين په اقوالو د رد او د ديني تسامح د اثبات لپاره يې د (په ايت (أجبروهم...) تر سرليک لاندې کتاب وليکه، دا کتاب په کال ۱۶۸۶م کې خپور شو، بيا يې (قاموس فلسفي) وليکه، په دې کتاب کې يې هغه ټول اعتراضات راټول کړل چې د نصرانيت او ددې دين د بنسټيزو عقايدو د ابطال او ردولو لپاره ترې د اروپا خلکو استفاده کوله، ددې

---

(82) العلم والدين في الفلسفة المعاصرة ص 19 – 20 تاليف اميل بوترو، ترجمة: د. أحمد فؤاد الأهواني، الهيئة المصرية العامة للكتاب، عام 1973.

(83) په دې معنی چې يو قضيه کيدلی شي چې د عقل او علم له نظره بالکل نادرسته او غلطه وي مګر د دين له نظره هغه بالکل صحيح او درسته وي، د ازدواجيت دا تصور هغه وخت صحيح کيدلي شي چې هېڅ مفهوم ته خارجي واقعيت ثابت نه کړي شي او هغه يوائې نفسي قضيا وبلل شي لکه سوفسطائيان چې وايي، او که څوک چې د ديني معتقداتو هم خارجي وجود شته نو بيا دا خبره هيڅکله هم نه صحيح کيږي چې دوه متضاد شيان دي صحيح او درست وي، د بيلګې په توګه زمکه دي په يو وخت کې متحرکه او ساکنه وي، او يا دي مسطحه او بيضوي الشکله په يو وخت کې وي.

(84) تهکم استهزائی اسلوب ته ویل کیږی.

ترڅنګ یې کله چې د هغو قصو او خرافاتي واقعاتو په اساس چې د حضرت داود علیه السلام په باب په مقدس کتاب کې راغلي په ډیر صراحت سره ولیکل چې دا (چې مقدس کتاب یې د الله حبیب ګڼي) داسي څوک دی چې ته ورسره مصافحه کول هم نه تحمل کوي! او کله چې له دې امله د خلکو غصه را وپاریدله نو هغه د ځان خلاصولو لپاره وویل: دا د عقیدې مسائل دي او عقل باید د عقیدې څخه لیرې وساتل شي.

پایل دا هم وایي چې که یو څوک د عقل او منطق پر بنسټ مسیحي عقائد ومني نو هغه حقیقي مسیحي نه دی، حقیقي مسیحي هغه وخت انسان کیدلی شي چې هغه څه ومنی چې د عقل او منطق څخه اوچت وی، او هر څومره چې انسان د عقل او منطق څخه لیرې او مستبعد شیان انسان ومني هومره یې د ایمان قدر او قیمت زیات وي، په ظاهر خو پایل په دې توګه د ایمان او عقیدې څخه دفاع کوله خو په حقیقت کې یې د کلیسایي دین د عقل او منطق سره متضاد ثابتاوه.

همدا راز ددې اعتراض په ځواب کې چې هغه په خپل فلسفي قاموس کې د هغه چا ډیر تعریفونه کړي چې هغوی د الله تعالی د وجود څخه انکار کوي، پایل وایی: که ما داسې ملحد پیدا کړی وای چې د الله د وجود څخه انکار کوي، او کردار یې هم خراب وي نو ما به د هغه ډیر زیات مفاسد بیان کړي ؤ، خو ما د تاریخ په اوږدو کې داسې څوک پیدا نه کړ، خو بالعکس هر هغه مجرم چې د هغه ګناهونه او فساد انسان لړزوي هغوی ټول د الله په وجود ایمان لري، او دا ددې دیني عقیدي طبیعي نتیجه ده چې وایي شیطان دی چې انسان ګناهونو ته هڅوي، بیا وایي: په دې توګه انسان د ابلیس سره شباهت لري ـ ځکه هغه هم د الله د وجود انکار نشي کولی او دا متدین ظالم انسان هم همداسې دی ـ او آیا دا د الله د لوی حکمت دلیل نه دی چې په تاریخ کې په لویو ګناهکارانو کې یو هم ملحد نه وه، او د څومره ملحدینو واقعات او حالات چې موږ ته رارسیدلی دي هغوی ټول د مروت او شرافت خاوندان ؤ، او دا په دې خاطر چې الله انسان د لوی فساد څخه وساتي، ځکه که الحاد او ګناهونه دواړه سره په یو چا کې یوځای شوی وای نو دا دنیا به د ګناهونو طوفان پرمخ اخیستی وای[85].

(85) قصة النزاع بین الدین والفلسفة ص ۱۷۸- ۱۸۰

په دې ډول پایل د کلیسایي نصرانیت او عقل او منطق ترمنځ تناقض هم ثابت کړ، او د کلیسایي عقیدې برجونه یې هم ونړول، او دا ټول کار یې له کلیسایي عقیدې څخه د دفاع په نوم کاوه، نو په دې توګه وتوانید چې ځان د کلیسا او تفتیشي محاکمو د تهدید او محاکمې څخه هم وساتي او خپله خبره هم وکړي.

## توماس هوبز (۱۵۸۸ - ۱۶۷۹م)

یو د هغه فلسفیانو څخه چې کلیسایي دین ته یې ضربه متوجه کړه توماس هوبز وه، هوبز د انګلستان اوسیدونکی وه، او د یونان د پخوانی مادي فلسفی (د دیموقریطیس او ابیقور د فلسفی) را ژوندی کونکی بلل کیږی، هغه وایي چې دین اصلا په حقایقو ولاړ شی نه دی، بلکې د دین بنسټ د مجهولو قوتونو او مرګ څخه د انسان په ویره ایښودل شوی دی، او خدای ته چې موږ کوم صفات ثابتوو هغه په حقیقت کې څه بی حقیقته اوصاف دی چې زموږ په عجز باندی دلالت کوي، یعنی کله چې موږ هغه نه پیژنو نو له دې امله هغه ته دا ډول صفات ثابتوو، او هدف مو په کې دا وي چې موږ هغه مجهول قوت په داسې صفاتو وستایو چې د هغی عظمت په کې بیان شوی وي ترڅو هغه له موږ څخه خوشحاله شی[86] د دین په رابطه د توماس هوبز نظر دا وه چې دا په سیاسی لحاظ ګټور دی، او د حاکم په لاس کې په خلکو باندی د حکومت کولو یوه وسیله ده، نو بناء پکار دا ده چې د عقیدی، عبادت، او د مقدس کتاب د تفسیر پوری تړلي ټول مسایل د حاکم پوری اړه ولري، او د هغی خبره په کې نهائي وي، په دی توګه هغه دی نتیجی ته رسیږی چې دین یوازې د بانفوذه اشخاصو او حکومتونو د اهدافو د لاس ته راوړلو لپاره یوه وسیله ده[87] همدا راز هوبز د اخلاقو په رابطه په بشپړه توګه د ابیقور (پخوانی یوناني فلسفي) تابع وه، اخلاق د هوبز په نزد د لذت او انانیت په بنسټ ولاړ دی، او هر انسان د بل لپاره داړونکی درنده دی، هغه اخلاق د یوی وسیلی په څیر معرفی کوي او مادیت او نفعیت یې بنسټ ګڼي[88]. په دی توګه هوبز دین ته په عامه توګه او کلیسایي دین ته په ځانګړی توګه داسی ګذار متوجه کړ چې په پایی کې د کلیسا په شکست منتج شو.

---

(86) تاریخ الفلسفة الیونانیة، یوسف کرم، ص۴۰، قصة الفلسفة ول دیورانت ص ۳۱۷.
(87) وګوری: الله فی الفلسفة الحدیثة ص ۱۴۰.
(88) تاریخ الفلسفة الحدیثة، یوسف کرم ص ۵۵- ۵۶.

## جان لاک (J. Locke) ۱۷۰۴م

جان لاک چې یو انګریز پروتستانتي فیلسوف ؤ سره له دې چې د خپل پروتستانتي مذهب څخه یې کلکه دفاع کوله، او په دې باب یې یو کتاب هم لیکلي چې په هغې کې یې د دې خبرې د اثبات کوښښ کړی دی چې وحي او مسیحي دین د عقل سره هیڅ تناقض نه لري، او د دین او فلسفې ترمنځ توفیق او هم غږي هم آسانه او ساده کار دی، ددې کتاب نوم ؤ ( The Reasonableness of Christianity) یعنې (د عقل سره د مسیحیت تطابق) مګر دوه داسې آراء یې غوره کړل چې هغه کلیسا او د هغه وخت د کلیسایي دین د ځان لپاره خطرناک بلل، دا دوه مسایل په لاندې ډول ؤ:

**لومړی:** د حکومت او وحې د تسلط څخه د عقل آزادي: جان لاک په ډیره کلکه توګه د عقل څخه دفاع وکړه او هغه یې د (حکومت) او (نقل) یعنی نصوصو او وحي د تسلط څخه د ژغورلو لپاره سخته مبارزه وکړه، په دی باب یې خپل مهم فلسفی اثر (Essay on Human Understanding) یعنی (د انسانی عقل په باب یو مضمون) نومی کتاب ولیکه، په دی کتاب کې یې ددې خبری د اثبات کوښښ کړی چې تجربه د هر ډول معرفت منبع او مصدر دی، یوازې احساس دی چې د هغی څخه موږ ته د موجوداتو بیروني صورتونه ترلاسه کیږي، او یوازې د عقلي تأمل او تفکر په ذریعه موږ ته ذهني صورتونه په لاس راځي، نو په دې توګه یې معرفت او علم د حکومت له تسلط څخه ازاد کړ، او علمي حقیقت یې د هغه وخت د خرافی دین د قیودو څخه هم وژغوره، او دا په طبیعی توګه د کاتولیکی دین لپاره یوه لویه ضربه په دی وه چې هغوی د هر معرفت مصدر یوازې او یوازې د خپل مقدس کتاب نصوص بلل، او نور هر ډول معرفت او علم ته د هغوی په اند باید د مقدس کتاب په رڼا کې وکتل شی، که چېرته د هغی سره موافق وی نو د منلو وړ به وی او که د هغی سره مخالف وی نو که د هری لاری او هر دلیل په اساس چی ثابت شوی وي هغه نادرست بلکې کفر او هرطقه بلل کیده.

ددې ترڅنګ سره له دې چې جان لاک پخپله مسیحي وه مګر په دې یې تصریح کوله چې که وحي د عقل سره په تعارض او تناقض کې واقع شي، نو

باید وحي مسترد کړای شی، او په هیڅ ډول بیا د منلو وړ نه ده، او دا ځکه چې د وحي څخه ترلاسه شوی علم او معرفت په هغه درجه قطعي نه دی په کوم درجه چې د عقل څخه ترلاسه شوی علم او معرفت یقیني او قطعي وي، هغه په دې باب وایي: (ومن استبعد العقل لیفسح للوحي مجالا فقد أطفأ نور کلیهما، وکان مثله کمثل من یقنع إنسانا بأن یفقأ عینیه ویستعیض عنهما بنور خافت یتلقاه بواسطة المرقب من نجم سحیق!)[89] ځوک چې عقل یو طرف ته کوي چې د وحې لپاره میدان خالي کړی په حقیقت کې دا انسان د عقل او وحې –دواړو- نور او رڼا له منځه وړي، او مثال به یې د هغه چا په څیر وي چې بل انسان ته په دی قناعت ورکوي چې خپلې سترګې وباسي (ړندې کړي) او د هغو په بدل کې په هغې تتې رڼا باندې اکتفاء وکړي چې د یو بې نهایته لیرې ستوري څخه موږ ته د کوم تلسکوپ په ذریعه را رسیږي!.

**دوهم:** د اعتقاد آزادي: دوهمه مسأله چې جان لاک مطرح کړه او کلیسا او کلیسایي تفکیر ته یې پرې ګذار متوجه کړ هغه د عقیدې د ازادی قضیه وه، د جان لاک څخه دمخه د کلیسا د استبدادي نظام تصور دا ؤ چې هیڅوک د اعتقاد په غوره کولو کې ازاد نه دی، بلکې هر چا به خپل ځان په دې مجبور ګاڼه چې مسیحیت ومني، ددې ترڅنګ کله چې توماس هوبز دا ولیدل چې د کلیسا مشرانو هغه واک او اختیار چې هغوی ته حاصل ؤ غلط او نادرست استعمال کړ نو ددې غوښتنه یې وکړه چې دا واک باید د کلیسا له مشرانو څخه واخیستل شي او حاکمې طبقې ته دې وسپارل شي، او دا ځکه چې دوی د خپل عادل استبداد په ذریعه په دې توانیږي چې هغه دیني مسایل کنټرول کړي چې هغه د شخړو او جدل لامل ګرځي، نو بناء دوی ته دا حق حاصل دی چې خپل رعیت د هغه دین په منلو مجبور کړي چې دوی یې غواړي، مګر ددې دواړو نظریاتو برعکس، جان لاک د عقیدوي آزادۍ قائل ؤ، چې باید عقیده نه د دولت او نه هم د کلیسا د تاثیر لاندې وي، او دا ځکه چې عقیده د قناعت په نتیجه کې انسان خپلوي او دا قناعت د زور له لارې نه شي مسلط کیدلی[90].

---

**(89)** د جان لاک د نظریاتو د تفصیل لپاره وګورې: قصة النزاع بین الدین والفلسفة ص ۲۰۷.
**(90)** د تفصیل لپاره وګوری: قصة الصراع بین الدین والفلسفة ص ۲۰۶- ۲۰۸.

## پیندکت سپینوزا (Spinoza)

یو د هغه فلسفیانو څخه چې نصرانیت یې نقد کړ هغه یهودی مشربه فیلسوف وه چې سپینوزا نومیده، سپینوزا د وحدة الوجود قائل وه، هغه الله او طبیعت یو شی ګڼل، هغی به دا (الله چې هغه د هغی په نزد د طبیعت دوهم نوم دی) حقیقی ازلی موجود ګڼه، او هغه غیر متناهی جوهر به یې باله چې پخپله قائم دی او په خپل وجود کې کوم علت ته اړتیا نه لری، لانهائی تفکیر د هغی د اعراضو څخه دی، بشری نفوس او محسوس اجسام د هغی احوال بلل کیږی، په دی توګه سپینوزا د خالق او خلقت تصور مسترد کړ چې ټول ادیان پری اعتراف کوي، او رای دا وه چې ټول کونی ظواهر د الله څخه صادریږی[91].

همدا د وحدة الوجود د مذهب له امله سپینوزا د نصرانیت او همدا راز د نورو ادیانو د بنسټیزو قواعدو نه انکار وکړ، هغه -سره له دې چې په تاریخي لحاظ یې په حضرت مسیح علیه السلام ایمان درلود-، مګر د الله تعالی د عنایت[92] او رحمت منکر ؤ، په اخرت کې د بیرته راژوندي کیدو، ارواحو او پرښتو انکار یې کاوه، د غائي علتونو[93] څخه یې انکار کاوه، د الله اختیار او آزادي یې مستبعده ګڼله، د نصرانیانو د مقدس کتاب ظاهر یې نه قبلولو، ځکه چې په هغه کې داسې څه ؤ چې د هغه ذهن پرې نه خلاصیده، لکه د الله صفات او داسې نور. په دې توګه سپینوزا لکه (ولف) چې وایي: د خپل وخت دوه مقتدر نظریات او مذهبونه یې مسترد کړل، لومړی په حرفي توګه د مقدسو نصوصو فهم او په هغې التزام کول، او دوهم معجزات او خارق عادت کارونه.

د لومړي مذهب په باب یې نظر دا وه چې اصلا عقل د هر څه د حاکمیت څخه ازاد دی، که هغه مقدس کتاب وي او که هر څه وي، په عین وخت کې مقدس نصوص تاریخي وثیقې دي، او د ټولو تاریخي او ادبي وثیقو په څیر دا هم

---

**(91)** په صدور او خلقت کی فرق دی، او هغه دا چی صدور له ارادی پرته صورت نیسی، او خلقت په ارادی پوری تړلی دی.

**(92)** د الهی عنایت تعریف فلسفیان داسی کوي: (العناية هی علم الله بما ينبغی أن يكون عليه الوجود حتى يكون على أحسن نظام و أكمله) المعجم الفلسفی، د. جميل صليبا ج ۲ ص ۱۱۰.

**(93)** غائی علت تعریف داسی کوي: هی التی يكون وجود الشیء لأجلها یعنی علت غائی هغه څه ته ویل کیږی چی د یو شی وجود د هغی له امله منځ ته راځی، دی ته علة العلل هم ویل کیږی، دی لپاره وګوری المعجم الفلسفی ج۲ ص ۹۶.

په استعاراتو او مجازاتو مشتمل دی، او دا هم د حکمت له امله، ځکه چې ددې اصل هدف دمشاعرو راپارول دي، نو که دا په ظاهر باندی حمل کړای شي دا به درست نه وي، بلکې دې کې باید داسې تاویل وکړل شي چې د عقل سره هم برابر شي او د فهم وړ هم وګرځی.

همدا راز یې د مقدس کتاب په باب د نقد پیل وکړ او د متن په لحاظ یې ددې نقد وکړ، او دا یې ثابته کړه چې کوم کتاب چې حضرت موسی علیه السلام ته منسوب دی هغه د حضرت موسی علیه السلام د وخت نه ډیر وروسته لیکل شوی دی، ځکه په هغه کې د حضرت موسی د مرګ تذکره ده او دهغه له مرګ څخه وروسته دهغه مرثیي (ویرنې) په کی دي، دا په سفر التثنية کې دی او له دې وروسته ددې کتاب لیکونکی وایي: (د موسی علیه السلام نه وروسته د هغه په څیر بل پیغمبر نه دی راغلی) همدا راز اسپینوزا دا ثابته کړې چې په تورات کې د ځایونو داسې نومونه راغلي چې هغه د حضرت موسی علیه السلام د وفات نه ډیر وروسته په هغه ځایونو باندې اینبودل شوي دي[94]. په دې توګه اسپینوزا په هغه وخت د کلیسایي تصور سره په ټکر کې واقع شو ځکه کلیسا دا تصور درلود چې په مقدس کتاب کې وارد شوي ټول نصوص په ظاهر باندې حمل دي او هیڅ تاویل په کې درست نه دی، او عقل په دې نصوصو حاکمیت او تسلط نه لري، بلکې عقل باید ددې تابع وي، ځکه د علم او معرفت یوازینی مصدر د مقدس کتاب نصوص دي.

همدا راز یې له معجزاتو او خارق عادت کارونو انکار وکړ ځکه کله چې د هغه په نزد الله او طبیعت د یو شي نوم دی نو د خوارق د اثبات څخه د طبیعي حوادثو او د الله تعالی د فعل ترمنځ تناقض او تعارض لازمیږي، او دا درست کار نه دی، له دې امله یې دا عام تصور یې مسترد کړ چې د خوارق عادت په اثبات د الله تعالی عظمت ثابتیږي او د نفي له امله یې د الله تعالی انکار لازمیږي[95].

(94) دی لپاره وګوری د اسپینوزا کتاب رسالة فی اللاهوت والسياسة ترجمة دكتور حسن حنفي او په ځانګړی توګه اوم فصل تفسير الكتاب، او اتم فصل البرهنة على أن الأسفار الخمسة ليست صحيحة ص ۲۳۲ او له دی وروسته، طبع دار التنوير للنشر والطباعة والتوزيع، بيروت، لومړی طبعه کال ۲۰۰۵م تقديم د. فؤاد زكريا.

(95) د تفصيل لپاره وګوری رسالة فی اللاهوت والسياسة ص ۲۱۳ شپږم فصل المعجزات.

## اسحاق نیوټن (۱۶۴۲ - ۱۷۲۷م) یا نیوټني انقلاب

یو له هغو شخصیتونو څخه چې په دې پیړۍ کې پیدا شو او سره له دې چې پخپله یې د الله تعالی په وجود قوي ایمان هم درلود مګر د الحاد په غیږ کې یې د اروپا د غورځولو لپاره بشپړه زمینه برابره کړه هغه اسحاق نیوټن وه (چې په کال ۱۶۴۲م کې پیدا شوي) اسحاق نیوټن چې کله د کوپرنیک، برنو جردانو او ګالیلو د اکتشافاتو په رڼا کې د جاذبیت نظریه وړاندې کړه او دا یې د ریاضي په یو شامل قانون باندې ثابته هم کړه نو دې کار هغه خلک چې د کلیسا د استبداد په نتیجه کې د دین څخه بیزاره شوي ؤ دې نتیجې ته ورسول چې (د طبیعي ظواهرو تفسیر د یو بل سره د ارتباط[96] په ورکولو ممکن دی، نو بناء دې ته اړتیا نشته چې انسان په دې ایمان ولري چې په کائناتو کې کوم داسې قوت (یعنې الله) هم مداخله کوي چې هغه د دې کائناتو جزء نه وي)[97] همدا د نیوټن نظریه وه چې په حقیقت کې یې (طبیعي دین) ته لاره هواره کړه او دې نظریې ته په بشپړه توګه ظروف اماده کړل چې دا کائنات د یو مشین په څیر د کوم غیبي قوت د مداخلې څخه پرته حرکت کوي، دا نظریه د ( میکانیکي نظریې) په نوم یادیږي، چې د نیوټن څخه وروسته تقریبا د ټولو فلسفیانو او ساینس پوهانو رایې وه.

## د نیوټن د نظریې اغیزې

کله چې نیوټن د جاذبیت نظریه تقدیم کړه نو د کلیسایي دین مخالفینو ـ چې د کلیسا دغلط او نادرست دریځ په نتیجه کې مطلق دین مخالفین وګرځیدل ـ د داسې یو برې احساس وکړ چې اوس نو په دې کائناتو کې پیښیدونکې هره پیښه

(96) په دې توګه چې هره ظاهره د بلې لپاره مباشر علت وي او یا د بلې ظاهرې معلول وي، ددوی د نظر سره سم نور نو په الله باندې ایمان ته اړتیا نشته ځکه دوی په الله تعالی ځکه ایمان درلود چې د دنیوي ظواهرو تفسیر ورته مشکل وو او باید دا ظواهر یې ما وراء الطبیعي قوت ته منسوب کړي، خو دوی چونکه په دې نه پوهیږي چې د کومې ظاهرې د مباشر علت د معلومولو معنی دا نه ده چې غائي علت (چې هغه الله تعالی دی) انسان تجاهل کړي، ځکه چې په دې کائناتو کې بلکې د علت او معلول ددې قانون په اینښودلو کې مؤثر حقیقي یواځې او یواځې الله تعالی دی.

(97) العلوم والدین ص۱۹.

د دې قانون په اساس تفسير کيدلی شی، له دې امله نو د کوم داسې غيبي قوت په وجود ايمان ته اړتيا نه ليدل کيږي چې مخکې به خلکو د دې پيښنو نسبت هغې ته کاوه، همدا راز د کليسا، علم او فلسفې ترمنځ په روان کشمکش کې د علم او فلسفې دريځ قوي شو، د کوپرنيک، برنوجردانو او ګاليلو نظريات هم صحيح ثابت شول، او د کليسا ضعيف او کمزوری موقف نور هم ضعيف شو، له همدې امله سره له دې چې نيوتن د الله په وجود باندې ايمان درلود ـ او دا يې د نظريې جزء وه چې الله دا کائنات جوړ کړي او دا د يو ساعت په څير د جاذبيت د قانون سره سم حرکت کوي، او د الله مداخلې ته هغه وخت اړتيا پيدا کيږي چې کله کومه سياره د خپل مدار څخه ووځي، چې هغه يې بيرته خپل مدار ته راولي ـ مګر کليسا د هغې پر ضد ودريده او هغه يې تهديد کړ، د کليسا دليل دا وه چې د نيوتن دا نظريه به د الله د وجود څخه په انکار باندې تمامه شي، او دا ځکه چې هغه قوانين چې دوی وضع کړل هغه ددوی په نظر حتمي ؤ، يعنې په هغه کې هيڅ ډول بدلون ممکن نه وه، نو بناء دا ناممکنه خبره وه چې هغه سائنس پوهان او رياضي پوهان چې د نيوتن په فيزيک يقين ولري هغه دې د کومې معجزې او کوم خارق عادت شي په وقوع، او يا د کوم غيبي قوت وجود ته په اړتيا ايمان ولري، د نيوتن د نظريې سره سم د معجزاتو زمانې چې خلکو به پکښې په غيبي موجوداتو ايمان درلود هغه زمانې ولاړې، بلکې د دې اړتيا هم د هغوی له نظره منتفي شوه چې د دې کائناتو د چلولو لپاره دې د الله تعالی او يا کوم غيببې قوت ضرورت او اړتيا وي، او دا ځکه چې دا کائنات کله ـ د نيوتن د نظريې سره سم ـ الله تعالی جوړ کړل، او د جاذبيت قانون يې وضع کړ نو بيا هر څه پخپله د همدې قانو سره سم حرکت پيل کړ پرته له دې چې د کوم غيبي قوت يا خدای مداخلې ته اړتيا ولري، نيوتن خو د کائناتو د حرکت د پيل لپاره د الله تعالی د وجود په اړتيا ايمان درلود مګر وروستني ساينس پوهان دې ته هم اړ نه ؤ، بلکې د هغوی په نزد انسان د الله تعالی په وجود ايمان ته هغه وخت اړتيا پيدا کوي چې کله په کائناتو کې د داسې څه سره مخامخ شي چې د الله تعالی د موجوديت څخه پرته يې تفسير ممکن نه وي، او کله چې په کائناتو کې هر څه په مادي لحاظ او د نيوتن د قوانينو سره سم تفسير کيدل ممکن شو نو بناء د الله تعالی په وجود باندې ايمان ته هيڅ اړتيا پاتې نه شوه.

په دې توګه دا ویلی شو چې د اولسمې پیړۍ د نورو فلسفیانو د افکارو ترڅنګ د نیوتن دې نظریې په وروستیو پیړیو یعنې اتلسمه او نوولسمه پیړۍ کې د اروپا د لرلید د تشکیل په باب ډېرې خطرناکې پایلې درلودې، همدا نظریه د طبیعي دین (Deism) او یا په بل عبارت د (Naturalism) او د کائناتو په باب د ماشیني نظریې، او بالآخره د بشپړ الحاد په لور لومړی ګام او بنسټ ثابت شو، همدې نظریې عقلي مذهب تقویه کړ، د (Deism)[98] یا ربوبیت مذهب یې ایجاد کړ، او د اروپا د اوسني الحادي فکر بنسټ یې کېښود، دا ټول سره له دې چې پخپله نیوتن د الله تعالی د وجود قائل وه.

## د دارون نظریه او د هغې پایلې

د نیوتن نظریې چې کله د فلکیاتو د حرکت په باب مادي تصور وړاندې کړه نو اروپا ـ چې د کلیسایي مسیحیت د استبداد او ظلم څخه په تنګ شوې وه، او اروپایان چې د هر ډول علمي پرمختګ سره د کلیسا د بشپړې دښمنۍ له امله د کلیسا او کلیسایی دین څخه بیزاره شوي ؤ ـ دا یو فرصت وباله چې د مطلق دین سره یې د مخالفت وسیله وګرځوي، بلکې د الله د وجود څخه د انکار فرصت یې وبولي، او ووایي چې له دې مخکې خلکو د الله په وجود ځکه ایمان درلود چې د افلاکو او سیاراتو حرکت یې د الله د وجود څخه پرته نشو تفسیر کولی، مګر اوس دا د نیوتن د قوانینو په نتیجه کې ممکن شوه نو بناء د الله په وجود باندې ایمان لرلو ته اړتیا پاتې نه شوه، او په دې توګه دا د الحاد په لور یو بل لوی ګام وګرځېده.

د دې ترڅنګ چې کله دارون د موجوداتو په رابطه عموما او د ژوندیو ژوو په رابطه په ځانګړې توګه خپله نظریه وړاندې کړه، دی ـ سره له دې چې هیڅ علمي بنسټ او اساس یې هم نه درلود ـ د اروپایانو هغه الحادي ذهنیتونه دې ته وهڅول چې د بشپړ الحاد په لور یو بل ګام هم اوچت کړي، د دارون د ساینسي فرضیې[99] لنډیز دا وه چې:

(98) هغه نظریه ده چې وایي چې د دې کائناتو څخه دا ثابتیږي چې یو الله شته چې دا کائنات یې پیدا کړي دي، او بیا یې د یوې مکملې برنامې سره پرېښي دي چې حرکت وکړي، هیڅ ډول مداخله په کې څوک نشي کولی، د الله د اثبات او یا د کوم بل غرض لپاره په وحي او یا نبوت، او یا هم په کوم دین باندې ایمان درلودلو ته هیڅ ډول اړتیا نشته.

(99) د علم په ژبه کې فرضیه هغه افتراض ته ویل کیږي چې د نورو افتراضاتو په منځ کې خو راجح وي مګر تجربې او علمي دلیل په اثبات نه وي رسولی.

**لومړی:** ټول ژوندي موجودات په پرله پسی توګه د یو ارتقائي عمل (پرمختګ) څخه تیریږي، په داسې توګه چې ادنی په اعلی او اعلی د هغې څخه په اعلی بدلیږي، او دا چې انسان د دې ارتقاء او پرمختګ وروستی شکل او منتهی ده.

**دویم:** د ژوو او حیواناتو د څه انواعو پاتې کیدل او د څه نورو له منځه تلل په حقیقت کې د هغې مقابلې او کشمکش نتیجه ده چې د بقاء او پایښت لپاره د دې انواعو ترمنځ موجوده ده، او دا ځکه چې یوائې هغه انواع باقي پاتې کیږي چې له نورو څخه بهتر او په دې مقابله کې ځان د بقاء وړ ثابت کړي، او کوم ډول (نوع) حیوانات چې د بقاء لپاره هڅې نه کوي نو هغه ضعیف کیږي او په پای کې له منځه ځي.

**دریم:** د حیواناتو په جسم کې چې کوم غړی مهمل پاتې شي او کومه ټاکلی دنده ونه لري، هغه غړی هم ضعیف کیږي او په پای کې له منځه ځي، تر دې چې کله خو یی هیڅ اثار هم پاتې نه شي، او کله کله یې بیا یو څه اثار پاتې وي چې په هغې دلالت کوي.

دا په اصل کې د ژوندیو حیواناتو په باب د دارون نظر وه بیا دا ټول مادي وجود ته تعمیم کړی شو، او وویل شو چې دا ټول کائنات د غازي کتلې څخه د همدې طبیعي تطور او پرمختګ د قانون سره سم رامنځته شوي دي، دا کهکشانونه، ستوري، سیارات، بیا د تطور په نتیجه کې هغه مواد چې د ژوند صلاحیت په کې وه، بیا دا په نباتاتو بدل شول، او بیا یې د یو حجریی حیوان شکل غوره کړ، او بیا ترې نور حیوانات رامنځته شول، او په دې توګه (د تطور او ارتقاء) فرضیې د یو مذهب شکل غوره کړ.

د الحادي تصور پلویانو دا بې سره او پښو فرضیه د یوې علمي نظریې په حیث تقدیم کړه او دومره یې ترویج کړه چې ډیر پوه خلک[100] یې هم د تاثیر

---

**(100)** تر دې چې ددې فرضیې په نتیجه کې یو شمیر مسلمانو علماو ددې څخه انکار وکړ چې آدم علیه السلام دې ابو البشر وي، او ویې ویل چې د آدم علیه السلام څخه دمخه هم په نړۍ کې د انساني تهذیب او تمدن آثار لیدل شوي دي.

لاندې راوړل، او موخه او هدف يې دا وه چې د دې په بنسټ دوي د دې کائناتو خلقت توجيه کړی شي او دا ادعاء وکړی شي چې د کائناتو موجوديت انسان دې ته نه اړ کوي چې د الله په وجود دې ايمان ولري، او دا ځکه چې دا ټول کائنات ـ د دوی په اند ـ د طبيعي تطور د قانون سره سم د يو بسيط ګاز د کتلې (غونډوسکي) نه پيدا شوی دی، په دې توګه چې دا بسيط ګاز لومړې په مرکبو ګازونو بدل شو، بيا ترې کهکشانونه او سيارې او ستوري جوړ شول[101]، بيا ترې هغه مواد پيدا شول چې د ژوند صلاحيت يې درلود، او بيا ترې حيوانات راپيدا شول، په دې توګه دا نظريه د اوسنۍ زمانې د الحاد لپاره يو بل بنسټ وګرځيده، سره له دې چې يو شمير پوهان په دې نظر دي چې دارون د ذاتي تولد او تطور قائل نه وه بلکې په دې يې ايمان درلود چې په ماده کې الله تعالی دا ځانګړتيا او خاصيت اچولی دی چې هغه تطور کوي، اسماعيل مظهر په خپل کتاب ملقى السبيل فی مذهب النشوء والارتقاء کې د دارون د کتاب (اصل الأنواع) څخه داسې ډير عبارتونه راوړي دي چې پکې د الله په خالقيت ايمان ترې په څرګنده توګه واضح کيږي، د هغه کتاب د پنځلسم فصل څخه د دارون د عبارت داسې ترجمه نقل کوي: **(هناک مؤلفون من ذوي الشهرة و بعد الصيت مقتنعون بالرأي القائل بأن الأنواع قد خلقت مستقلة، أما عقليتي فأكثر التئاما مع المضي فيما نعرف من القوانين والسنن التي بثها الخالق في المادة...)** يعني يو څه مشهور ليکوالان په دی قانع دی چې د حيواناتو مختلف ډولونه (انواع) په جلا جلا شکل خلق شوي دي، مګر زما عقليت د هغه کشف کړی شوو قوانينو سره تر ټولو زيات اړخ لګوي چې خالق ذات[102] په ماده کې ايښي دي... د دې او داسې نورو عبارتونو څخه دا څرګنديږي چې هغه پخپله د الله په وجود ايمان درلود او په مسيحيت باندې قائم وه او دا يو شمير خلک دا راجح هم ګڼي او دا ځکه چې هغه د (لاهوتي (ديني) زده کړو) لرونکی وه، مګر يوسف کرم وايي: چې دارون په پيل کې د الله په وجود ايمان درلود بيا ورو ورو پکې بدلون او تطور رامنځته کيده تر دې چې په دی يې د افسوس اعلان کاوه چې د عامه خلکو له ويرې يې د خلق او خالق الفاظ استعمال کړي دي، بيا له دې وروسته د

**(101)** دا تقريبا د لاپلاس سحابي نظريه ده.

**(102)** دلته دارون د خالق ذات د وجود قائل دی، او دا مني چی دا د تطور قانون ـ چی د هی عقل ورسره ډير اړخ لګوي ـ هم په ماده کی الله تعالی ايښی دی.

(لا أدریت) مذهب ته ورسیده، چې نه د الله په قدرت او عنایت قائل وه او نه یې د تصادف خبره کوله، او اخیري خبره یې دا وه: چې دا مسأله د انساني عقل له دائرې څخه بیرون ده، مګر انسان دا کولی شي چې خپل فرض اداء کړي(103).

په دې توګه د نیوتن او دارون د نظریاتو په نتیجه کې ـ سره له دې چې نیوتن خو په قطعي توګه د الله په وجود پوخ ایمان درلود او د دارون په باب هم همدا ویل کیږي چې د الله په وجود یې ایمان درلود ـ په اروپا کې د الحاد لپاره لاره هواره شوه، او یو شمیر ملحدینو دا دواړه نظریات د دې لپاره استعمال کړل چې د علیت د قانون په بنسټ چې د الله په وجود کوم دلیل قائم دی هغه نفی کړي(104)، او ساینس د دین په مقابل کې و دروي.

## خاتمه

په دی برخه کی مو د غربی تمدن د تاریخي پس منظر او شالید په باب یو لړ معروضات وړاندی کړل، او لنډیز یی دا شو چی اوسنی غربي تمدن په منځنیو پیړیو کی د خپور او مسلط نصرانیت پر ضد یو رد عمل وه، او دا مو هم ولوستل چی د منځنیو پیړیو دا نصرانیت په حقیقت کی د حضرت عیسی علیه السلام د راوړي دین امتداد نه وه، بلکه دا د هغه تحریف شوي دین امتداد وه چی د نصرانیت او مسیحیت په نوم خو مشهور وه مګر په حقیقت کی په بشپړه توګه

(103) ددې لپاره وګوره تاریخ الفلسفة الحدیثة د یوسف کرم ص ۳۵۴ـ ۳۵۵.

(104) حال دا چې د نیوتن نظریه چې د حرکت قوانین یې تثبیت کړي دي پخپله په دې دلالت کوي چې دا پخپله الله تعالی چی علیم او حکیم ذات دی دا قوانین وضع کړي دي چې د هغو په بنسټ دا سیارات حرکت کوي، نو ځکه خو دومره دقیق دي، څوک چې د الله تعالی په وجود ایمان لري، هغوی د دې ډول قوانینو د موجودیت څخه انکار نه کوي، بلکې دا د الله تعالی په موجودیت تر ټولو لویی دلیل ګڼي، همدې قوانینو ته په قرآن کریم کې په دې کلماتو اشاره شوې ده (﴿ وَٱلشَّمۡسُ تَجۡرِي لِمُسۡتَقَرّٖ لَّهَاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ﴿٣٨﴾ وَٱلۡقَمَرَ قَدَّرۡنَٰهُ مَنَازِلَ حَتَّىٰ عَادَ كَٱلۡعُرۡجُونِ ٱلۡقَدِيمِ ﴿٣٩﴾ لَا ٱلشَّمۡسُ يَنۢبَغِي لَهَآ أَن تُدۡرِكَ ٱلۡقَمَرَ وَلَا ٱلَّيۡلُ سَابِقُ ٱلنَّهَارِۚ وَكُلّٞ فِي فَلَكٖ يَسۡبَحُونَ ﴿٤٠﴾ ﴾ [یس: 38 - 40]) پاتې شوه د دارون نظریه نو هغه خو اصلا کومه نظریه نه ده بلکې د دارون یو تخمیني افتراض دی چې د انسان په باب خو قطعا غلط او خطا دی ځکه چې قرآن د هغې د مستقلې نوعې په حیث په خلقت تصریح کوي، مګر که چیرته په نورو داسې مواردو کې ثابت هم شي ـ بالفرض والتقدیر ځکه چې تر اوسه په علمي توګه دا ډیره مستبعده خبره ده ـ نو دا د دین سره کوم تعارض نه لري ځکه دا تطور به هم د هغه تأثیر له امله وي چې الله جل جل جلاله په ماده کې ایښی دی، لکه پخپله چې دارون په پیل کې ددې اعتراف کولو.

یو بل دین وه چې د بیلا بیلو لاملونو، او د بیلا بیلو پت پرستانه ادیانو د اشتراک په نتیجه کې منځ ته راغلی وه، او بیا په اروپا کې خپور شوی وه، ډیر داسی عوامل او اسباب برابر شول چې خلک ددی محرف دین پر ضد قیام وکړي، چې په هغه کې څه داخلي لاملونه او اسباب ؤ چې هغه د کلیسا په استبدادي طبیعت، ظلمونو او غیر انساني تعامل کې را خلاصه کولی شو، او دا استبداد او ظلمونه او غیر انساني تعامل په حقیقت کې د هغه محرف نصرانیت طبیعي نتیجه وه چې په اروپا کې حاکم وه، یعنی دا د هغه دین د غلط تطبیق نتیجه نه وه.

ددی ترڅنګ څه بهرنی اسباب او لاملونه هم ؤ چې خلک یی ددی محرف دین پر ضد قیام ته وهڅول چې مهم ترین سبب یی په بیلا بیلو شکلونو او لارو د اسلامي فرهنګ څخه د اروپایانو اغیزمن کیدل ؤ، هغه فرهنګ چې له مختلفو لارو نه اروپا ته ننوت، په لومړي سر کې د محرف نصرانیت سره د اروپا د خلکو مخالفت انفرادي حیثیت درلود چې ورو ورو یی د یو عام خوځښت حیثیت غوره کړ، چې په دی کې د اسحاق نیوتن فزیکی نظریاتو (چې په عامه توګه یی د سیاراتو او فلکي اجرامو حرکت یی په علمي قواعدو توجیه او تفسیر کړ) او د داروین نظریاتو مؤثر رول درلود.

مګر د اروپایانو تر ټولو لویه غلطي دا وه چې پرځای ددی چې د علمي پرمختګونو او علمي نظریاتو په وړاندی دریدل د همدی محرف نصرانیت ځانګړتیا وګڼي هغه یی د مطلق دین خاصیت تلقي کړ او په دی توګه اروپا او غرب د الحاد په لور حرکت وکړ چې په پای کی بشپړ عملي الحاد ته ورسیده. په راتلونکی برخه کی به د غربی تمدن هغه نړیوال لرلید بحث کړو چې د مطلق دین سره د معارضی په نتیجه کی یی خپل کړ، له دی امله په راتلونکی ګڼه کی د هغه لوستل هم له یاده ونه باسی.

## د مراجعو او مصادرو فهرس

(1) ابن رشد والرشدية ارنست رينان، ترجمة: عادل زعيتر، دار احياء الكتب العربية ـ عيسى البابى الحلبى وشركاؤه، القاهرة ۱۹۵۷م.

(2) قصة الفكر الغربي (افكار و رجال) تاليف: جرين برنتن، ترجمة: محمود محمود، مصر، كال ۱۹۶۵م.

(3) الالحاد فی الغرب، تالیف: رمسیس عوض،مؤسسة الانتشار العربي، بیروت،و سینا للنشر، القاهرة، مصر، لومړی طبع ۱۹۹۷م.

(4) الالحاد و أسبابه (الصفحة السوداء للكنيسة)، أ.د زينب عبد العزيز، دار الكتاب العربي، دمشق، والقاهرة، لومړی طبع ۲۰۰۴م.

(5) بولس و تحريف المسيحية، تالیف: هيم ماكبی، ترجمة سميرة عزمی الزين، من منشورات المعهد الدولی للدراسات الانسانية.

(6) التاريخ الأسود للكنيسة، تالیف: القس دي روزا، طبع الدار المصرية للنشر والتوزيع، قبرص، نيقوسيا، لومړی طبعه کال ۱۹۹۴م.

(7) تاريخ الفلسفة الحديثة، تالیف: يوسف كرم طبع دار المعارف بمصر، بدون تاريخ الطبع.

(8) تاريخ الفلسفة اليونانية، تالیف: يوسف كرم، طبع مطبعه لجنة التاليف والترجمة والنشر، د طباعت کال ۱۹۳۶م.

(9) تاريخ اوروبا العصور الوسطى، تالیف: أ. هـ. فشر، ترجمة: مصطفى زيادة، مصر، د طباعت کال ۱۹۶۶م.

(10) رسالة فی اللاهوت والسياسة، تالیف: بنديكت اسپينوزا، ترجمة: دكتور حسن حنفي، طبع دار التنوير للنشر والطباعة والتوزيع، بيروت، لومړی طبعه کال ۲۰۰۵م تقديم د. فؤاد زكريا.

(11) العلم والدين في الفلسفة المعاصرة، تاليف اميل بوترو، ترجمة: د. أحمد فؤاد الأهواني، الهيئة المصرية العامة للكتاب، عام 1973.

(12) العلم والدين مناهج ومفاهيم، تالیف: د. احمد عروة، طبع دار الفكر، دمشق، سورية، د طباعت کال ۱۹۸۷م.

(13) قصة الحضارة، ويل ديورانت ترجمه: محمد بدران، طبع دار الجيل، بيروت، وتونس.

(14) قصة النزاع بين الدين والفلسفة، تالیف: د. توفيق الطويل، طبع مكتبة الآداب، بالجاميز، بمصر، د طباعت د تاریخ نه بغیر.

(15) كتب غيرت وجه العالم،تالیف: رابرت ب ـ داونز، ترجمة: امين سلامة، طبع الهيئة المصرية العامة للكتاب، کال ۱۹۷۷م.

(16) كواشف زيوف المذاهب الفكرية المعاصرة، تالیف: شيخ عبد الرحمن حسن حبنكة الميدانی، طبع دار القلم، دمشق، دویمه طبعه، کال ۱۹۹۱م.

(17) الله فی الفلسفة الحديثة، تالیف: جميس كوليز، ترجمة: فؤاد كامل، مكتبة غريب، القاهرة، کال ۱۹۷۳م.

(18) الله ليس كذلك، تالیف: زيغريد هونكه، ترجمة: د. غريب محمد غريب، دار الشروق، القاهرة، دويمه طبعه کال ۱۹۹۶م .

(19) ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمين؟ ، تاليف: شيخ ابو الحسن علي الندوي، طبع مكتبة الايمان، المنصورة، امام جامعة الأزهر، القاهرة.

(20) محاضرات فى النصرانية، شيخ محمد ابو زهرة، طبع الرئاسة العامة لادارات البحوث العلمية، والافتاء، والدعوة والارشاد، الرياض ـ المملكة العربية السعودية، الطبعة الرابعة کال ۱۴۰۴هـ.

(21) المشكلة الأخلاقية والفلاسفة، تاليف: كرسون، ترجمة: عبد الحليم حمود، القاهرة.

(22) معالم تاريخ الإنسانية، تاليف: هـ . ج. ويلز، ترجمة عبد العزيز توفيق جاويد، طبع لجنة التأليف والترجمة والنشر بالقاهرة.

(23) المعجم الفلسفى (د انګلیسي او فرنسوي الفاظو سره)، تاليف: د. جميل صليبا (په دمشق کی د مجمع اللغة العربية غړی) طبع دار الكتاب اللبناني، بيروت، کال ۱۹۸۲م.

(24) الموسوعة العربية الميسرة (۷ ټوکه) طبع المطبعة العصرية، لومړی طبع ۱۹۶۵م، دریمه طبعه ۲۰۰۹م.

(25) الموسوعة الفلسفية المختصرة، د انګلیسي نه ترجمه: فؤاد كامل، جلال العشري، عبد الرشيد الصادق، مراجعة او د اسلامي شخصیاتو تراجم: د. زكى نجيب محفوظ، طبع دار القلم، بيروت، لبنان، بدون تاريخ طبع.

* * *

# د "تجدید" معنی او مفهوم

**پوهنوال دکتور عبد الباقی عبد الکبیر امین**

د سلام د لوړو زده کړو د مؤسسې د حقوقو د پوهنځی استاذ
او د قضاء او څارنوالۍ د دیپارتمنت رئیس

کابل ـ افغانستان

## سریزه:

## غربی استعمار دخپل فکری جنګ په لړی کی دوه لاری ترلاس لاندی نیولی دی:

**اوله لار:** دوی غواړی چه په اسلامی نړی کی اسلامی دین دژوندانه دچارو څخه یوی خواته کړی، دین تنها په عبادتګاه (مسجد) کی محاصره کړی او اجازه ورنه کړی چه دمسجد نه بهر په مسایلو کی مداخله وکړی، او داسی بیانوی چه ددین ساحه ځانله ده چه دټولنی دچارو دتنظیم ساحه په هغه کی شامله نده، په دی معنی چه دین دالله او بنده ترمینځ درابطی څخه عبارت دی چه دهغه ځای عبادتګاه دی، او دژوندانه چاری باید ددین دقید څخه لیری دعقل دغوښتنو په رڼا کی تنظیم شی، ترڅو دټولنی نوو او متجددو غوښتنو ته مناسب ځواب ورکړای شی، او دټولنی دپرمختګ لپاره ددین دقید څخه په آزاد شکل سره فکر وشی، او که ټولنه داسلام دقیودو په رڼا کی تنظیم شی نو دټولنی دترقی او پرمختګ مخه به ونیسی، داخبره په اسلامی نړی کی هغه څوک هم زمزمه کوی، چه په غرب کی یی تحصیل کړی او دغرب له افکارو څخه متاثر شوی او په نامه مسلمان دی اما داسلام ددین څخه ډیر اندک معلومات هم نه لری، البته غربیان داسلام په اړه ددی غلطی پوهی دترویج په هکله کی دوه لاملونه لری: یو داچه دوی اسلام په مسیحیت باندی قیاسوی، کوم چه دانسانی ټولنی دهر اړخیز تنظیم لپاره جوګه نه دی، او مسیحی عالمانو بیا په هغه کی خپل نظریات داسی ورداخل کړل او هغه ته یی ددین بڼه ورکړه، چه مسیحی دین یی دهرنوع علمی پرمختګ په مخ کی ودراوه. بل لامل داچه که داسلام دین په ټولنه کی په هراړخیز ډول سره پلی شی، نو هغه دملتونو دسرلوړتیا او پرمختګ سبب ګرځی، دملتونو دخودکفایی سبب ګرځی، هغوی

داحتیاج او ضرورت دحالاتو نه وباسی، ملتونه نه پرېږدی چه د استعمار غلامی ته غاړه کیږدی، یاهم دهغوی استعماری شرطونه داقتصاد او سیاست په برخه کی ومنی، تر څو دهغه شرطونو په نتیجه کی دملتونو شتمنی لوټ کړی، او یا هم دملتونو سرنوشت داستعمار دګټو په رڼا کی وټاکل شی، چه دا کار استعماری ملکونه دخپلو منافعو خلاف بولی، ددی په خاطر داسلامی دشمولی فهم دخپرېدومخالفت کوی، او غواړی چه داسلام لوی تصور دانسانی ژوندانه دتنظیم په اړه په څو عباداتو کی خلاصه کړی او دینداران په هغه باندی مشغول کړی، او خپله دامتونو ټول امکانات او شتمنی دخپلی برلاسی لپاره په لاره واچوی.

**دوهمه لار:** دوی غواړی دینی ارزښتونو له خپل اصیل خط څخه بی لاری کړی، داسلامی دین خصوصیتونه او ځانګړتیاوی په هغه کی له مینځه یوسی، داسلامی دین دتغییر، تبدیل او تحریف زمینه جوړه کړی، ثابت شرعی اصول او احکام قابل دتغییر او تبدیل وبولی، ترڅو اسلامی دین دغربی فرهنګ سره هماهنګ کړی، او له دی لاری دخپل فرهنګ دنشر لپاره په اسلامی نړی کی زمینه جوړه کړی، او په نتیجه کی داسلامی دین مقاومت دغرب داستعماری حرکت په مقابله کی له مینځه یوسی، او یاهم دهغه توانمندی په دی هکله ضعیفه کړی، البته دا کوشش دتجدید تر عنوان لاندی په اسلامی نړی کی صورت نیسی.

په دی ځای کی یو بل حقیقت ته هم باید متوجه شو او هغه دا چه په اسلامی نړی کی داستعمار دموجودیت او ځینی داخلی نورو عواملو په بنا مسلمان علماء دټولنی دچارو څخه یوی خواته شول، داسلامی دین په بنسټ دټولنی دجوړولو نه په فاصله کی پاتی شول، او دهغه په نتیجه کی اسلامی هر اړخیز ارزښتونه دټولنی دټولو برخو دتنظیم نه لیری پاتی شول، او که ووایم چه ددی په نتیجه کی په عملی لحاظ سره اسلامی دین تنها دعباداتو او اخلاقی ارزښتونو په ساحه کی منحصر شو، نو مبالغه به می نوی کړی، اسلامی دین دژندانه دشمولی تنظیم څخه لیری پاتی شو، دټولنی چاری په زیات انداز کی ددین دارشاداتو څخه بهر تنظیم شوی.

اسلامی عقلیت ددی دوه ګونی حالت سره په عمومی شکل سره عادت ونیو، او دهغه سره یی انس واخیست، اما ددین دښمنه کوششونو په مقابل کی

کوم چه استعمار چیانو د هغه لپاره په اسلامی نړی کی زمینه سازی کوله، کاملا حساسیت پیدا کړچه ددی په نتیجه کی په ټولنه کی داسی وضعیت را منځ ته شو، ترڅو بعضی دینی علماء دهر نوی ځیز (ولو که داصلاح بڼه هم ولری) مخالفت وکړی او هغه ددین خلاف وبولی، او یاهم هغه دغربی فکری جنګ امتداد وبولی، او دا سبب شو چه هغه مطلوبه او مخلصانه کوششونه هم کله ناکله غلط وپو هیدل شی کوم چه په ټولنه کی ددین داحیاء او ژوندی کولو په خاطر په ټولنه کی د ددین دتجدید تر عنوان لاندی صورت نیسی. کوم چه داسلامی نهضت او اسلامی بیداری په لړی کي رامینځ ته شو او په اسلامی نړی کی دهغه تهداب سید جمال الدین افغانی کیښود، او بیا دهغه شاګردانو محمد عبده او محمد رشید رضا دهغه افکارو ته وده ورکړه چه دشهید امام حسن البنا دکوششونو په نتیجه کی اسلامی شمولی تجدیدی تصور واضح شو، او ددی ضرورت هم کاملا واضح شو چه مسلمانه ټولنه دهراړخیز پرمختګ لپاره باید په ټولو برخو کی اسلام ته رجوع وکړی، او داسلام دارښتونو په رڼا کی دژوندانه ټولی برخی داسی تنظیم کړی، چه دی یوی خوانه ددین په اصولو او ثوابتو باندی ولاړي وی او دبلی خوا دوخت او عصر غوښتنو ته مثبت او شمولی ځواب ورکړی، ترڅو دهغه په نتیجه کی دامت دبرم او عزت راګرځیدل ممکن شی، او امت دهغه په نتیجه کی دضعف او ناتوانی دحالت څخه دوتلو لاره پیدا کړی.

دهمدی پورته مطلبونو په رڼا کی دتجدید دکلمی په اړه دڅیړنی د ضرورت احساس کیږی، او ما وغوښتل تر څو دهیواد په دین مینو وطنوالو ته دتجدید دمفهوم په هکله دا څیړنه وړاندی کړم او په هغه کی دتجدید هغه معنی واضحه کړم، کومه چه مسلمانو علماوو دهغه په ضرورت باندی تاکید کړی، او د اسلامی تجدید مفهوم دهغه کوششونو څخه هم بیل کړم کوم چه دتجدید دعنوان لاندی ددین دنړولو، بدلولو او یا تحریف په خاطر صورت نیسی، په دی لیکنه کی ما اول دتجدید لغوی معنی تر غور لاندی نیولی، په قرآن کریم او نبوی سنت کی می دهغه څیړنه کړی، بیا می دتجدید اصطلاحی معنی تر غور لاندی نیولی، دپخوانیو او اوسنیو علماوو اقوال می داسلامی تجدید دمعنی په هکله راوړی، بیا می هغه فعالیتونه جمع بندی کړی کوم چه دعلماوو داقوالو په رڼا کی داسلامی تجدید تر مفهوم لاندی داخلیدلای شی.

دپاک الله نه غواړم چه زما دا لیکنه داسلامی امت دبرم او عزت د راګرځولو په طرف باندی یو قدم حساب کړی او هغه په خپل دربار کی قبول کړی.

## اول مبحث: د تجدید لغوی معنی:

تجدید په اصل کې عربي کلمه ده، چې نوي کولو ته وایی، او د زړتوب نقضیه معنی لری، په عربی ژبه کې ویل کیږی **(جدَّد الشيء)** او دا هغه مهال ویل کیږي چه قدیمی شي نوي کړای شي او خپل اصلی حالت ته واړول شی[1]. ورځې او شپې ته په عربي ژبه کې **(الجديدان)** (یعنی دوه نوي شیان) وایی ځکه چه ورځ او شپه هیڅکله هم نه زړیږی، همدارنګه ویل کیږی **(جدَّد بيته)** (یعنی خپل کور یی نوی کړ) یعنی هغه یی ترمیم کړ، دهغه رنګ یی نوی کړ، دهغه دروازې او کړکی یې تینګی کړی او ویی لګولې، دهغه مظهر یی سم کړ، هغه ځایونه یی ترمیم کړل کوم چه زاړه شوي وو، او دکار نه وتلی وو او یاهم ورانیدو ته لنډ شوي وو، په عربی ژبه کې دکور نوي کول او دهغه تجدید دهغه دبیخه دورانولو او بیا له سره ودانولو معنی نه لری. دا معنی دعربانو ددې قول نه څرګندیږي چه وایی: **(جدّدت وضوئي)** (یعنی خپل اودس می تجدید او تازه کړ) هغه خو داسی نه وایی چه ما اودس دماتیدو نه وروسته تازه کړ، دیته خو په عربی ژبه کې داوداسه تجدید نه وایی، بلکه ددې نه مراد د اوداسه تازه کول دي، سره ددې چه دهغه اودس مات شوی هم نه وي، اودس ددې لپاره تجدیدیږی چه اثر یې په لمونځ کوونکې باندی زیات او هغه ته فعالیت او تازه توب وروبښی، تر څو خپل لمونځ په پوره خشوع او اتقان سره اداء کړي.

په عربی ژبه کې متعاقدین هم یوبل ته وایی: **(جدّدْ العهد)** ( یعنی عهد او تړون تجدید کړه) هغوی داسی قصد نه لری چه عهد له مینځه تللی او راځه چه بیا به قرار داد وکړو، بلکه دهغوی مطلب دادی چه په عهد او قرار داد باندی ډیر وخت وتلی تر دی انده چه دواړه طرفونه نږدې دي چه خپل التزامات او وجایب

(1) محمد بن مكرم بن منظور الإفريقي (ت 711هـ)، لسان العرب، دبیروت خپرنځای، لومړی چاپ، دریم ټوک/111 مخ.اوأحمد بن محمد بن علي المقري الفيومي (ت770هـ)، المصباح المنير، علمي كتابخانه، بيروت، لبنان، لومړی ټوک92 مخ.

هیر کړي، او یاهم دخپلو التزاماتو په اداء کولو کې سستي کوي. نو دتجدید معنی دا نده چه نوی شی دسابقه شی په ځای باندې مینځته راشي، او نه هم دسابقه ټولو شیانو دباطلولو معنی لري ګواکې دا چه هغه خپل مفیدیت له لاسه ورکړي، او باید له مینځه لاړ شي، او داسې نوی شی مینځ ته راوړل شي، چې په اصل او وصف کې دقدیمی شی څخه بشپړ توپیر ولري.[2]

تجدید په خپل عربی لغوی وزن کې (دتفعیل په صیغه کې) د متواصل او پرلپسې زیار اوهڅې معنی افاده کوی[3] او په هغه کې دغوښتنی معنی هم نغښتې ده ځکه دتجدید دکلمې په ابتداء کې چه کوم د(ت) حرف شته هغه دغوښتنی مطلب افاده کوی، یعنی دتجدید په کلمه کې دپرلپسې نوی کولو دکوشش(هڅې) غوښتنه پرته ده.

دتجدید دلغوی معناګانو څخه تعظیم او اجلال هم دی، الله پاک فرمایی: ﴿وَأَنَّهُۥ تَعَٰلَىٰ جَدُّ رَبِّنَا﴾[4] ابن کثیر ددې مبارک آیت په معنی کې وایی **(جلاله وعظمته)**[5] یعنی دپاک الله جلال او عظمت. دانس ابن مالک نه روایت دی: **(کان الرجل منا إذا قرأ البقرة وآل عمران جد فینا)**[6] (یعنی په موږ کې به چه چا هرکله دبقرې او آل عمران سورت ولوست دهغه قدر به زموږ په مینځ کې زیات شو) ابن قتیبة وایی: **(أي جد في صدورنا وعظم في عیوننا)**[7] (یعنی زموږ په زړونو او سترګو کې به هغه لوی شو) او دهمدې استعمال په اساس (بنسټ) به عربو ویل: (جدّ في عیون الناس) (یعنی دخلکو په سترګو کې لوی شو) کله به چه هغه دخلکو مشر شو.

(2) عصام أحمد البشیر، التجدید مفهومه وضوابطه وآفاقه في واقعنا المعاصر، التجدید في الفکر الإسلامي (په قاهره کې داسلامي چارو د اعلی مجلس د دیارلسم کال دغونډې څیړنې او پیښې چې د31مې څخه تر3 جون 2001م پورې دایره شوې وه ) دوزارت اوقاف له خپرونو څخه (د اسلامي چارو لوی مجلس) قاهرة 2002م، 936-937 مخ.

(3) وګوره: سیف الدین عبدالفتاح إسماعیل، التجدید السیاسي والواقع العربي المعاصر(اسلامی لیدلوری)، دڅیړنو او تحقیقاتو مرکز، داقتصاد اوسیاسي علومو پوهنځی، دقاهري پوهنتون، دنهضت کتابخانه، قاهرة، 1989، 4.مخ.

(4) دالجن سورت 3 آیت.

(5) إسماعیل ابن کثیر الدمشقي، تفسیر القرآن العظیم، المصریة اللبنانیة خپرنځای، دقاهري مطبعه، دوهم چاپ 1990، 429/4.

(6) أحمد په خپل مسند کې تخریج کړی: 11769 شمیره حدیث.

(7) عبدالله بن مسلم ابن قتیبة الدینوري (ت 276هـ) غریب الحدیث، دعلمی کتابونو خپرنځای، بیروت، لبنان 1988م، 17.مخ

د تجدید له معناګانو څخه غنا (شتمني) هم ده، په ماثوره دعا کې راغلی[8] **(ولاینفع ذا الجد منك الجد)**[9] (یعنی دهیڅ غني (شتمن)غنا هغه ته ګټه نه لری) (بلکه هغه ته ستا طاعت ګټه رسوی).[10] او د(تجدید) دمعناګانو نه اجتهاد او کوشش (زیار) دی، په عربی ژبه کې ویل کیږی: **(جدّ في الأمر)** ( یعنی کوشش یی وکړ) او همدارنګه تجدید دمبالغی په معنی هم استعمالیږی، ویل کیږی **(محسن جدا)** ( یعنی ډیر زیات محسن دی)[11] چه دلته **(جدا)** دمبالغی لپاره استعمال شوی دی. او دنصیب او برخې په معنی هم راغلی، ویل کیږی: **(جدِدتُ بالشيء)** (یعنی هغه مې په برخه شو)[12]. دوسطیت په معنی هم راغلی دی، ویل کیږی: **(جادّة الطریق)** ( یعنی دلیارې وسط (منځ).

ددې پورتنیو مطالبو په رڼا کې په لنډ ډول ویلای شو، چه تجدید دلغوي لحاظه یو له بل سره تړلې څو معناګاني افاده کوي: لومړی: تجدید شوی شی له ځایه وجود لري او خلکو لیدلی وی، دوهم: په هغه شی کې تغییرات او بدلونونه راغلي وي او یاهم زوړ شوی وي، دریم: هغه شی بیا هغه حالت ته راګرځول شوی وي کوم چه تر زوړ توب دمخه یې په هغه حالت باندی شتون درلود، څلورم: لومړني حالت ته بیرته را ګرځول یې پرلپسې هاند ته اړتیا لری، پنځم: هغه ځای ته د یوه څیز (شی) بیرته راګرځول، کوم چه په ابتداء کې په هغه حال باندې شتون درلود، دهغه شی او څیز اجلال، تقدیر، تعظیم او لوړتیا ده، لکه څنګه چه دا کار وسطیت او سمې لارې ته بیرته راوستل هم دی.[13]

---

**(8)** ناصر بن عبدالسید المطرزي، المغرب في ترتیب المعرب، دالجیم مع الدال باب، د (ج د). کلمة.

**(9)** بخاري په خپل صحیح کې تخریج کړی، دالذکر بعد الصلاة باب، 799 شمیره حدیث.

**(10)** أحمد بن محمد بن علي المقري الفیومي (ت770هـ)، المصباح المنیر، 92/1مخ.

**(11)** أحمد بن محمد بن علي المقري الفیومي (ت770هـ)، المصباح المنیر، 92/1.مخ

**(12)** أحمد بن محمد بن علي المقري الفیومي (ت770هـ)، المصباح المنیر، 92/1مخ.

**(13)** وګورئ: محمد سعید بسطامي، مفهوم تجدید الدین، لومړی چاپ، 1983م دالدعوة خپرنځای، کویت، :3مخ، و حلیمة بوکریشة، معالم التجدید الفقهي (أنموذج الشوکاني) کتاب الأمة،90-91 ګڼه رجب-رمضان 1423هـ 22کال د قطر په هیواد کې د اوقافو او اسلامي چارو وزارت،:52-53. مخونه او خالد عبدالله الشعیب، ضرورة التجدید وضوابطه في الفکر الإسلامي، التجدید في الفکر الإسلامي اوعبدالله بن محمد المالکي، التجدید حینما یفقد مساره، (په قاهره کې داسلامي چارو د اعلی مجلس د دیرلسم کال دغونډې څیړنې او پیښې چې د31مي څخه تر3 جون 2001م پورې دایره شوې وه) دوزارت اوقاف له خپرونو څخه (د اسلامي چارو لوی مجلس) قاهرة 2002م، ص: 93-97، په لاندې لینک کې خپره شوې مقاله:
http://www.alqlm.com/index.cfm?method=home.con&contentid=220

## دوهم مبحث: په قرآن او سنت کې دتجدید کلمه:

### الف: په قرآن کریم کې دتجدید کلمه:

په قرآن کریم کې دتجدید کلمه نده راغلې خو د جدید کلمه په قرآن کریم کی د احیاء (بیا ژوندی کولو) او بیا دسره راګرځولو (اعاده کولو) په معنی راغلی ده، چه دتجدید دلغوی معنی سره پوره تطابق لری، پاک الله فرمایی: ﴿ أَفَعَيِينَا بِٱلْخَلْقِ ٱلْأَوَّلِۚ بَلْ هُمْ فِى لَبْسٍ مِّنْ خَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٥﴾ ﴾[14] ابن کثیر ددې مبارک آیت په معنی کې وایی: ( کله چه د لومړی ځل لپاره پیدا کول را ته سخت (ستونزمن) نه وو، نو اعاده کول او بیا پیدا کول خو یې له هغه نه آسان دي).[15] او په همدې معنا باندې دا راتلونکې آیتونه هم دلالت کوي: پاک الله فرمایی: ﴿وَقَالُوٓاْ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمًا وَرُفَٰتًا أَءِنَّا لَمَبْعُوثُونَ خَلْقًا جَدِيدًا ﴿٤٩﴾ ﴾[16] او فرمایی: ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ يُنَبِّئُكُمْ إِذَا مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ إِنَّكُمْ لَفِى خَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿٧﴾ ﴾[17] او فرمایی: ﴿أَءِنَّا لَفِى خَلْقٍ جَدِيدٍۭ ﴾[18].

### ب: تجدید په نبوی سنت کې:

په صریح شکل (پریکنده ډول) سره دتجدید دکلمې نه مشتقه (اخیستل شوی) کلمه دابو هریرة رضی الله عنه په حدیث کې راغلی ده، چه د درسول الله ﷺ نه روایت کوي او وایي: هغه ﷺ وفرمایل: **(إن الله يبعث لهذه الأمة على رأس كل مائة سنة من يجدد لها دينها)**[19] ترجمه: (یقینا چه پاک الله دغه امت لره دهرو

---

**(14)** د ق سورت 15 آیت.
**(15)** إسماعيل ابن كثير الدمشقي، تفسيرالقرآن العظيم 224/4..
**(16)** دالإسراء سورت 49 آیت.
**(17)** د سبأ سورت 7 آیت.
**(18)** د السجدة سورت 10 آیت.
**(19)** دا حدیث أبوداود په خپل سنن کې په خپل سند سره تخریج کړی (4291 شمیره حدیث، کتاب الملاحم د مایذکر في قرن المائة باب) او وایي: حدثنا سليمان بن داود المهري: أخبرنا ابن وهب: أخبرني معيد بن أبي أيوب، عن شراحيل بن يزيد المعافري، عن أبى علقمة، عن أبى هريرة - فيما أعلم - عن رسول الله ﷺ قال: **(إن الله يبعث ... الحديث)** ابو داود وایی: دا حدیث علت نه لری. امام سیوطي هغه صحیح بللی او په "الجامع الصغیر" کې یی ورته اشاره کړې ده، همدارنګه دالجامع الصغیر شارح علامة مناوي هم ددی حدیث صحت تایید کړی اویادونه یې کړې چې حاکم صحیح کړی اووایي: الزین العراقي اونور وایي: سندیي صحیح دي. او شیخ ألباني هم هغه دصحیحو احادیثو په سلسله 559 شمیره حدیث کی راوړی دی، او په صحیح = =

سلو کلونو په سر کې هغه څوک را لیږی چه دهغوی په دین کې تجدید راولی) یعنی ددین هغه معالم (نښې) ژوندې او نوې کوي کومې چه د زمانی په تیریدو سره له عمل او تطبیق څخه پاتې شوې او یاهم دخلکو دسترګو څخه پټ شوې او یایی خلکو په مفهوم کې انحراف راوستی وي او یاهم هغه سنتونه ژوندي او نوي کوي کوم چه د سم او صحیح تطبیق څخه پاتې شوي وي، او یایې په فهم او پوهه کې انحراف راغلی وي.

## دریم مبحث: دتجدید اصطلاحی معنی:

علماو په مختلفو عباراتو سره دتجدید تعریف کړی دی، ځینو دهغه دیوې خوا تعریف کړی دی اوځینو هم دهغه دنورو اړخونو او تجدیدی فعالیتونو تعریف کړی دی، خو دعلماو دتعریفونو څخه دا لاندې تعریف راته غوره او بشپړ ښکاری:

تجدید دهغه منهجی کوشش او زیار څخه عبارت دی چه دامت تمدنی خوځښت ته داسلام دصحیح فهم او دوحی دارزښتونو په رڼا کې دعصر غوښتنو ته دځواب ورکولو له لاری، لوری او توجه ورکوي او داستخلاف دوظیفې داداء کولو او دانسانی ټولنی دهراړخیزی آبادۍ خواته یی بیایی.[20]

**ددغه تعریف دځانګړتیاو دپوهیدو لپاره ددې لاندی مطالبو شرح کول ضروری او اړین بولم:**

- **تجدید تکاملي حیثیت لري:** یعنی دژوندانه ټولی خواوی په غیږ کې نیسی او یوازې یواړخیزه صورت نه نیسی، او که چیرې په یوه خوا کې صورت ونیسی هغه ددین مقاصد په ټولنه کې په ښه ډول سره نه شی پوره کولی، که څه هم په ځینو ټولنو کې بعضی مجددین دټولنی ځینو اړخونو ته ډیر

= = الجامع الصغیر 1874 شمیره حدیث کې یی هم ورنه یادونه کړې ده. وګوره: یوسف القرضاوي، من أجل صحوة راشدة تجدد الدین وتنهض بالدنیا (د سنت په رڼا کې د دین تجدید) ومحمد ناصر الدین الألباني، سلسلة الأحادیث الصحیحة: 559 شمیره حدیث. او داحدیث د تجدید په هکله اساسی حدیث دی.

**(20)** سهیلة علاوة عظیمي، منهجیة التجدید عند أبي الأعلی المودودي، دالنهضة خپرنځای، 2008م لومړي چاپ، دمشق، ص:24.

لومړیتوب ورکوي، چه دا هم پخپل ځای دقدر وړ تجدیدی کوښښ دی، خو دامت دهر اړخیز تمکېن په هکله او ددین دعمومی مقاصدو دتطبیق او عملی کولو هدف او مقصد نشي تر لاسه کولای.

- **تجدید د تاریخ سره دتواصل حیثیت لری:** یعنی تجدید دتاریخي علمي میراث سره مقاطعه نه کوي، بلکه تجدیدی کوشش دتاریخي تجربې سره دتواصل او پیوسته کېدو په نتیجه کې مینځ ته راځی، د تاریخي میراث نه داستفادې او دهغی سره دامتزاج او تفاعل په نتیجه کې مینځ ته راځي، باید دا ذکر کړم چه هر هغه کوشش چه دتاریخي (علمي او عملي) تجربې نه دمقاطعې په نتیجه کې مینځ ته راغلی وي، هغه کوشش به جامع نه وی او نیمګړتیا به پکښی وي او دامت تمکېن به په جامع ډول سره تامین نه شي کړای.

- **تجدید ددین دثوابتو او دعصر دغوښتنو تر مینځ تفاعل او امتزاج دی:** یعنی تجدید داسلامی دین دمصدر او منبع (قرآن او سنت) څخه الهام اخلي، دزمانی دستونزو سره تماس نیسی، دشریعت داصولو، ثوابتو اوضوابطو په رڼا، دټولنې دمعاصرو واقعیتونو په پام کې نیولو سره ددی ستونزو دحل لپاره متوازن معیارونه ټاکې، دهغی دعملي کولو لپاره تګلارې جوړوی، جزئي احکامو ته دشریعت دعمومي مقاصدو سره تړاو ورکوي او یو جامع حل په پام کې نیسی، تر څو امت یو ځل بیا دتاریخ دجوړولو ساحې ته دننه کړی، او یاهم داسلام په تمدني خوځښت اوشتون باندې ټینګار وکړي.

- **تجدید دماضی نه ښې راتلونکې ته ګذر دی:** یعنی تجدید دپخواني حالت نه ښه او بهتر حالت ته تیریدل او ګذر دی، تجدید دماضی او تیرې زمانې سره او دهغه دلاسته راوړنیو سره په ټپه دریدل او تم کیدل نه دي، او دهمدی مطلب په رڼا کی ویلای شو چه دتاریخ په اوږدو کې مجددینو دیوې سلسلې دکړیوپه شکل خپله وظیفه او دنده په پرله پسې ډول سره اداء کړې ده، دژوندانه په مختلفو خواوو کې یې مسلمانان سمې لارې ته متوجه کړي دي،

داسلام دمبین دین د لاربښونو دسمې پوهې لپاره يې په مختلفو برخو کې زيار ايستلی، داسلامي ارزښتونو په رڼا کې يې دمسلمانانو د وروسته پاتې کېدو دمشکل دستونزو دحل لپاره لارې لټولې، اوپه نړۍ کې يې داسلامی امت د قيادت دحضور او ژوندی کولو لپاره هڅې کړې دي.(21)

- **تجدید په مخلوقاتو کې دالله تعالی سنت دی:** يعنی تجدید په ټولو مخلوقاتو کې دپاک الله سنت دی او انسانی ټولنې دهمدې سنت په رڼا کې خپل حالت ته تغيير ورکوي او په فطري ډول سره د خپلو ذاتي ځانګړتياوو او ارزښتونو په چوکاټ کې دترقۍ او مثبت تحول بدلون لوری ته روان دي، له همدې کبله داسلامي امت تجديدی پروسه هم په پرلپسې توګه دښه بدلون لوری ته مخ په وړاندې روانه ده، هغه داسی نه ده چه ګواکی تجربې کاپي کړي او ياهم دپخوانيو تجربو تقليد وکړي، او دا کار هغه وخت کېدای شي چه د امت تماس (اړيکه) دخپل لوړ مرجعيت (قرآن او سنت) سره پخه، ژوره او پدغه هکله يې پوهه دقيقه شي، په سمو ابجدياتو هغه ولوستل شي، دتطبيق په هکله يې هم پوهه خپله کړای شی، تر څويې په رڼا کې وکولای شي دټولو تجاربو په هکله صائب او سم نظر ورکړي، او لدې لارې داسلامي ارزښتونو فعال، کارنده او ژوندی صلاحيت داوسنۍ ټولنې دښه جوړښت لپاره په علمي اوعملي ډول سره مطرح او ثابت کړي.(22)

- **تجديد منهجی، دقيق کوښښ او زيار دی:** يعنی تجديد يو مقطعي او انفعالي حرکت ندی، او نه هم انفعالي حرکت دټولنې حرکت ته مقصد وربخښلای شي، محمد البهي په دې هکله وايي: (تجديد فلسفه، افکار او تصورات دي چه دهغه تطبيق به دمنهجيت له لارې کېږي)(23) نو تجديد داسلامي امت په حالت کې مثبت تغيير راوستل دي چه دقيق پلان استراتيژي او برنامه غواړي، دمناسبو شرايطو آماده کول غواړی، دمعينو وسايلو چمتو کول

(21) سهيلة علاوة عظيمي، منهجية التجديد عند أبي الأعلى المودودي، دالنهضة خپرنځای، 2008م لومړي چاپ، دمشق:26مخ.
(22) سهيلة علاوة عظيمي، منهجية التجديد عند أبي الأعلى المودودي، دالنهضة خپرنځای، 2008م لومړي چاپ، دمشق:24.مخ.
(23) محمد البهي، الفكر الإسلامي الحديث وصلته بالاستعمار الغربي، دوهبة کتابخانه، القاهرة: 395 مخ.

غوارې، دمتناسبو اسالیبو په کار واچول غوارې او داتول باید داسلامي دین دلوړ مرجعیت( وحې) اودانسانی واقعیتونو ددرک او عمیقې پوهې سره څنګ تر څنګ الهام واخلی.[24]

## څلورم مبحث: دتجدید د تعریف په هکله دعلماوو اقوال:

دتیر شوی نبوی حدیث په رڼاکې، په کوم کې چه دتجدید دکوښښ په اړه ترغیب راغلی، علماوو د تجدید دمعنی په هکله لیکنې کړې دي، چه په مجموعی ډول سره علماوو په دې لیکنو کې دتجدید دمعنی مختلف اړخونه او جوانب بیان کړي دی، کوم چه په حدیث شریف کې هغه ته ترغیب صورت نیولی دی، چه ددوی عبارتونه زه دلته په لاندی ټکو کی را نقلوم:

امام أحمد بن حنبل رحمة الله علیه وایی: ( الله پاک دخلکو لپاره دهرو سلکو کلونو په سر کې هغه څوک رالیږی چه خلکو ته سنتونه او د دین لارښونې وښیي، او درسول اکرم ﷺ نه هغه څه نفی کړی کوم چه په دروغو په هغه ﷺ پوری تړل شوی، ګورو چه دسلو کلو په سر کې عمر بن عبدالعزیز وو او ددوهمې سلیزې په سر کې شافعی رحمة الله علیه)[25].

شیخ علقمي[26] وایی: (تجدید د هغه مفاهیمو او یاهم عملونو ژوندی کول دی کوم چه په کتاب او سنت کې په هغه باندی امر شوی وی، یا دعمل او تطبیق څخه پاتې وی، او یاهم دهغه کار کول پاتی وی چه هغه دکتاب او سنت داوامرو دغوښتنو او مقتضیاتو څخه وی، همدا رنګه تجدید دهغه بدعتونو او په دین کې نوو پیدا شوو امورو له مینځه وړل دي کوم چه په ټولنه کې مینځ ته راغلی

---

(24) سهیلة علاوة عظیمي، منهجیة التجدید عند أبي الأعلی المودودي، دالنهضة خپرنځای، 2008م لومړي چاپ، دمشق، ص:24.

(25) محمد شمس الحق العظیم آبادي، عون المعبود شرح سنن أبي داود، کتاب الملاحم، د ما یذکر في قرن المائة باب: 4291 شمیره حدیث.

(26) او هغه محمد بن عبدالرحمن بن علي بن أبي بکر العلقمي، شافعي مذهبه فقیه دی، په قاهره کی دعلمی کورنیو څخه دي، په حدیث باندې پوه، او دجلال الدین سیوطي له شاګردانو څخه ؤ، د مشهورو تالیفاتو څخه یې: الکوکب المنیر بشرح الجامع الصغیر، او په کال 969هـ کې وفات شو. وګوره: الاعلام، الزرکلي68/7.

وي)[27] دمجدد دوظیفې په هکله علقمی لیکي: ( مجدد هغه څوک دی چه هغه شرعي احکام ژوندی کوی، کوم چه دعمل نه پاتې شوي وي، او هغه سنتونه ژوندي کوي چه په ټولنه کې دعمل نه غایب شوی وی، او هغه ظاهري او باطني علوم بیانوی اوپه ګوته کوي، کوم چه دخلکو نه پټ پاتی شوي وي)[28] امام الوسی رحمة الله علیه وایی: (تجدید په کتاب او سنت باندی دعمل ژوندی کول دی او دهغه دغوښتنو او مقتضیاتو سره برابر عمل کول دی)[29] امام مناوي رحمة الله علیه[30] وایی: ( ددین دتجدید معنی داده چه سنت دبدعت نه بیل کړی، علم خپور کړی، داهل علم نصرت وکړی، او اهل بدعت پړ او ذلیل کړی)[31] ابن تیمیة رحمة الله علیه وایی: ( ددین په احکامو باندې دعمل نه کولو او دهغه دمعطل کېدلو په وخت کې تجدید را مینځ ته کېږي او دا داسلام دغربت حالت دی)[32] هغه په بل ځای کې وایی: (دتجدید په نتیجه کې دمسلمانانو او مؤمنانو شعار ژوندی کېږي ترڅو چه د پخوانیومهاجرینو او انصارو په څیر هغه ته عزت ور وبښی، او څوک چه په اوسنۍ زمانه کې دا کار وکړی نو هغه په حقیقت کې دسابقینو اوپخوانیو دنیکو تابعینو څخه دی چه الله به ددوی نه راضي وي او دوی به دالله نه راضی وی)[33] علامه ابن القیم رحمة الله علیه دمفتیانو ددولونو په هکله وایی: ( یو له دوی څخه هغه عالم دی چه په کتاب، سنت او دصحابه په اقوالو باندې عالم او خبر وي، او دنویو حوادثو داحکامو په هکله مجتهد وي، په کومو کې چه کوښښ کوی تر څو یې په هکله

(27) محمد بن عبدالرؤوف المناوي، فیض القدیر شرح الجامع الصغیر، دعلمی کتابونو خپرنځای، ط:1، 1994م، بیروت، لبنان، 14/1 .

(28) محمد بن عبدالرؤوف المناوي، فیض القدیر شرح الجامع الصغیر،14/1. و محمد شمس الحق العظیم آبادي، عون المعبود، دعلمی کتابونو خپرنځای بیروت 1415هـ 11/ 260. کتاب الملاحم، دما یذکر في قرن المائة باب.

(29) شهاب الدین محمود بن عبدالله الحسیني الألوسي، روح المعاني 18/ 63.

(30) هغه محمد بن عبدالرؤوف القاهري الشافعي دي، دتالیفاتو څخه یې فیض القدیر شرح الجامع الصغیر، وشرح الشمائل للترمذي دي، په کال 1031هـ وفات شو. وګوره: الزرکلي، الأعلام، 204/6.

(31) محمد بن عبدالرؤوف المناوي، فیض القدیر، په مصر کې د کتابونو لوی تجارتي پلورنځای، 1356هـ، لومړی چاپ 281/2-282.

(32) أحمد بن عبدالحلیم ابن تیمیة، مجموع الفتاوی 296/18-297.

(33) أحمد بن عبدالحلیم ابن تیمیة، مجموع الفتاوی، 28/ 420.

دشرعی دلایلو سره برابره فتوا ورکړی او د هغه دا اجتهاد دا معنی نه لري چه هغه به کله هم دبل چا تقلید نه کوي....... دا راز مفیتان کولای شي خپله فتوی صادره کړي او یاهم څوک ورنه فتوی وغواړی، او داجتهاد فرض په دوی باندې ساقطیږي او دوی هغه څوک دی چه رسول الله ﷺ ددوی په هکله ویلی دی: الله پاک دغه امت ته دهرو سلو کلونو په سر کې هغه څوک رالیږی چه دهغوی په دین کې تجدید وکړی). (34)

امام سیوطی رحمة الله علیه دتجدید دحدیث دشرحی په سیاق (لړ) کې وایی: (دحدیث شریف نه داسی نه لازمیږی (جوتیږي) چه دهرو سلو کلونو په سر کې رالیږل شوی کس دی یو نفر وی، بلکه هغه کېدای شی یو نفر وی او کېدای شی چه هغوی ډیر کسان وی، که څه هم دفقهاو څخه دامت ګټه اخیستل ددین په امور (چارو) کې عام او ګټور دی، او دنورو خلکو څخه هم دامت ګټه اخیستل مهم او ارزښتناک دی، لکه اولی الامر او دټولنې نور خلک، دهر چا څخه په داسې مورد کې ګټه اخیستل کېږی چه دبل چا څخه نه اخیستل کېږی، داولی الامر څخه دعدل او انصاف په تامینولو، دوینو دساتلو او شرعی قوانینو دتطبیق لپاره ګټه اخیستل کیږی) همدارنګه امام سیوطی رحمة الله علیه وایی: ( ددین دتجدید معنی داده، چه دهغه هدایت او لارښوونه تجدید شي دهغه حقیقت او احقیت تجدید شي، دهغه نه بدعتونه او زیات والی لری کړای شي، دشرعي احکامو دتطبیق په هکله سست والی له مینخه ولاړ شي، د شریعت په احکامو کې دخلکو دمنافعو، ګټو او مصالحو، دټولنې دآبادۍ په هکله دسنتونو او قوانینو رعایت وشي)(35) .

علامه یوسف قرضاوی وایی: ( دیو څیز(شی) تجدید له هغه کوښښ نه عبارت دی چه هغه څیز(شی) هغه حالت ته راواړوی کوم چه په ابتداء کې هغسی ؤ، او هغه دترمیم او تقویت دزیار په نتیجه کې داسی حالت ته راواړی چه د تاریخي قدامت او سابقی سره سره نوی ښکاره شی، ته به وایی چه دا

---

(34) محمد ابن أبي بکر ابن قیم الجوزیة (751هـ) أعلام الموقعین عن رب العالمین، دالجیل خپرنځای، بیروت 1973م، 212/4.

(35) جلال الدین السیوطي، الجامع الصغیر، نقلا عن عدنان محمد أمامة، التجدید في الفکر الإسلامي، لومړی چاپ 1424هـ، دابن الجوزي خپرنځای، ص: 17.

همغه لومړنی شکل او صورت دی...... نو دتجدید معنی دقدیمی څیز (شی) تبدیلول نه دی، او نه هم تجدید دپخوانی څیز دتعویضولو معنی لري، تبدیل او تعویض دتجدید دمعنی سره هیڅ علاقه او تړاو نه لری).[36] محمد سعید رمضان البوطي چه دسوريي دمعتبرو علماو څخه دی وایی: (دهغه کسانو عمل چه الله پاک یی ددین دتجدید لپاره رالیږی په دی کې خلاصه کیږی چه خلک دالله فرمانبرداری ته راوبولی، دالله پاک دهدایت او احکامو پابندی ته یی راوبولی، وروسته له هغه چه هغوی دالله پاک دین ته شا اړولی وه، او دهغه امورو (چارو) اصلاح ته دعوت وکړی کوم چه د وخت په تیریدو سره له کاره لویدلی وي، او یا یې ستنې سستی شوې وي، او یاهم دمفاهیموپه هکله نیمګړتیاوې را مینځ ته شوې وي، دنوو پیښو او حوادثو لپاره دفقهي ضوابطو او اصولي قواعدو په رڼا کې شرعي احکام استخراج کړي، پرته له دې چه په هغه باندې لوبې وکړي، او یاهم په هغه کی دهوا او هوس غوښتنې ومني)[37] .

امام أبو الأعلی المودودي رحمة الله علیه دمجدد دتعریف په هکله داسې لیکی: (مجدد هغه څوک دی چه ددین معالم او نښانې خلکو ته دتشویه او انحراف نه وروسته روښانه او واضح کړي، او دخلکو رابطه ددین سره تر غوڅیدو وروسته ټینګه کړی..... او تجدید په حقیقت کې دجاهلیت دټولو اجزاو څخه داسلام پاکول، او بیا دامکان په اندازه سره دهغه په خالص شکل سره ژوندی کول دی)[38] امام مودودی دتجدید په تعریف کې دیته اشاره کوی چه تجدید ددین دنښانو اومعالمو دتشویه نه وروسته صورت نیسی، چه مطلب یی دادی چه تجدید ددین دهغه معالمود روښانه کولو په مورد کې صورت نیسی کوم چه دخلکو دانظارو اوسترګوونه پټ شوی وي، او همدارنګه په تعریف کې وایی

(36) یوسف القرضاوي، تجدید الدین في ضوء السنة، دمرکز بحوث السنة والسیرة، مجله۲ګڼه، 1987م، دقطر پوهنتون:29 پاڼه. اوهمدا راز وګوره: یوسف القرضاوي، الفقه الإسلامي بین الأصالة والتجدید، دوهبة کتابخانه، 1999م لومړی چاپ، ص:28.

(37) محمد سعید رمضان البوطي، الإسلام بین التجدید المطلوب والتبدیل المرفوض، التجدید في الفکر الإسلامي (په قاهره کې داسلامي چارو د اعلی مجلس د دیرلسم کال دغونډې څیرنې او پیښې چې د31مي څخه تر3 جون 2001م پورې دایره شوې وه) دوزارت اوقاف له خپرونو څخه (د اسلامي چارو لوی مجلس) قاهرة 2002م ص:164.

(38) أبو الأعلی المودودي، موجز تاریخ تجدید الدین، دالفکرخپرنځای، ط: 3، 1968م، بیروت، لبنان، ص:13.

چه تجدید دخلکو رابطه له دین سره وروسته له غوځیدو ټینګوی، او ددې معنی داده چه تجدید دخلکو او دین تر مینځ درابطې په هکله مینځ ته راځي، نه خپله ددین په اړه کوم چه ثابت دی او تغییر پکې نه راځی، او دا رابطه دخلکو چه په حبل الله ورنه تعبیر کېږی په دین باندی دخلکو دتمسک اوټینګار وسیله او لاره ده لکه ددین شعایراو مناسک...... امام مودودی په بل ځای کې داسې وایی: (تجدید په حقیقت کې دجاهلیت له ټولو چټلیو څخه داسلام دمبارک دین دپاکولو څخه عبارت دی تر څو چه خالص، پاک او دلمر په شان داسی وځلیږی چه هیڅ نوع غبار او وریېځ وربانډی نه وي)[39] .

شیخ محمد غزالی رحمة الله علیه وایی: داسلام تجدید دهغه دعلومو دژوندی کولو څخه عبارت دی چه حقیقت هغسی څرګند شی لکه څنګه چه الله پاک نازل کړی دی....... داسلام تجدید داسلام او دژوندانه دقافلې تر مینځ درابطی ټینګول دی، نه داسی چه په قافله پسی لاړ شی بلکه داسی چه دژوندانه دقافلی دتګ سرپرستی وکړی او دهغه تګ لاره او توجهات وټاکې..... داسلام تجدید دهمتونو دساتلو او لوړولو څخه عبارت دی چه دښمنانو ته مناسب ځواب ورکړی اواسلام ته دقوت شکل وروبښی، او دژوندانه غریزه په زامنو کې راژوندی کړی، تر څو چه ضعف او کمزوری ورته لاره پیدا نه کړی، چه ددوی دکمزوری په سبب دوحی حقیقتونه کمزوری نه شی، او داسلام تجدید ددین نقل کول هغه ځای ته ندی کوم چه خلک یی غواړی بلکه دخلکو نقل کول هغه ځای ته دی چه الله پاک یی غواړی او په هغه یی رضا ده)[40] او دخپلو خبرو په ادامه کې وایی: ( داسلامی امت علماو د تجدید دنده په غاړه اخیستی ده او په هغه باندې بوخت وو او پدې ورځو کې موږ هم په هغه باندې بوخت یوو، او هغه ته داسی متوجه یو څرنګه چه دوی ورته متوجه وو، او هغه شیانو زموږ توجه را جلب کړی ده، کوم چه له دوی څخه ورسته نوي پیدا شوي دي.)[41] .

(39) أبو الأعلى المودودي، موجز تاريخ تجديد الدين وإحيائه (واقع المسلمين وسبيل النهوض بهم) دالرسالة موسسه، 1975م، 12مخ.

(40) محمد الغزالي، كيف نفهم الإسلام، دنهضة مصر خپرنځای دچاپ، نشر اوتوزيع لپاره، القاهرة، څلورم چاپ 2006، 127.مخ.

(41) محمد الغزالي، كيف نفهم الإسلام، دنهضة مصر خپرنځای دچاپ، نشر اوتوزيع لپاره، القاهرة، څلورم چاپ 2006، 127مخ.

دکتور حسن عبدالله ترابی وایی: (لکه څنګه چه دالله پاک تقدیر په دې باندې تیر شوی چه پخواني شرایع تجدید شي او دا تجدید د تاریخ په اوږدو کې دوحې په واسطه صورت پیدا کاوه او دهغه دتبلیغ او رسولو له کبله پیغمبران را لیږل کېدل، کوم چه دهغوی سلسله درسول اکرم ﷺ په راتلو سره پای ته ورسیده، دالله پاک تقدیر بیا داسې وه چه دخاتم شریعت تجدید دتجدید دامامانو او دتجدید دحرکتونو په غاړه واچوي، او لکه څنګه چه دپخوانیو شریعتونو اصول ثابت وو او یو په بل پسی پیغمبرانو هغه ژوندي کول، اما بیا په خپل مینځ کې دهغو شریعتونو تر مینځ په ځینو احکامو کی توپیر را مینځ ته کېده، تر څو دخپلی زمانی واقعیتونو او غوښتنو ته دثابتو اصولو په رڼا کې ځواب ورکړی، همدارنګه خاتمه شریعت هم ثابت اصول لری او کله هم چه هغه دمسلمانانو تر مینځ له عمل او تطبیق څخه پاتې شي او یا هیر کړی شي نومجددین هغه ژوندي کوي، او همدارنګه ځینی نرم اصول هم لري چه هغه دوی ته دټولنی دواقعیتونو سره دتکیېف او ورته والی فرصت ورکوی او مجددین په هغه کې کولای شی حرکت وکړی، او لکه څرنګه چه د شرعی پیغام تجدید په پخوانیو رسالتونو کې د واحد دین په اصولو کې تغییر نه راوستلو، همدارنګه دخاتمه رسالت په شریعت کې تجدید دجامعې دجوړولو په مختلفو مرحلو کې (دتنزیل او تشریع په عهد کې) تبدیل نه شمیرل کېده، نو لدی کبله ددینی تعبیر صورتونه دمادي او اجتماعي پرمختګونو درعایت لپاره سره ددې چه خپل ثابت اصول وساتي، دټولنې او زمانې دغوښتنو او د واحد دین تر مینځ دتړاو او تماس مبرم ضرورت دی)[42] .

محمود حمدي زقزوق دمصر پخوانی د أوقافو وزیر داسی لیکې: مطلوبه تجدید دادی چه ددین ثوابت وساتل شي خو په عین وخت کې په هره زمانه، وخت او هر ځای کې باید ددین دفعلي تطبیق صلاحیت ثابت کړای شي او دهغه ژوندیتوب تامین کړای شي. او په بل ځاي کي لیکې: مطلوبه تجدید دا معنی لري چه دعصر په وسله او دټولنې دنوو تغییراتو څخه په منور فهم باندې داسې سمبال وی چه له یوې خوا دمسلمانانو ژوند ته داسې رنګ ورکړي چه دتغییراتو سره مناسب وي، او له بلی خوا داسلامي دین حیویت او ژوندیتوب وساتي، او په

(42) حسن عبدالله الترابي، تجدید الفکر الإسلامي، د السعودیة خپرنځای دنشر اوتوزیع لپاره، دوهم چاپ 1987م 132 مخ.

دریم قدم کې مسلمانانو ته دپرمختګ او تاریخ دجوړولو لپاره لاره خلاصه کړی.(43)

عمر عبید حسنة وایی: ( دتجدید څخه، لغو کول، تبدیلول او یاهم دشرعی څخه تیریدل مطلب نه دی، بلکې دهغه څخه مطلب دنص نه درست او نوی فهم ترلاسه کول دی، هغسی فهم چه مسلمان دخپل عصر او زمانی دمشکلاتو اوستونزو دحل او معالجی په اړه داسی رهنمایی او توجیه کړی، چه دمشکلاتو لپاره د وحې دهدایتونو په رڼا کې حل لاری استنباط کړای شی)(44)

**دپورته علماوو په تعریفونو کې دغور نه وروسته دا ویلای شو چه تجدید په لاندې امورو او چارو باندې صدق پیدا کولای شی:**

## لومړی:

**دتدین تجدید:** د تدین تجدید ددین سره دمسلمان په رابطه کې تجدید دی، او ددې معنی ددین صحیح او سمه پوهه ژوندي کول دي، او بیا په هغه باندې عمل کول او دهغه دعملي کولو لپاره عملي لارې او برنامې جوړول دی، دمسلمان فرد په ژوندانه کې په هغه عمل کول دی، دټولنی په عمومې ساحه کې ددین ژوندي کول دی، بیا هغه ددین په مقاصدو پورې تړل دی او دټولنې حرکت ته دشرعي مقاصدو په رڼا کې توجه او هدف ورکول دی، دټولو انحرافی تصوراتو د انحراف او غلطی بیانول دی او بیا دهغه تصوراتو سم جوړول دی، کوم چه ددین دپوهې په برخه کې وجود لري او یاهم الله پاک ته دتقرب دساحاتو او مجالونو په خواکې وجود لری، که څه هم دا دعقیدې او دبدعتونو دانتشار په برخه کې وی، او یاهم دا انحراف دټولنی دافرادو په سلوکي اړخ کې وی، او یاهم دا انحراف دمسلماني ټولنې په اجتماعي، اقتصادي او سیاسي ژندانه کې وي چه دټولنې دا اړخونه داسلامي شریعت داحکامو او مقاصدو څخه بهر ترتیب او

(43) محمود حمدي زقزوق، التجدید في الفکر الإسلامي ( په قاهره کې داسلامي چارو د اعلی مجلس د دیرلسم کال دغونډې څیرنې او پیښي چې د31مي څخه تر3 جون 2001م پورې دایره شوې وه) دوزارت اوقاف له خپرونو څخه (د اسلامي چارو لوی مجلس) قاهرة 2002م ) 4 او5مخ

(44) عمر عبید حسنة، الاجتهاد والتجدید سبیل الوراثة الحضاریة، لومړی چاپ، 1998م، المکتب الاسلامی: 20مخ

تنظیم شوي وي، نو دلته تجدیدی کوشش دا دی چه دمسلمانانو اړیکه ددین سره سمه کړای شي، فرد اوټولنه دواړه دالله تعالی ددین دغوښتنو سره سم حرکت وکړي، او مجدد هغه څوک دی چه ددې حرکت لپاره لاره برابروی، دفهم په لحاظ دخلکو قناعتونه برابروي، هغه ته دعوت کوی او یاهم په عملي ساحه او ډګر کې ددین دارزښتونو دپوره تطبیق لپاره پلان جوړوی، خلک دهغه دحکمتونو او فوایدو نه خبروی او خلک دهغې عملي کولو ته تشویقوي او هڅوي.

## دوهم:

دحوادثو او نوازلو دشرعی احکامو پیژندل: په ټولنه کې ډیر داسې حوادث مینځ ته راځي چه پخوانیو علماو په هغه کې خبره نه وي کړې، هغه حادثه اوس مینځ ته راغلې وي، او یاهم ځینې مسایل مینځ ته راغلي وي چه پخوانیو علماو په هغه کې خبره کړې وی اما اوس شرایطو او وضعیت تغییر موندلی وي او هغه پخوانۍ فتوی یوځل بیا کتنی ته ضرورت ولری، چه آیا هغه فتوی په دې عصر کې هم ددین د نصوصو اومقاصدو په رڼا کې سمه فتوی ده؟ او آیا دخلکو ګټې دشریعت په چوکاټ تامینوي؟[45]

## دریم:

دشرعي احکامو تطبیقي صیاغت: یعنې د شرعي احکامو داسې صیاغت وشي چه په ټولنه کې دموجوده مؤسساتي ظرفیتونو له لارې دتطبیق زمینه ورته جوړه شي، دا ځکه چه دشرعي احکامو یوازې بیانول کفایت نه کوي بلکه ددې تر خوا شرعي احکام دیته ضرورت لري چه دهغه تشریعي صیاغت داسې وشی چه په ټولنه کې دسیاسي، اقتصادي او اجتماعي چوکاټونو له لارې دتطبیق فرصت ترلاسه کړي، او له دې لارې ټولنه داسلام په رڼا کې هراړخیزه ترقي او پرمختګ وکړي او اسلامي امت هغه برم، مقام او حیثیت ترلاسه کړی کوم چه داسلامی دین دهراړخیز تطبیق دغیاب په نتیجه کې یې له لاسه ورکړی.

---

**(45)** په لاندې لینک باندې دمحمد مسعد یاقوت تجدید الدین (المعنی و التأصیل الشرعي) خپره شوې څیړنه : http://www.daawa-info.net/mosharakat.php?id=58
اووګوره: أحمد بو عود، الاجتهاد بین حقائق التاریخ ومتطلبات الواقع، دالسلام خپرنځای دچاپ، نشر اوتوزیع لپاره، القاهرة، 2005 لومړی چاپ، 10 مخ.

دتجدید دا پورته په دریو ټکو کې معنی کله چه عملي بڼه غوره کړي، عملي کوونکی یې دحق دټولګی هغه تمثیل کوونکی دی کوم چه په نبوی احادیثو کې یې وصف داسې راغلی دی: هغه کسان چه دقیامت تروړځې پورې پر حق تمسک کوي، ددین شعایر او ارزښتونه ژوندي کوي، هغه دهر ډول تحریف نه ژغوري، هغه دین نه پریږدی چه دجمود په اړخ تکیه وکړی، تر څو دجمود او انحراف په نتیجه کې بیا دین دټولنې دسمې جوړولو اوټولنې ته درنګ ورکولو دوظیفی څخه شاته پاتې نه شي، رسول اکرم ﷺ فرمایي: **(لا تزال طائفة من أمتي ظاهرين حتى يأتي أمر الله وهم ظاهرون)**[46] او بل حدیث کې رسول الله ﷺ فرمایی: **(يرث هذا العلم من كل خلفٍ عدوله، ينفون عنه تأويل الجاهلين، وانتحال المبطلين، وتحريف الغالين)**[47] اوبل حیث کې هم رسول الله ﷺ فرمایی: **(لا يزال الله يغرس في هذا الدين بغرسٍ يستعملهم في طاعته)**.[48]

دتاریخ په اوږدو کې دعلماو تجدیدي کوششونو(هڅو) دهمدې پورته مفهوم په تطابق کې صورت نیولی، او په دی ځاي کې دپورته مطلبونو دتایید په خاطر دامام مالک رحمة الله علیه قول باید ذکر کړو چه فرمایي: (ددې امت آخر به په هغه څه صلاح مومی په کوم چه ددې امت اوایلو صلاح موندلی ده، او کوم شی چه په پیل کې دین نه ؤ، نن ورځ به هم هغه دین نه وي)[49] او دعلماو په نظردا پورته مطلب دتجدید لپاره صحیح او درست منهج دی او دامت د په پښو دریدو لپاره او دامت دنهضت لپاره درسته تګلاره ده، دتاریخ په اوږدو کې چه دمجددینو کوششونو اوهڅو ته وګورو هغه ټول په دی پورته ذکر شویو ساحو، مجالاتو او ډګرونو کې راټولیدای شی، حسن بصری رحمة الله علیه هغه مجدد ؤ، چه دیني شعور، احساس او ضمیر (وجدان) یی په عامو خلکو کې ژوندي کړ، عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه دسیاست په ډګر کې مجدد ؤ، امام شافعی رحمة الله علیه داستدلال او علمی منهج په ساحه کې مجدد ؤ، ابن تیمیه رحمة الله

---

**(46)** بخاری په خپل صحیح کې تخریج کړی، کتاب الاعتصام بالکتاب والسنة، دقول النبي ﷺ : (لاتزال طائفة من أمتي ظاهرين على الحق) باب، 6881 شمیره حدیث.

**(47)** أبوعمر یوسف بن عبدالله بن عبدالبر النمري القرطبي رانقل کړی( 463هـ) التمهید، په المغرب کې داوقافو او اسلامي چارو وزارت، 1387هـ، 59/1، او مناوي په فیض القدیر را نقل کړی 396/6.

**(48)** ابن ماجه پخپل سنن کې تخریج کړی، داتباع سنة النبي ﷺ باب، 8 شمیره حدیث.

**(49)** عبدالرحمن بن حماد، الارشاد الی توحید رب العباد، دار العاصمة، الریاض، ص: 120.

علیه ددرست دیني تصور دارزوني او دفلسفی منحرفو ډلو دتصوراتو د ردولو په ساحه کې مجدد ؤ، محمد بن عبدالوهاب دمنحرفو خرافاتو دي له مینځه وړلو په ساحه کې مجدد ؤ، سید جمال الدین افغانی او محمد عبده اوشهید حسن البناء داسلامی جامع (بشپړ) او هراړخیزه تصور دوړاندې کېدو مجددین وو، او دا هغه دعلماوو سلسله ده، چه په شرعي مفهوم سره یې دتجدید د دندې داداء کولو په هکله کوششونه (هڅې) کړې دي، چه هر یو یې دخپلې زماني او ځاي غوښتنې، مشکلات او ستونزې رعایت کړې دي او په پام کې یې نیولی دي.(50)

پدې پورته ټولو تعریفونو کې دا مطلب کتل کیږی چه هغه کوششونه او هڅې چه لویدیځ فرهنګ یې په دغه هکله تر سره کوي، او غواړی خلک تر خپل فرهنګي اغیزی لاندې راولي، ددین داصلاح ترعنوان لاندې دلویدیځ فرهنګ لپاره دنفوذ لارې برابرې کړي، دا ټول فعالیتونه (کړنې) او زیارونه په شرعي تجدید کې نه شي شاملیدای، بلکه هغه په حقیقت کې ددین دتحریف لپاره بل تلاش اوزیار دی چه مجددین باید دهغې مخنیوی وکړی، او پرېنږدی چه ددوی هڅې دشرعي تجدید کوششونه د بیلاری لوری ته بوزی او یا یې دخپل خط او لوري نه کاږه کړی.

محمد الغزالي رحمة الله علیه په دې اړه داسې وایی: (هرهغه کوشش چه اسلامی ارزښتونه یو دبل نه بیلوی، یودبل سره یی بې رابطی کوی، هغه ته نادرست میل ورکوی، په هغه کې انحراف رامینځ ته کوی، په هغه کې هغه څه داخلول غواړي چه داسلام څخه نه وي او اسلامی ارزښتونه بلی خواته بیول غواړی، په حقیقت کې دا د اسلامی منهج نه بې لارې کیدل او وتل دي، په الله پاک باندی افتراء کول دي، په حق باندې حمله او تیری دی، دهیڅا څخه دا خبره دقبلولو او منلو وړ نه ده، چه ووایی: ددې نص دتطبیق وخت تیر شوی، یا ددې حکم دتطبیق وخت اوس نه دی، او یا نړۍ تر داسې کچې ترقي کړې، چه دا احکام باید پریښودل شي، اویا هم دا تشریعات معطل کړای شي، په حقیقت کې دارنګه کوششونه ټول داسلام د ورانولو په خاطر او دجاهلیت دبیرته را ګرځولو په خاطر دي...... تجدید په دین کې ددې ډوله منکراتو او تیروتنو مرتکب

(50) په لاندې لینک باندې دعبدالله بن محمد المالکي، التجدید حینما یفقد مساره، خپره شوې مقاله:
http://www.alqlm.com/index.cfm?method=home.con&contentid=220

کېدل نه دي، دسلفو او خلفو دعلماو دهیڅا فهم داسې نه ؤ، چه تجدید دبدعتونو دژوندي کولو په معنی وي، دهوا او هوس تابعداری دی تجدید وبلل شي، په شرعی نصوصو او اصولو باندې لوبو کولو ته دې تجدید وویل شي. خو له بدمرغه په دې ورځو کې داسې خلک پیدا شوي چه ددین دتطور په هکله خبرې کوي او دامکاناتو په هکله یې فکر کوی، تر څو دین داوسنی عصر دغوښتنو سره ملایم او برابر کړي).(51)

او دهمدې پورته مطلبونو دتاکید او پوهاوی لپاره دتجدید تر عنوان لاندې په مصر کې داسلامی چارو او اوقاف دوزارت له خوا په قاهره کې یو کنفرانس دایر شوی ؤ چه په هغه کې داسلامی نړی ګڼ شمیر علماوو شرکت کړی ؤ، په ختامي بیان کې یې لاندې ټکي راغلي دي:

تجدید په هیڅ ډول دعقیدی او عباداتو دثوابتو او اصولو سره تماس نه شي نیولی او نه پکې تجدید راتلای شي، او نه هم په هغه قطعی او پریکنده احکامو کې تجدید صورت نیولی شی چه په کتاب او سنت کې په قطعی او پریکنده ډول سره راغلي دي، بلکه دتجدید معنی داده چه فکر اوعقل باید دمعاصرو او اوسنی ژوندانه دمشکلاتو اوستونزو د حل په هکله پکار واچول شي، او دهغی لپاره دشرعي دلایلوپه رڼا کې مناسب او حل کوونکي احکام استنباط شي، نو لدې کبله هیڅ د ویری ځاي نشته له دې څخه چه تجدید به اسلام ته دپردیو افکارو د راداخلیدو لاره هواره کړي، یا به د تجدید تر عنوان لاندې داسې احکام رامینځ ته شي چه دشرعي مقاصدو سره متناقض وي، بلکې دتجدید معنی داده چه هغه دتطبیق نه پاتې شرعي احکام دشرعي اجتهاد له لارې داسې ژوندي شي چه دشریعت ثوابت او اصول په هغه کې رعایت شي او مسلمانان په هغه باندې عمل کولو او دهغه دمقتضیاتو پوره کولو ته دعوت شي.

په دې باندې تاکید اوټینګار دی چه تجدید په اسلامي ثابتو اصولو باندې ولاړ دی، او درسول اکرم ﷺ د دغه حدیث په بنسټ صورت نیسی چه فرمایی: **(إن الله يبعث لهذه الأمة على رأس كل مائة سنة من يجدد لها دينها)** او دا پدې معنی ده، چه تجدید دشریعت دحیویت دژوندیتوب او مؤثریت اواغیزمنتیا او د هری

**(51)** محمد الغزالي، کیف نفهم الإسلام، 183مخ.

زمانی او مکان لپاره دهغه دصلاحیت دتامین لپاره یو اړین او ضروری عمل دی، او دا هغه فهم او پوهاوی ده چه د شریعت امامانو لکه امام شافعی او شاطبی او ابن القیم..... په دې هکله له شریعت څخه درلوده او په خپلو کتابونو کې یې دا مطلب درج کړي دی او په خپل ژوندانه کې یې دهغه لپاره کار کړی دی.

په دې یې تاکید او ټینګار کړی دی، چه تجدید د پخوانیو مجتهدینوکوششونه اوهڅې باطلې نه ګڼي، بلکه دهغه په پام کې نیول، داوسنی عصر دمشکلاتو اوستونزو دمناسب حل په اړه او دشرعي حکمونو داستخراج په برخه کې ضروري بولي، خو بې لدې چه یوه فقهي رایه او یو معین مذهب ته ځان مقید وبولی، اوهمدارنګه د علماو داجتهاداتو نه دهغه مسایلو داحکامو داستنباط په اړه استرشاد او استفاده وکړی کوم چه علماو دهغه په اړه بحث نه دی کړی، او یایې هم فتوی نده ورکړې، او داټول باید دټولنیز اجتهاد په چوکاټ کې وشی کوم چه دفقهی مجامعو او ټولنو په انګړ کې په اسلامی ملکونو کې تر سره کیږی، او بیا داولی الامر او یاهم تقنیني مجالسو له خوا دتشریع او قانون حیثیت نیسي.(52)

دتجدید څخه مراد او مطلب د بنده او الله تعالی ترمینځ درابطی تجدیدول او نوي کول دي، هغه ددین سره دټولنې درابطې تجدیدول هم دي، دتجدید مفهوم ددین دحقیقت تجدیدول ندی کوم چه ثابت دی او بدلون نه مومی، او ددې مطلب بیان دا ایجاوبي چه ددین دکلمې سره په درایت او دقت سره ودرېږو، دین د دینونیت (دینولۍ) نه اخیستل شوی چه برحق معبود ته د مطلق خضوع معنی افاده کوي چه هغه الله پاک دی، نو دین او دینونیت (دینولي) دانسان وصف دی او تجدید په هغه باندې مسلط دی، نه هغه ثابتې مبادئ او ارزښتونه چه الله پاک نازلی کړي دي، نو د مجددینو کار دادی چه خلک دالله پاک فرمانبرداری ته راوبولي، په هغې باندې یې انضباط ته راوبولي، دمفاهیمو په هکله چه څه مشکلات اوستونزې دخلکو په مینځ کې وجود ولري او یاهم ددین څخه ځینې خلک ناسم برداشت او فهم ولري باید هغه په سم او واضح ډول سره بیان کړي،

(52) د التجدید في الفکر الإسلامي د کنفرانس سپارښتني (په قاهره کي داسلامي چارو د اعلی مجلس د دیرلسم کال دغونډې څیرنې او پیښې چي د31مي څخه تر3 جون 2001م پورې دایره شوې وه) دوزارت اوقاف له خپرونو څخه (د اسلامي چارو لوی مجلس) قاهرة 2002م 1258-1262مخ.

دهغه نوو حوادثو لپاره چه په ټولنه کې مينځ ته راځي او پخوانيو علماوو په هغه کې خبره نه وی کړې شرعي احکام دشريعت دنصوصو او مقصدونو سره په همغږی او دخلکو دضرورتونو په رعايت سره استنباط کړي، په هغه کې دهوا او هوس غوښتنو ته غاړه کېنږدي. او له دې کبله دی، چه په حديث شريف کې تجديد دامت په دين کې راغلی **(يجدد لها دينها)** نه ددين په امر باندی چه هغه ددين مبادئ ارزښتونه او احکام دی، کوم چه ځينی خلک هغه په غلط شکل سره روايت کوی **(يجدد لها امر دينها)** چه هغه هم دروايت له خوا درست نه دی، ځکه چه ټول روايات **(من يجدد لها دينها)** په لفظ سره راغلی دی، او ددرايت له خوا هم تسلط دتجديد په حديث شريف کې ددين په امر باندی ندی بلکه په دين باندی دی، او دا ځکه چه بيا دحديث معنی سمه او درسته نه راځی، ځکه ددين دامر معنی ددين داحکامو او مبادئو څخه بل څه نه دی، اما ددين احکام خو هر وخت جديد دی که څه هم په هغه باندی قرنونه پيړی او زيات زمان تير شی، نو بيا به دتجديد معنی په احکامو او مبادئو کې تنها دتبديل او تغيير په معنی وی او دهغه نه خو رسول الله ﷺ نهی کړی ده.[53]

شيخ يوسف قرضاوي حفظه الله هم پدې هکله وايی چه مجدد ( داول دال په فتحه سره) دهغه شی معنی ورکوي کوم چه په هغه کې تجديد صورت نيسی په حديث شريف کې دين دی او ياهم دهغه په ځای اسلام، او کله هم چه دا کلمه يوازې او بيله ذکر شي نو يوه له دغو معناګانو نه ورڅخه مراد کيدای شی:

**اوله معنی:** هغه منهج چه الله پاک دخپل رسول په واسطه خلکو ته راليږلی، چه په هغه کې عقايد، عبادتونه، اخلاق او نور شعاير شامل دی چه الله پاک دهغې په وسيله دانسان تړاو دپروردګار سره تنظيموی او ياهم دبندګانو رابطه دهغې په واسطه يودبل سره تنظيموی چه علامه ابن خلدون دهغه څخه داسې تعبير کوی: ( دين هغه الهی وضع ده، چه بشر په خپل اختيار سره هغی خواته بيايی په کوم کې چه دبشر ددنيا او آخرت منفعت او ګټه ده) او دين په دی معنی

(53) محمد سعيد رمضان البوطي، الإسلام بين التجديد المطلوب والتبديل المرفوض، التجديد في الفكر الإسلامي (په قاهره کې داسلامي چارو د اعلی مجلس د ديرلسم کال دغونډې څېړنې او پيښې چې د31مي څخه تر3 جون 2001م پورې دايره شوې وه) دوؤارت اوقاف له خپرونو څخه (داسلامي چارو لوی مجلس) قاهرة 2002م (: 163-164مخ.

او دهغه داصولو او مبادئو په پام کې نیولو سره ثابت دی او دهیڅ نوع تغییر قابلیت پکې نشته.

**دوهمه معنی:** دین عبارت له هغه حالت څخه دی چه انسان یی دالله پاک سره دفکر، شعور، احساس، عمل او اخلاقو په ساحه او ډګر کې لری، او پدې هکله خلک وایی چه دفلاني دین ضعیف دی، او یاهم دین یې قوي دی، او دین په دی معنی کمیږی او زیاتیږی، صفایی پیدا کوی او یاهم دکدورت سره مخ کیږی، او هغه دانسان د پوهاوي او انسان دایمان په تناسب او کچه کارته او یاهم پورته کیږی او دا هغه معنی ده چه تجدید قبلوی، او له همدې کبله ده چه په حدیث کې دین امت ته مضاف شوی او هغه ته نسبت ورکړای شوی دی: **(لیجدد لها دینها)** او پدی حدیث شریف کې دین الله پاک ته ندی منسوب شوی بلکه امت ته منسوب شوی دی، نو دلته تجدید دامت په دین باندی واقع کیږی ځکه چه په حدیث شریف کې امت ته منسوب شوی دی نه هم دالله دین ته[54].

او ددی مطلب دتایید په برخه کې ډیر نور احادیث هم راغلی دی، بالخصوص هغه احادیث چه تجدید دایمان دژوندی کیدو په معنی باندې اخلي[55]، رسول الله ﷺ فرمایی: **(إن الإیمان یخلق في جوف أحدکم کما یخلق الثوب، فاسألوا الله تعالی أن یجدد الإیمان في قلوبکم)**[56] ترجمه: یقیننا چه ایمان ستاسی په داخل کې داسی زړیږی لکه څرنګه چه جامې زړیږي، دالله نه وغواړی چه ایمان ستاسې په زړونو کې تجدید کړي. بل ځای کې رسول الله ﷺ فرمایی: **(جددوا إیمانکم، قیل یا رسول الله وکیف نجدد إیماننا؟ قال: أکثروا من قول لا إله إلا الله)**[57] ترجمه: خپل

---

(54) یوسف القرضاوي، من أجل صحوة راشدة تجدد الدین وتنهض بالدنیا، دالشروق خپرنځای، القاهرة، 2001م: 28-29مخ.

(55) وګوره: عصام أحمد البشیر، التجدید مفهومه وضوابطه وآفاقه في واقعنا المعاصر، التجدید في الفکر الإسلامي (په قاهره کې داسلامي چارو د اعلی مجلس د دیرلسم کال دغونډې څیړني او پیبني چي د31مي څخه تر3 جون 2001م پورې دایره شوې وه) دوزارت اوقاف له خپرونو څخه (د اسلامي چارو لوی مجلس) قاهرة 2002م): 937-938مخ.

(56) الحاکم په مستدرک کې تخریج کړی، 5 شمیره حدیث.

(57) امام احمد په خپل مسند کې دا حدیث راوړی دی، 8353 شمیره حدیث، اوحاکم هغه په مستدرک کې راوړی دی 7766 شمیره حدیث، او وایی: دا حدیث صحیح الاسناد دی اما مسلم او بخاری هغه ندی تخریج کړی.

ایمان تجدید کړی، ورته وویل شول چه څرنګه خپل ایمان تجدید کړو؟ هغه وفرمایل: دلا اله الا الله کلمه ډیره ځل ووایاست.

په سعودی عربستان کې دافتاء دایمي کمیسیون د رسول اکرم ﷺ ددې قول په هکله: **(یجدد لها دینها)** داسې ویلی دی: هرکله چې خلک د دین دسمې لارې څخه منحرف او کاږه شي، دهغه دین دلارې څخه چه الله پاک خپلو بندګانو ته بشپړ کړی، او دهغه په سبب یې په دوی باندې خپل نعمت وپیرزایه، او هغه یې ددوی لپاره ددین په حیث اختیار کړ، نو بیا دوی ته یا یو عالم او یا ډیر عالمان چه داسلام سمه پوهه ورسره وي، ددعوتګرانو په حیث ورلیږی، ترڅو خلک سمې لارې ته راوبولی او هغوی دالله تعالی په کتاب او درسول الله ﷺ په ثابتو سنتو باندې پوه کړی، دبدعتونو او په دین کې دنوو شیانو دداخلولو نه خلکو ته خبرداری ورکړي، او خلک دقرآن او سنت سره برابرې سمې لارې ته راوبولی، دیته دامت په نسبت تجدید ویل کیږی، نه هم ددین په نسبت چه هغه الله پاک تکمیل کړی، تغییر، ضعف او انحراف دامت په حالت کې واقع کیږی، اما خپله اسلام خو پاک الله دقرآن کریم او سنت دحفظ له لارې ساتی)[58]

شیخ عبدالله بن عبدالمحسن الترکي پدې هکله وایی: ګمان نه کوم چه دهیڅ مسلمان به داسلامي فکر د تجدید څخه مطلب دا وي چه په دین کې دې داسې معناګانی داخلې شي، چه هغه په قرآن او سنت کې شتون ونلری، یا دتجدید څخه دهغه مطلب ددین دثوابتو تغیرول وي، یاهم ددین دکړی تنګول لکه دا چه اسلام یوازې دعقیدې په ډګر کې راونغاړل شي، او دعمل اړخ ورڅخه وباسی، او یاهم هغه په عباداتو کې حصر کړی او دژوندانه نورې ټولې خواوې ورڅخه وباسي، دا ډول ټول تصرفات ددین دمعنی تحریف دی.[59] او په بل ځای کې وایی: ( دتجدید څخه مطلب دادی چه په مجموعي شکل سره امت ته خپل دیني هویت اعاده کړي، او په دین باندې داعتزار روحیه تقویت کړي، او دسالمې عقیدې لوری

**(58)** عبدالعزیز بن باز، عبد الله بن قعود، عبد الله بن غدیان، اوعبد الرزاق عفیفي، دعلمي بحثونو او فتوا ګلنو دایمي کمیسیون ( دالحکم علی الحدیث وبیان معنی من یجدد باب) 8687 شمیره فتوی.

**(59)** عبدالله بن عبد المحسن الترکي، التجدید في الفکر الإسلامي (په قاهره کې داسلامي چارو د اعلی مجلس د دیرلسم کال دغونډې څیرنې او پیښې چې د31مي څخه تر3 جون 2001م پورې دایره شوې وه) دوزارت اوقاف له خپرونو څخه (د اسلامي چارو لوی مجلس) قاهرة 2002م : 31مخ.

ته دعوت او فعالیت ورکړي، چه بیا ټولنه هغه عملي کړي، تر څو په خپله عقیده باندې ویاړ، دشریعت تابعداري او په اسلامي اخلاقو باندې التزام وکړي)[60].

## دآخر خبره:

## ددی څیړنی په آخر کی د لاندی ټکو ذکر کول مناسب بولم:

په دین کی تجدید کومه نوی خبره نده، دا خبره رسول اکرم ﷺ کړی ده، هغه ته یی ترغیب کړی دی، دشریعت علماو دهغه په هکله خبره کړی ده او دتجدید ساحات او برخی یی واضح کړی دی.

**شرعی تجدید دری لویی ساحی او برخی لری:** اول: دتدین دتجدید برخه، چه ددین دسمی پوهی او اسلامی ارزښتونو ته دعملی پابندی او اطاعت معنی ورکوی، دوهم: دواقع شوو مسایلو په هکله دشرعی احکامو پیژندلو ساحه، چه عموما دشرعی اجتهاد دژوندی کولو ساحه ده. دریم: دشرعی احکامو دتطبیق لپاره کوشش، او دهغه لپاره زمینه سازی کول، او د هغه تطبیقی صیاغت تهیه کول.

شرعی تجدید د اسلامی شریعت دمکمل او بشپړ تطبیقیدو لاره ده، هغه دامت دنهضت لپاره یوه کامله یو له بل سره تړلی طرحه ده چه دهغه په نتیجه کی به داسلامی امت له لاس نه وتلی برم او عزت بیرته لاس ته راوړل شی، او دسمی پوهی او سم عمل کولو له لاری به امت داوسنی دویر نه ډک حالت نه وباسی.

شرعی تجدید هیڅ وخت ددین په ثوابتوکی دتبدیل او تغییر معنی نه لری، بلکه دا نوع تجدید ددین تحریف دی او اسلامی مفکرینو دهغه دمقابلی لپاره غږ کړی دی، او په مسلمانانو لازمه ده چه داسلام دسوچه او صحیح پوهی دخپراوی لپاره کوشش وکړی، او هغه مغرض حرکتونه برلا کړی چه دتجدید د کلمی ترعنوان لاندی ددین دنړولو او یاهم دهغه دتحریف کوشش کوی.

---

(60) عبدالله بن عبدالمحسن الترکي، التجدید في الفکر الإسلامي (په قاهره کې داسلامي چارو د اعلی مجلس د دیرلسم کال دغونډې څیړني او پیښې چې د31مي څخه تر3 جون 2001م پورې دایره شوې وه) دوزارت اوقاف له خپرونو څخه (د اسلامي چارو لوی مجلس) قاهرة 2002م : 29مخ.

# د مراجعو او مصادرو فهرس

(1) أبو الأعلى المودودي، موجز تاريخ تجديد الدين، دالفكرخپرنځای، ط: 3، 1968م، بيروت، لبنان.

(2) أبوعمر يوسف بن عبدالله بن عبدالبر النمري القرطبي رانقل کړی ( 463هـ) التمهيد، په المغرب کې داوقافو او اسلامي چارو وزارت، 1387هـ.

(3) أحمد بن عبدالحليم ابن تيمية، مجموع الفتاوى.

(4) أحمد بن محمد بن علي المقري الفيومي (ت770هـ)، المصباح المنير، علمي کتابخانه، بيروت، لبنان.

(5) أحمد بو عود، الاجتهاد بين حقائق التاريخ ومتطلبات الواقع، دالسلام خپرنځای دچاپ، نشر اوتوزيع لپاره، القاهرة، 2005 لومړی چاپ.

(6) إسماعيل ابن کثير الدمشقي، تفسير القرآن العظيم، المصرية اللبنانية خپرنځای، دقاهري مطبعه، دوهم چاپ 1990.

(7) التجديد في الفكر الإسلامي (په قاهره کې داسلامي چارو د اعلی مجلس د دیارلسم کال دغونډې ځيرني او پيښې چې د31مې څخه تر3 جون 2001م پورې دايره شوې وه ) دوزارت اوقاف له خپرونو څخه (د اسلامي چارو لوی مجلس) قاهرة 2002م.

(8) حسن عبدالله الترابي، تجديد الفكر الإسلامي، د السعودية خپرنځای دنشر اوتوزيع لپاره، دوهم چاپ 1987م.

(9) حليمة بوكريشة، معالم التجديد الفقهي (أنموذج الشوكاني) کتاب الأمة،90-91 ګڼه رجب-رمضان 1423هـ 22کال د قطر په هيواد کې د اوقافو او اسلامي چارو وزارت.

(10) خالد عبدالله الشعيب، ضرورة التجديد وضوابطه في الفكر الإسلامي، التجديد في الفكر الإسلامي.

(11) سهيلة علاوة عظيمي، منهجية التجديد عند أبي الأعلى المودودي، دالنهضة خپرنځای2008م لومړي چاپ، دمشق.

(12) سيف الدين عبدالفتاح إسماعيل، التجديد السياسي والواقع العربي المعاصر(اسلامی ليدلوری)، دڅيړنو او تحقيقاتو مرکز، داقتصاد اوسياسي علومو پوهنځی، دقاهري پوهنتون، دنهضت کتابخانه، قاهرة، 1989.

(13) شهاب الدين محمود بن عبدالله الحسيني الألوسي، تفسير روح المعاني.

(14) عبدالرحمن بن حماد، الارشاد الى توحيد رب العباد، دار العاصمة، الرياض.

(15) عبدالله بن محمد المالكي، التجديد حينما يفقد مساره، (په قاهره کې داسلامي چارو د اعلی مجلس د دیارلسم کال دغونډې ځيرني او پيښې چې د31مې څخه تر3 جون 2001م پورې دايره شوې وه) دوزارت اوقاف له خپرونو څخه (د اسلامي چارو لوی مجلس) قاهرة 2002م.

(16) عبدالله بن مسلم ابن قتية الدينوري (ت 276هـ) غريب الحديث، دعلمی کتابونو خپرنځای، بيروت، لبنان 1988م.

(17) عدنان محمد أمامة، التجديد في الفكر الإسلامي، لومړی چاپ 1424هـ، دابن الجوزي خپرنځای.

(18) عصام أحمد البشير، التجديد مفهومه وضوابطه وآفاقه في واقعنا المعاصر.

(19) عمر عبيد حسنة، الاجتهاد والتجديد سبيل الوراثة الحضارية، لومړی چاپ، 1998م، المكتب الاسلامی.

(20) محمد ابن أبي بكر ابن قيم الجوزية (751هـ)أعلام الموقعين عن رب العالمين، دالجيل خپرنځای، بيروت 1973م.

(21) محمد البهي، الفكر الإسلامي الحديث وصلته بالاستعمار الغربي، دوهبة كتابخانه، القاهرة.

(22) محمد الغزالي، كيف نفهم الإسلام، دنهضة مصر خپرنځای دچاپ، نشر اوتوزيع لپاره، القاهرة، څلورم چاپ 2006.

(23) محمد بن عبدالرؤوف المناوي، فيض القدير شرح الجامع الصغير، دعلمی كتابونو خپرنځای، ط:1، 1994م، بيروت، لبنان.

(24) محمد بن مكرم بن منظور الإفريقي (ت 711هـ)، لسان العرب، دبيروت خپرنځای، لومړی چاپ.

(25) محمد سعيد بسطامي، مفهوم تجديد الدين، لومړی چاپ، 1983م دالدعوة خپرنځای، كويت.

(26) محمد سعيد رمضان البوطي، الإسلام بين التجديد المطلوب والتبديل المرفوض.

(27) محمد شمس الحق العظيم آبادي، عون المعبود شرح سنن أبي داود.

(28) محمد ناصر الدين الألباني، سلسلة الأحاديث الصحيحة.

(29) ناصر بن عبدالسيد المطرزي، المغرب في ترتيب المعرب.

(30) يوسف القرضاوي، الفقه الإسلامي بين الأصالة والتجديد، دوهبة كتابخانه، 1999م لومړی چاپ.

(31) يوسف القرضاوي، تجديد الدين في ضوء السنة، دمركز بحوث السنة والسيرة، مجله۲گڼه، 1987م، دقطرپوهنتون. اوهمدا راز وګوره:

(32) يوسف القرضاوي، من أجل صحوة راشدة تجدد الدين وتنهض بالدنيا، دالشروق خپرنځای، القاهرة، 2001م.

(33) http://www.daawa-info.net/mosharakat.php?id=58

(34) http://www.alqlm.com/index.cfm?method=home.con&contentid=220

(35) http://www.alqlm.com/index.cfm?method=home.con&contentid=220

* * *

# اهمیت سند و اسناد در اسلام

پوهاند دکتور محمد اسماعیل لبیب بلخی
د سلام د لوړو زده کړو د مؤسسې علمي مرستیال او د شرعیاتو او قانون د پوهنځی استاذ
کابل - افغانستان

## پیش گفتار:

الحمد لله والصلاة والسلام علی رسول الله وعلی آله واصحابه ومن اهتدی بهداه وبعد:

بحث از سند واسناد درین برهۀ زمانی چرا ؟ نگارش پیرامون اسناد چه پیغامی با خود دارد ؟ وچه نیازی به این نوشتار دیده می شود ؟ پاسخ این سوالها انگیزۀ نگارش این مقاله است.

با یک نگرش دقیق در عرصۀ مطبوعات ویک نگاه عمیق در جرائد ومجلات وبا یک توجه ونظر به رسانه ها در می یابیم که هرکس هر چیزی را که می خواهد به رشتۀ تحریر آورده وهر چه دلش خواست می گوید وهرچه باهوا ومیلش برابر باشد رنگ تاریخی وجامۀ روایت را بر آن می پوشاند، کسی را تکفیر می کند وآن دیگر را مورد لعن ونفرین قرار می دهد وبرای ادعایش به روایتی استشهاد می کند وقولی دانشمندی را نقل می نماید ونظر مجتهدی را بازگو می دارد ودرحالیکه راه ثبوت آن روایت و آن قول ونظر فقط خود همین شخص است، اینجاست که اهمیت سند واسناد برملا می گردد وجایگاه آن مشخص می شود.

زیرا که صحت وسقم روایات مبتنی بر صحت وسقم اسناد است واعتماد برمتن واستدلال به آن به قوت سند وصحت اسناد آن تعلق دارد ازینرو خواستم بحثی را به این ارتباط به نگارش بگیرم واهمیت سند واسناد را برای اثبات مطالب وصحت نسبت قول گوینده روشن نموده جایگاه اسناد در اسلام را واضح نمایم.

## مبحث اول: سند در لغت

